وَقَٰتِلُوهُمْ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ كُلُّهُ لِلَّهِ فَإِنِ انتَهَوْا فَإِنَّ اللَّهَ بِمَا يَعْمَلُونَ بَصِيرٌ

اې مؤمنانو! له دې کافرانو سره تر هغه پورې وجنګېږئ چې فتنه پاتې نه شي او ټول دین د الله لپاره شي. بیا که هغوی له فتنې څخه لاس واخیسته، نو د هغو د عملونو لیدونکی الله دی.

[سُورَةُ الأنفَال : 39]

خراسان غږ 16 | شپاړسمه ګڼه / یک شنبه 15 جمادی الآخره 1444هـ

خراسان غږ پنځلس ورځنۍ مجله العزائم خپرندویه اداره یې وړاندې کوي

دیني، تاریخي، سیاسي، ادبي او خبري مجله

د مجلې له منځپانګې څخه

تفسير القرآن الكريم

د زیارتونو ، مندرونو او خانقاو امارت

له مېني ډک قامت

شیخ طاهر (سلمان خراساني) تقبله الله

خراسان د مرتدينو مقبره

بزدله ملحدين د مېړنيو مؤحدينو په پنجو کې د امت مېړنيو ځلميو تېره مياشت د نورو اتلوالو بريدونو ترڅنګ د ملحدو چينايانو پر وژلو د اسلامي امت سينې يخې کړې.
ياد بريد د کابل په زړه کې د چينايانو په هوټل دوه تنو زمريو انغماسيانو پيل کړ او له نږدې څو ساعته جګړې وروسته چې لسګونه چينايي ملحدين او د مرتدو طالب مليشو غړي يې د جهنم کندې ته ټيل وهلي و، پای ته ورسېد ....

تفصيل 25 صفحه کې

خلافت پېژندنه

نثر الؤلؤ والمرجان

د اصحابو د ژوند پلوشې ثمامه بن اثال رضی الله عنه

الفلاح والرشاد فی مسایل الجهاد

د طالبانو امیر المؤمنین که د کفارو ساتونکی مسکین

لنډه کیسه | جاسوس

یو وخت د ګورګورۍ سرسبزه سیمې ته د خپل امیر په امر راکډه شوم، له معنویته او ډکه زندګي مو د اطاعت په سیوري کې تېروله، او د توان برابر کار مو پر مخ وړ، د ماسپخین قضايي لمر د ګورګورۍ په شنو ورشوګانو او ګڼو دیرود ماذیګر د رنګینو زیرې کول، د اونو په منځ کې په یوه نرۍ لار روان وم او د طبعت له ننداړو مې خوند اخست، د یوې بلې اداري ملګری مې رأسره مخ شو، له تود روغبړ وروسته مې ترې وپوښتل: کموه خوا د ې مخه کړې ؟ ....

مؤسسة العزائم الإعلامية
يي وړاندې کوي
خراسان غږ مجله 16 مه گڼه
جمادى الآخرة 1444 هـ

سرلیک

دیني برخه

01 تفسير القرآن الكريم (سورة الأنفال)

09 نثر الؤلؤ والمرجان (پنځلسم درس)

13 الفلاح والرشاد في مسائل الجهاد (پنځلسم درس)

19 سوال ځواب

21 خلافت پیژندنه (2)

سیاسي برخه

27 طالبان او بادران يې د ډار په مرګوني کمر ولاړ دي

32 د طالبانو أمير المؤمنين که د چینایانو په شمول د ټولو کفارو ساتونکی مسکین

41 دزيارتونو مندرونو او خانقاو امارت

ادبي برخه

52 له میني ډک قامت
شيخ أبو طاهر (تقبله الله تعالى)

جاسوس
53



تاریخي برخه

56 د صحابياتو رضی الله عنهن په ژوند کې د ثبات کیسې!

59 ثمامة بن اثال رضی الله عنه

خبري برخه

62 انفوګرافیک

63 خراسان د مرتدینو مقبره

سُورَةُ الأنفال

تفسير القرأن الكريم

١٦

أعوذ بالله من الشيطن الرجيم

سورت انفال شروع و، مخکې آيتونو کې الله تعالی مومنانو ته د غزوه بدر د سترې فتحې عوامل ذکر کړل چې تاسې د ابو سفيان قافلې غنيمت غوښتو او د مشرکانو لښکر سره مو جنگ بد گاڼه، خو د الله تعالی د حکم تقاضا همدا وه چې مشرکانو سره ستاسې معرکه راغله او تاسې يې په تاريخي بريا ونازولئ، د کفر ملا ماته شوه، الله عزوجل ستاسې کومک لپاره ملائک راوليږل، ستاسې په زړونو يې اطمينان راوست، نو دا ټول د نصرت اسباب د الله تعالی لخوا وو لهذا تاسې د غنيمت مال په اړه خپلو کې اختلاف مه کوئ، اوس دې آيت کريمه کې الله عزوجل څلورم علت بيانوي چې مال غنيمت تقسيمولو حق د الله او د رسول صلی الله عليه وسلم دی، د نصرت نور اسباب به بيان شي چې الله تعالی په تاسې باندې باران راښکته کړو، د اطمينان لپاره خوب يې دربانديې راوستو، د شيطان وسوسې يې له تاسې لرې کړې، زړونه يې درته مضبوط کړل او ثابت قدمه يې کړئ. نو ځکه مال غنيمت کې اختلاف مه کوئ، کنه ستاسې مخکنې حالت خو دا و چې خوف دربانديې غالبه و، دښمن مو مجهز و، تعداد يې زيات و، ستاسې طرف ځمکه شگلنه وه، نو موانع د فتحې درڅخه الله تعالی لرې کړل او د نصرت اسباب درته درکړل نو اوس اختيار به هم يوازې د هغه وي.

إِذْ يُغَشِّيكُمُ النُّعَاسَ أَمَنَةً مِنْهُ وَيُنَزِّلُ عَلَيْكُمْ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً لِيُطَهِّرَكُمْ بِهِ وَيُذْهِبَ عَنْكُمْ رِجْزَ الشَّيْطَانِ وَلِيَرْبِطَ عَلَى قُلُوبِكُمْ وَيُثَبِّتَ بِهِ الْأَقْدَامَ (11)

ژباړه: کله چې الله تاسې پټ کړئ په خوب سره، لپاره د امن د هغه له طرف نه، او له اسمانه يې پر تاسې اوبه راورولې تر څو چې تاسې پاك کړي په هغه سره، او لرې کړي ستاسې څخه پليدي (وسوسه) د شيطان او چې کلک کړي زړونه ستاسې او ټينگ کړي پدې سره قدمونه ستاسې.

تفسير:

[إِذْ يُغَشِّيكُمُ النُّعَاسَ أَمَنَةً مِنْهُ]:

د الله تعالی دوه ستر ستر انعامات ذکر دي، اول انعام د خوب راتلل و او د دې نتيجه د کفارو رعب ختميدل او امن ترلاسه کول و.

[يُغَشِّيكُم]:

د يغشيکم فاعل الله عزوجل دی، همدا د نافع او مدينې علماؤ قول دی. مسلمانان چې کله د مشرکينو سره معرکې لپاره بدر ته راغلل نو د دښمن تعداد ډير زيات و او مجاهدين کم وو، دغه رنگ د دښمن اسباب او تجهيزات هم زيات وو، بشپړ چمتووالی يې درلود، خو مسلمانانو سره جنگي اسباب بيخي کمزوري وو، چې دې خبرې صحابه کرام انديښمن کړي وو، ځکه هغوی هم انسانان وو او دنيا دار الأسباب ده. نو ځکه الله عزوجل په مومنانو باندې خوب راوستلو. پدې خوب راوستلو کې دوه حکمتونه وو. [اول]: مومنانو د شپې خه برابر خوب وکړو، دغه استراحت سره سهار جنگ لپاره قوي شو. [دويم]: دغه خوب د مومنانو زړونو څخه د کفارو ډار ختم کړو، چې سهار رابيدار شو بيخي ډاډه وو.

د دغه خوب راتللو هم دوه وختونه ښودل شوي دي: اول قول وايي هغه شپې پرمهال په مسلمانانو خوب راغلی و چې سبا ته جنگ و. دويم: د جنگ پرمهال په مجاهدينو باندې خوب راغلی و.

[النُّعَاس]:

ابْنُ أَبِي حَاتِم د امام قتاده څخه نقل کوي:[النُّعَاسُ فِي الرَّأْسِ، وَالنَّوْمُ فِي الْقَلْبِ]. نعاس هغه خوب ته وايي چې په سر کې وي او نَوْم هغه خوب چې زړه کې وي. يعني نعاس سپک خوب ته وايي يوازې د خوب ټالی ته وايي، سر دروند شي او انسان نه سر لاړ شي، او نَوْم کلک خوب ته وايي. او دا نعاس يعني لږ خوب په بدر کې هم و او احد کې هم راغلی و.

الله تَعَالَ فرمايي: {ثُمَّ أَنزلَ عَلَيْكُمْ مِنْ بَعْدِ الْغَمِّ أَمَنَةً نُعَاسًا يَغْشَى طَائِفَةً مِنْكُمْ وَطَائِفَةٌ قَدْ أَهَمَّتْهُمْ أَنْفُسُهُمْ} [آلِ عِمْرَانَ: 154] .

ژباړه: له دې کړاؤ نه وروسته بيا هم الله له تاسې څخه پر ځينو کسانو يو داسې د ډاډينې غوندې حالت راوست چې هغوی پرېښانی يوړل؛ خو يوه بله ډله چې هغې ته يوازې همدا خپلې گټې ارزښت درلود.

سورت آل عمران کې د خوب راتلو په اړه د يوې ډلې يادونه شوې ځکه احد ته منافقين هم وتلي ول. هغوی باندې د الله له طرفه دغه سکينه نه وه نازله شوې او بدر په ورځ خالص مومنان وو نو ځکه دلته يې ټولو لپاره خوب ذکر کړو.

ابوطلحه رضي الله عنه وايي د احد په ورځ په ما باندې خوب راغلی و، تر دې چې زما د لاس څخه توره غورځيده او ما راخستله. [صحيح البخاري]

علي رضي الله عنه وايي: مَا كَانَ فِينَا فَارِسٌ يَوْمَ بَدْرٍ غَيْرُ الْمِقْدَادِ " وَلَقَدْ رَأَيْتُنَا وَمَا فِينَا إِلا نَائِمٌ، إِلَّا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَحْتَ شَجَرَةٍ يُصَلِّي، وَيَبْكِي، حَتَّى أَصْبَحَ " [مسند أحمد إسناده صحيح]

ژباړه: د بدر په ورځ مونږ کې د مقداد پرته بل شهسوار نه و، ما چې وکتل مونږ ټول ويده وو، د نبي عليه السلام پرته، چې هغه د يوې ونې لاندې تر سهاره مونځ کاوه او ژړل يې.

د علي رضي الله عنه قول څخه

دا هم معلومه شوه چې دا خوب د شپې هم راغلی و. سبحان الله، کله چې جهادي رهبران د شپې په تیارو کې الله عزوجل ته زارۍ کوي نو د ورځې په رڼا کې یې رب داسې کومکونه کوي چې آسمان ځخه ورته ملائک، باران او د سکون او اطمینان ټول اسباب رالیږي. عزتمندو ورونو! دښمن باندې د بریا راز الله عزوجل سره تعلق جوړول دي.

سفیان ثوري د عَبْدِ اللهِ بن مَسْعُودٍ، رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ځخه روایت کوي: النُّعَاسُ فِي الْقِتَالِ أَمَنَةٌ مِنَ اللَّهِ، وَفِي الصَّلَاةِ مِنَ الشَّيْطَانِ. [أخرجه ابن أبي حاتم وسنده حسن] ژباړه: د جنګ پرمهال خوب د الله له طرفه امن وي او په مونځ کې د شیطان له طرفه وي.

د جنګ په دغه طوفاني ځپو کې هم الله رب العالمین د خپلې لارې مجاهدینو باندې خوب راولي، چې له بره بمبار شروع وي، له ښکته دښمن په زغروال ټانګونو سپور راروان وي، خو مجاهدین په سنگر کې بې غمه ویده وي، یوازې د پیرې والا ملګری ویښ وي. لکه خراسان کې دا حالات ډیر زیات ول، د مامند په سیمه چې لس میاشتې امریکایانو سره جګړه وشوه، دغه لس میاشتې دې امریکایانو به د جیټ، ډرون، چورلکو، بي دوه پنځوس، چارمشینه او نور ډول ډول اوسپنې به یې آسمان ته خیژولې وې، خو لاندې سمڅو کې به مجاهدین بې غمه لګیا وو د الله عبادتونه به یې کول، د خوب وخت کې به یې خوب او پخلي وخت کې به یې پخلی کاوه، دا د الله تعالی لخوا کومک و، کنه په دغه بمبار کې څو دقیقې هم انسان نشي تینګیدای، په تنګه سمڅه کې مجاهد ناست وي او بره نه بمبار وي او مخامخ هدف ته ګوري چې رانژدې شي نو شروع به پرې کوم، بس د خپل ژوند آخري شیبې شماري او د الله تعالی د ملاقات، په جنت کې د خوږو ملګرو مجلس او د ابدي بریا په تصوراتو کې ډوب وي. الله عزوجل دې زمونږ ستاسې آخري خاتمې هم په ایمان او مقبول شهادت کړي. آمین.

نو هغه خوب چې مونځ کې سړي ته راځي د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه قول مطابق دا د شیطان له طرفه دی، ځکه شیطان ما او تا د عبادت ځخه غافله کوي، او جګړې پرمهال خوب انسان د عبادت یعنې جهاد لپاره تکړه کوي. نو یو خوب د عبادت مانع او بل یې معین دی، ځکه یو مذموم او بل محمود دی. دغه شان په درس کې ویده کیدل، مونځ کې ویده کیدل یا نورو نیکیو په کارو کې ویده کیدل د غفلت نښه ده. خو جهاد کې هم د غفلت خوب مذموم دی، داسې نه چې پیرې باندې مجاهد موظف شي او هغه غافله شي او ویده شي نو دغه صورت کې د ټول تاوان مسؤول همدا پیره دار دی.

دلائل النبوة د امام بیهقي کې دا روایت هم راغلی چې د بدر په ورځ سهار کې نبي علیه السلام باندې لږ خوب راغی خو دغه روایت ضعیف دی.

[أَمَنَةً مِنْهُ]:

أمنة علت دی، مفعول له دی، او مِنْهُ کې ضمیر الله عزوجل ته راجع دی، همدا د اکثرو قول دی. ابْنُ أَبِي شَيْبَةَ، عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، ابْنُ جَرِيرٍ، ابْنُ الْمُنْذِرِ، ابْنُ أَبِي حَاتِمٍ د امام مجاهد ځخه د[أَمَنَةً مِنْهُ] معنا نقل کوي: [أَمْنًا مِنَ اللَّهِ]. د الله له طرفه امن. او ابْنُ أَبِي حَاتِمٍ د امام قَتَادَةَ ځخه نقل کوي. [رَحْمَةً مِنْهُ، أَمَنَةً مِنَ الْعَدُوِّ]. د الله له طرفه رحمت او د دښمن ځخه امن لپاره (خوب راوستو).

امن او أمنة کې مفسرینو دا فرق بیان کړی، چې امن هغه اطمینان ته وایي چې خوف او اسباب د خوف دواړه زائله شي او امنة هغه اطمینان ته وایي چې خوف زائله شي خو اسباب د خوف باقي وي، لکه مسلمان مطمین شول خو د مشرکینو لښکر یې مخې ته ولاړ و ځکه دلته أمنة ذکر شو.

[وَيُنَزِّلُ عَلَيْكُمْ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً]:

عبد الله بن عَبَّاس رضي الله عنهما وایي: نبي علیه السلام چې بدر ته ورسیدو نو اوبو باندې مشرکینو قبضه کړې وه، مسلمانان کمزوري وو او شیطان هم زړونو کې وسوسې اچولې، تاسې دا ګمان کوئ چې تاسې د الله ولیان یاست او تاسې کې د الله رسول دی، او حال دا چې تاسې ځخه مشرکینو اوبه نیولې دي، او تاسې جنابت په حال کې مونځونه کوئ، نو الله تعالی په هغوی باندې تیز باران راوورو، نو مسلمانانو اوبه وڅښلې او ځانونه یې پاک کړل، او الله تعالی ترې د شیطان وسوسې لرې کړې. او د باران ځخه وروسته شګې کلکې شوې، خلک او څاروي پرې ګرځیدل، الله تعالی د خپل نبي او مومنانو کومک په زر ملائکو باندې وکړو، جبرائیل علیه السلام سره په یو طرف ۵۰۰ ملائک وو او میکائیل علیه السلام سره هم بل طرف ته ۵۰۰ ملائک وو. [تفسیر الطبري وهو مرسل]

زجاج هم ویلي چې کفار د بدر په ورځ اوبو ته مخکې شوي وو. او دغه وخت د تیمم حکم هم نه و، ځکه تیمم وروسته پنځم کال کې مشروع شو، نو مونځ لپاره اودس وغیره کې زیات تکلیف و. الله تعالی باران وکړو، په مادي کومک سره یې معنوي کومک وکړو، ځکه باطن او معنویات په جنګ کې مهم رول لري.

حافظ ابن کثیر وایي مشهوره دا ده چې مسلمانان د مشرکینو ځخه مخکې د اوبو چینې ته رسیدلي وو، هلته یې دمه وکړه، حباب بن المنذر رضي الله عنه د نبي علیه السلام ځخه پوښتنه وکړه چې دا د الله رب العالمین وحي ده چې مونږ دا ځای د لښکر لپاره وټاکو او که نه جنګي پلان موافق مو دا ځای خوښ کړی ؟ نبي علیه السلام ورته وویل: د جنګي مصلحت په بناء مو دلته دمه وکړه. نو هغه مشوره ورکړه چې اې د الله نبي علیه السلام مخکې به لاړ شو، او آخري چینې سره به دمه وکړو، او نورې اوبه به وچې کړو نو مونږ سره به اوبه وي او مشرکینو سره به اوبه نه وي. نو نبي علیه السلام همداسې وکړل. [سیرة ابن هشام ودلائل النبوة وهو مرسل]

فتح القدیر هم پدې رد کړی دی چې مشرکینو اوبه نه وې نیولې، بلکې اوبه مسلمانانو سره وي، او کومو روایتونو کې چې داسې راغلي چې مشرکین اوبو ته مخکې شوي وو، نو هغه د ابن عباس رضي الله عنهما ځخه ثابت نه دي، ځکه هغه کې عوفي راوي ضعیف دی.

نو سیرت د ابن سحاق په استناد اکثره مفسرینو دې ته ترجیح ورکړې چې مسلمانانو اول اوبه قبضه کړې وې، او باران سره یوازې د دوی ځمکه کلکه شوه، شګلنه ځمکه وه، نو اوبو سره کلکه شوه، تګ راتګ پکې آسان شو.

[لِيُطَهِّرَكُمْ بِهِ]:

حافظ ابن کثیر وایي: [مِنْ حَدَثٍ أَصْغَرَ أَوْ أَكْبَرَ، وَهُوَ تَطْهِيرُ الظَّاهِرِ] د وړوکي بې اودسی او غټې ځخه پاکي مراد ده، او دا د ظاهر پاکوالی شو. او [وَيُذْهِبَ عَنْكُمْ رِجْزَ الشَّيْطَانِ] ځخه مراد د وسوسې او بدو سوچونو ځخه پاکوالی مراد دی، او دا باطني پاکوالی دی.

لکه ځنګه چې جنتیانو په اړه الله عزوجل فرمایي: {عَالِيَهُمْ ثِيَابُ سُنْدُسٍ خُضْرٌ وَإِسْتَبْرَقٌ وَحُلُّوا أَسَاوِرَ مِنْ فِضَّةٍ} ژباړه: د هغوی د پاسه به دنریو وریښمو شنه جامه وي او د پیړو وریښمو [جامې به یې لاندې وي] او هغو ته به د سپینو زرو بنګړي واچول شي. وایي دا د ظاهر ډول شو. {وَسَقَاهُمْ رَبُّهُمْ شَرَابًا طَهُورًا} [الْإِنْسَانِ: 21] ژباړه: او دهغو رب به په هغو باندې پاک شراب وڅښي. دا د باطن ډول او پاکوالی شو، چې د کینې، حسد او بغض ځخه د زړونو پاکوالی مراد دی.

حافظ ابن کثیر دې مثال کې هم ډیر کمال او بلاغت دی، د مجاهدینو پاکوالي مثال یې د جنتیانو پاکوالي سره ورکړی دی. ځکه مجاهدینو کې چې اخلاص او د منهج سموالی موجود وي نو اکثر جنتیان وي، ان شاء الله.

بیا دا باران د خوب ځخه وروسته و او که مخکې ؟ نو دې کې هم دوه اقوال دي، څوک وایي مخکې و او بعضې مفسرین وایي وروسته و. ابْنُ أَبِي شَيْبَةَ ، عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ ، ابْنُ جَرِيرٍ ، ابْنُ الْمُنْذِرِ او ابْنُ أَبِي حَاتِمٍ د امام مجاهد ځخه نقل کړي دي: [الْمَطَرُ أَنْزَلَهُ اللَّهُ عَلَيْهِمْ قَبْلَ النُّعَاسِ فَأَطْفَأَ بِالْمَطَرِ الْغُبَارَ، وَالْتَبَدَتْ بِهِ الْأَرْضُ، وَطَابَتْ بِهِ أَنْفُسُهُمْ، وَثَبَتَتْ بِهِ أَقْدَامُهُمْ.] ژباړه: الله عزوجل باران د خوب ځخه مخکې راښکته کړو، پدې سره یې دوړه ختمه کړه، ځمکه ورسره جوخته شوه، نفسونه ورسره برابر شو، او قدمونه ورسره مضبوط شو. [تفسیر الطبري وسنده حسن]

خو قرآن کریم کې باران وروسته ذکر دی. والله أعلم.

[وَيُذْهِبَ عَنْكُمْ رِجْزَ الشَّيْطَانِ]:

ابْنُ أَبِي شَيْبَةَ، ابْنُ الْمُنْذِرِ، ابْنُ أَبِي حاتم او أَبو الشَّيْخِ د امام مُجَاهد څخه معنا نقل کوي: [رِجْزَ الشَّيْطانِ قَالَ: وَسْوَسَتُهُ]. ژباړه: د شيطان وسوسې ته وايي.

مخکې يادونه وشوه، ظاهري او باطني پاکوالی مراد دی. اودسونه هم وشول، غسلونه هم وشول، او د شيطان وسوسې او ډار هم د منځه لاړ.

[وَلِيَرْبِطَ عَلَى قُلُوبِكُمْ]:

د الله عزوجل نعمتونو له امله زړونه کلک شول، بعضې صحابه وو باندې چې کوم کيفيت راغلی و، ګويا که دوی مرګ ته راوستل شوي دي نو هغه ختم شو.

ابْنُ أَبِي حَاتِم د امام قَتَادَة څخه نقل کوي: [وَلِيَرْبِطَ عَلى قُلُوبِكُمْ قَالَ: بِالصَّبْرِ] ژباړه: زړونه په صبر سره کلک کړي.

چې بيا د دښمن پر وړاندې د جنګ ډګر کې ثابت قدمه پاتې شي. ځکه زړه چې مضبوط وي، اندامونه ټول د هغه اطاعت کوي، او که زړه وښويد نو بيا اندامونه حتما کمزوري کوي، دې وجې نه نبي عليه السلام به دا دعا غوښتله: يا مقلب القلوب ثبت قلبي على دينک.

[وَيُثَبِّتَ بِهِ الْأَقْدَامَ]:

دا ضمير د [بِهِ] راجع دی د باران اوبو ته، نو باران چې وشو ظاهرا هم شګلنه ځمکه کلکه شوه، قدم پکې مضبوط کيښودل کېدو او باطني او معنوي ثبات هم مسلمانانو ته حاصل شو. او يا دا ضمير ربط القلب يعني د زړونو کلکوالي ته راجع دی.

حافظ ابن کثير وايي د زړونو مضبوطول باطني زړورتيا ده او د قدمونو مضبوطول ظاهري زړورتيا ده. [تفسير ابن کثير]

مجاهدينو ته چې اکمال ترتيب جوړ وي، خوراک څښاک دوايي زخمي مهمات وغيره يې برابر وي نو بيا جنګ کې ډېره آساني وي. [دې آيت کريمه کې د الأنفال لله والرسول لپاره پنځم علت دی چې الله تعالی په ملائکو سره ستاسې کومک وکړو، تاسې يې مضبوط کړئ، بريا يې دروبښله نو اوس مال غنيمت کې اختلاف مه کوئ]

إِذْ يُوحِي رَبُّكَ إِلَى الْمَلَائِكَةِ أَنِّي مَعَكُمْ فَثَبِّتُوا الَّذِينَ آمَنُوا سَأُلْقِي فِي قُلُوبِ الَّذِينَ كَفَرُوا الرُّعْبَ فَاضْرِبُوا فَوْقَ الْأَعْنَاقِ وَاضْرِبُوا مِنْهُمْ كُلَّ بَنَانٍ (12)

ژباړه: کله چې وحي کوله ستا رب ملايکو ته چې زه تاسې سره يم نو کلک کړئ هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی، زر دی چې وابه چوم په زړونو د کافرانو کې ويره، نو ووهئ د پاسه د څټونو او ووهئ د دوی څخه هر بند د ګوتو.

تفسير:
[إِذْ يُوحِي رَبُّكَ إِلَى الْمَلَائِكَةِ أَنِّي مَعَكُمْ]:

دا يو پټ نعمت و چې مومنانو ته معلوم نه و خو الله تعالی راښکاره کړو، دې لپاره چې مومنان د الله تعالی شکر وباسي، هغه نعمت دا و چې کوم ملائک الله تعالی د مومنانو کومک لپاره راليږلي وو هغوی ته يې وحي کوله چې مومنان ثابت قدمه کړئ.

[أَنِّي مَعَكُمْ] بِالنَّصْرِ وَالْمَعُونَةِ. [فتح القدير] ژباړه: زه تاسې سره د کومک او نصرت په اعتبار سره يم. معلومه شوه چې ملائک هم مستقل نه دي بلکې د الله تعالی کومک ته اړتيا لري، محتاج دي نو د دوی څخه مرسته غوښتل حرام دي.

[فَثَبِّتُوا الَّذِينَ آمَنُوا]:

د مومنانو ثابتول او مضبوطولو درې طريقې وې، تثبيت قولي، تثبيت عملي، تثبيت الهامي. په قول سره تثبيت دا و چې مومنانو ته يې د فتحې زيری ورکړو. په عمل سره تثبيت دا و چې جګړې ته حاضر شوي وو. او دريم دا چې مومنانو زړونو ته يې د خير خبرې وراچولې، الهام يې ورته کاوه.

مفسرينو نورې معناګانې هم کړې دي، امام طبري راوړې دي:

ابْنُ إِسْحَاقَ وايي، ثبتوا معنا ده: [وَآزِرُوهُمْ] د دوی کومک يې وکړو. څوک وايي: [قَاتِلُوا مَعَهُمْ] د دوی سره يوځای جهاد يې وکړو. چا ويلي دي: [كَثِّرُوا سَوَادَهُمْ]. د دوی ډله يې ډېره کړه. يا بله معنا امام طبري دا کړې چې ملائکو به يو بل ته ويل چې مشرکان وايي: کچيرې مسلمانانو مونږ باندې حمله وکړه نو مونږ خو تښتو، نو مسلمانانو به هم بيا دا خبره بدرګه کوله او نفسونه [زړونه] به يې قوي کېدل.

[سَأُلْقِي فِي قُلُوبِ الَّذِينَ كَفَرُوا الرُّعْبَ]:

دا د أني معکم تفسير دی، چې زه تاسې سره يم نو هغه داسې چې کفارو زړونو کې به رعب واچوم.

حافظ ابن کثير معنا کوي: [سَأُلْقِي الرُّعْبَ وَالْمَذَلَّةَ وَالصَّغَارَ عَلَى مَنْ خَالَفَ أَمْرِي، وَكَذَّبَ رَسُولِي]. ژباړه: زر دی چې زه به ډار، ذلت او سپکاوی په هغه چا واچوم چې زما د امر خلاف کوي او زما د رسول تکذيب کوي.

جَابِر بْن عَبْدِ اللَّه رضي الله عنه وايي چې نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي: " نُصِرْتُ بِالرُّعْبِ مَسِيرَةَ شَهْرٍ، " أخرجه البخاري ومسلم. ژباړه: د يو مياشت مزل په مسافه [لرې دښمن] باندې رعب سره زما کومک کړی شوی دی.

او دا رعب به د نبي عليه السلام په دښمنانو باندې راتلو، د هغه نه وروسته به خلفاء راشدينو څخه دښمن سخت په لړزان و، علت يې دا دی چې کله يو کس د الله څخه وډار شي نو الله تعالی د ده رعب په دښمن اچوي، خو کله چې د الله ويره د انسان په زړه کې نه وي، نو د ده دښمن هم له ده څخه نه ډارېږي.

[فَاضْرِبُوا فَوْقَ الْأَعْنَاقِ وَاضْرِبُوا مِنْهُمْ كُلَّ بَنَانٍ]:

دا خطاب ملائکو ته هم دی او مومنانو ته هم دی، ځکه دوی اوس د يو لښکر په شان دي. حافظ ابن کثير وايي:

اضْرِبُوا الْهَامَ فَفَلِّقُوهَا، وَاحْتَزُّوا الرِّقَابَ فَقَطِّعُوهَا، وَقَطِّعُوا الْأَطْرَافَ مِنْهُمْ، وَهِيَ أَيْدِيهِمْ وَأَرْجُلِهِمْ. [تفسير ابن کثير] ژباړه: سرونه يې ووهئ دوه ټوټې يې کړئ (يا زخمي يې کړئ)، څټونه يې په تورو ووهئ او ترې غوڅ يې کړئ، لاسونه خپې ترې پرې کړئ.

[فوق الأعناق] په معنا کې د مفسرينو اختلاف دی. امام عکرمه وايي: [مَعْنَاهُ اضربوا الرؤوس] سرونه يې ووهئ. [أخرجه ابن أبي حاتم وسنده حسن]

ضَحَّاك او عَطِيَّة الْعَوْفِي وايي: [عَلَى الْأَعْنَاقِ، وَهِيَ الرِّقَابُ]. په څټونو يې ووهئ. [د ضحاک قول ابن أبي حاتم په حسن سند او د عطيه قول امام طبري په حسن سند سره ذکر کړی] او ددې قول تاييد د الله تعالی پدې قول کې دی: {فَإِذَا لَقِيتُمُ الَّذِينَ كَفَرُوا فَضَرْبَ الرِّقَابِ حَتَّى إِذَا أَثْخَنْتُمُوهُمْ فَشُدُّوا الْوَثَاقَ} [مُحَمَّدٍ: 4] ژباړه: نو کله چې له دغو کافرانو سره تاسې مخامخ شئ نو لومړی کار د څټونو وهل دي، تر دې پورې چې کله تاسې هغوې کې ښه وينه تويه کړئ نو بنديان کلك وتړئ.

مصنف ابن أبي شيبه ج ١٢/ ٣٩٠ کې د قَاسِم څخه روايت دی، هغه وايي چې رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي: "إِنِّي لَمْ أُبْعَثْ لِأُعَذِّبَ بِعَذَابِ اللَّهِ، إِنَّمَا بُعِثْتُ بِضَرْبِ الرِّقَابِ وَشَدِّ الْوَثَاقِ". [وسنده مرسل] ژباړه: زه دې لپاره نه يم رالېږل شوی چې د الله په عذاب سره عذاب ورکړم، يقينا زه د څټونو وهلو او بندي تړلو سره رالېږل شوی يم.

امام طبري هم دا معنا غوره کړې چې د څټونو وهل او د سرونو څول.

ربيع بن انس وايي چې خلکو د بدر په مړو کې د ملائکو لخوا وژل شوي کسان پيژندل، هغوی په څټونو او د ګوتو بندونو باندې وهل شوي وو، داسې نښې وې لکه اوور باندې چې سوځول شوي وي.

[وَاضْرِبُوا مِنْهُمْ كُلَّ بَنَانٍ]:

الله عزوجل کفارو ته سخت غصه دی چې دا کفار د جسم په هر بند او هر جوړ باندې ووهئ. او دا بندونه او جوړونه يې ځکه خاص کړل چې پدې باندې جنګ کيږي نو دغه ترې ووهئ ترڅو د جنګ څخه ولويږي. په لاسونه جنګ کيږي او په خپو تيښته کيږي، نو دواړه يې ووهئ.

امام ابْنُ جَرِير الطبري وايي: [مَعْنَاهُ: وَاضْرِبُوهُ أَيُّهَا الْمُؤْمِنُونَ مِنْ عَدُوِّكُمْ كُلَّ طَرَفٍ ومَفْصِلٍ مِنْ أَطْرَافِ أَيْدِيهِمْ وَأَرْجُلِهِمْ]. ژباړه: د دې معنا دا ده چې ای مومنانو تاسې خپل دښمن په هر جوړ او د لاسونو او خپو هر بند باندې ووهئ.

"الْبَنَانُ" د [بَنَانَة] جمع ده، عبد الله بن عباس رضي الله عنهما وايي: [الْأَطْرَافَ] لاسونه او خپو ته وايي. [أخرجه الطبري بسند ثابت] همدا قول ضَحَّاك او ابْنُ جُرَيْج

ځخه هم نقل دی. [أخرجه الطبري بأسناد ضعيفة]

امام عِكْرِمَة، عَطِيَّةُ الْعَوْفِي او الضَّحَّاك وايي: [كُلُّ مِفْصَلٍ] هر جوړ ته وايي. [د عکرمه قول تفسير طبري کې حسن سند سره او عطيه قول ابن أبي حاتم حسن سند سره راوړی او ضحاک قول تفسير طبري ضعيف سند سره راوړی دی]

امام أوْزاعي وايي: [اضْرِبْ مِنْهُ الْوَجْهَ وَالْعَيْنَ، وَارْمِهِ بِشِهَابٍ مِنْ نَارٍ، فَإِذَا أَخَذْتَهُ حَرُمَ ذَلِكَ كُلُّهُ عَلَيْكَ]. ژباړه: په مخ او سترګه باندې ووهه، او د اور په لمبو يې وولهء، خو کله يې چې اسير کړې نو دا ټول کارونه درباندې حرام دي. يعني بيا به يې بندي کوې. [دا قول ابن أبي حاتم په حسن سند سره راوړی]

د اور په لمبو به يې ځنګه وولو چې هغوی د بيزونو، ټانکونو او طيارو منځ کې پټ ناست وي او سر هم نه راښکاره کوي ؟ نو دې لپاره به اعداد کوو، تياری به کوو، اسباب به جوړوو، ثقيله اسلحه، توغندي او ډرون وغيره يې علاج دی، بايد مونږ تاسي مسلمانان ورته لاس رسی ولرو.

[اوس دې آيت کريمه کې د کفارو د قتل او اسارت سبب ذکر کوي، چې هغه د الله او د هغه د رسول عليه السلام دښمني ده]

ذَلِكَ بِأَنَّهُمْ شَاقُّوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَمَنْ يُشَاقِقِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَإِنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ (13)

ژباړه: دا پدې وجه چې دوی خلاف کړی دی د الله تعالى او د رسول د هغه نه او چا چې خلاف وکړو د الله تعالى او رسول د هغه نه، نو يقينا الله تعالى سخت عذاب ورکونکی دی.

تفسير:

[ذَلِكَ بِأَنَّهُمْ شَاقُّوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ]:

الله عزوجل قاعده بيانوي چې غزوه بدر کومه تصادفي پيښه نه وه، چې ناڅاپه مسلمانان غالبه شول، نه، بلکې دا د الله تعالى سنت دی.

[ذَلِكَ]: اشاره ده رعب او ضرب ته، د بدر په ميدان کې د کفارو تاريخي شکست دوه سببونه وو. يو شرک دی. الله تعالى فرمايي: {بِمَا أَشْرَكُوا بِاللَّهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهِ سُلْطَانًا} [آل عمران:151] پدې وجه چې دوی الله تعالى سره هغه څوک شريکان جوړ کړي چې الله تعالى پرې دليل ندی نازل کړی. او دويم سبب د الله تعالى او د محمد رسول الله عليه السلام د منهج مخالفت دی چې دا پدې آيت کريمه کې ذکر دی او سورت حشر کې هم ذکر دی.

[مُشَاقَّة] د شقاق ځخه ده، شِقَاق ويل کيږي: أَنْ يَصِيرَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنَ الْخَصْمَيْنِ فِي شِقٍّ. [فتح القدير] ژباړه: دوه مخالفين په جدا جدا اړخ کې واقع شي. باب مفاعله ده، صدور د جانبينو غواړي، نو لارې يې جدا جدا شي. ځکه حافظ ابن کثير وايي: [خَالَفُوهُمَا فَسَارُوا فِي شِقٍّ، وَتَرَكُوا الشَّرْعَ وَالْإِيمَانَ بِهِ وَاتِّبَاعَهُ فِي شِقٍّ وَهُوَ مَأْخُوذٌ أَيْضًا مِنْ شَقِّ الْعَصَا، وَهُوَ جَعْلُهَا فِرْقَتَيْنِ] ژباړه: هغوی د الله او رسول خلاف کړی و نو دوی په يو اړخ کې شو او شريعت، ايمان او اتباع يې بل اړخ کې پريښوده. او دا (شقاق لفظ) د شق العصا يعني امسا دوه ټکري کولو ځخه اخستل شوی دی.

[وَمَنْ يُشَاقِقِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَإِنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ]:

دلته عموم حکم بيانوي، چې هر چا د مکې قريشو په څير د الله او د هغه د رسول د منهج او تګلارې خلاف وکړو نو الله به ورته سخت عذاب ورکړي. او علماء وايي دلته هر هغه مشرک او مبتدع انسان مراد دی چې د الله تعالى قانون مقابل کې بل قانون او نظام جوړ کړي. دغه وضعي قانون جوړونکي، مشرعين او د الله قانون تغيرونکي خلک طواغيت دي او تابعداران يې مشرکين دي. الله تعالى فرمايي:

إِنَّ الَّذِينَ يُحَادُّونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ كُبِتُوا كَمَا كُبِتَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ وَقَدْ أَنْزَلْنَا آيَاتٍ بَيِّنَاتٍ وَلِلْكَافِرِينَ عَذَابٌ مُهِينٌ. [سُورَةُ المجَادلة : 5]

ژباړه: کوم کسان چې له الله او د هغه له پيغمبر ځخه مخالفت کوي، هغوی به په داسې شان ذليل او خوار کړای شي لکه چې له دوی ځخه مخکې خلک ذليل او خوار کړای شوي دي. موږ روښانه ځرګند ايتونه نازل کړي دي، او د کافرانو لپاره د ذلت عذاب دی.

امام طبري د دې آيت په تفسير کې وايي: يَقُولُ تَعَالَى ذِكْرُهُ: إِنَّ الَّذِينَ يُخَالِفُونَ اللَّهَ فِي حُدُودِهِ وَفَرَائِضِهِ، فَيَجْعَلُونَ حُدُودًا غَيْرَ حُدُودِهِ، وَذَلِكَ هُوَ الْمُحَادَّةُ لِلَّهِ وَلِرَسُولِهِ. ژباړه: الله تعالى فرمايي: هغه کسان چې د الله تعالى په حدودو او احکامو کې د هغه مخالفت کوي او د هغه د حدودو پرته نور حدود ټاکي نو دا د الله او د هغه د رسول مخالفت دی.

شيخ الاسلام ابن تيميه وايي: "ومن بدّل شرع الأنبياء وابتدع شرعا فشرعه باطل لا يجوز اتباعه كما قال تعالى: (أَمْ لَهُمْ شُرَكَاءُ شَرَعُوا لَهُمْ مِنَ الدِّينِ مَا لَمْ يَأْذَنْ بِهِ اللَّهُ) (سورة الشورى: من الآية 21) ولهذا كفّر اليهود والنصارى لأنهم تمسكوا بشرع مبدل منسوخ " [مجموع الفتاوى 35ص 365]

ژباړه: او چا چې د انبياؤ شريعت بدل کړ او نوی شريعت يې جوړ کړ نو د دې شريعت او قانون باطل دی، تابعداري يې جائز نه ده. لکه ځنګه چې الله جل جلاله فرمايي: (آيا دوی لپاره داسې شريکان شته چې دوی لپاره يې د دين داسې احکام جوړ کړي وي چې الله جل جلاله پرې امر نه وي کړی). دې وجې نه يې يهود او نصارى کافر وګرځول چې هغوی منسوخ او بدل دين راټينګ کړی و.

نن سبا که دغه آيتونه ځيل ماحول کې تطبيق کړو نو ډير ګوندونه چې ځان ته مسلمانان وايي خو پدې قباحت کې اخته دي. نعوذ بالله. لکه پاکستان حکومت چې په رضا باندې زنا پکې جايز ده، همجنس بازي پکې روا ده او داسې نور د الله تعالى قوانين يې تغير کړي دي، محرمات يې حلال ګرځولي دي. بل مثال يې طالبان دي چې د بين الملل کفري سازمان غړيتوب لپاره کفارو ته زارۍ کوي، سره د دې چې دغه سازمان مکمل کفري دی، قوانين يې کفري دي، پريکړه به د کفارو اکثريت ته ورول کيږي، په وخت د تنازع کې به رجع د ملګرو ملتونو قانون ته کيږي، هيڅ يو قانون به د ملګرو ملتونو دستور سره په ټکر کې نه وي، د اسرائيل په څير دولتونه به په رسمياتو باندې وپيژندل شي، د عقيدې آزادي، قوميت او وطنيت، حقوق بشر په نوم کفري قوانينو منل، د زنانه او مردانه برابريدل، د کافر او مسلمان برابريدل او داسې نور د الله عزوجل د دين قوانينو صريح مخالفت به لازميږي. نو اوس تاسي اووایاست چې يهود نصاراو منسوخ دين رانيولی دی، هغوی دې کافر وي، او طالبانو، پاکستان حکومت، سعودي حکومت او داسې نورو تش په نوم مسلمانانو سيکولري او کفري قوانين رانيولي دي دوی به مسلمانان پاتې شي؟؟ بلکې دوی کافر ګرځول ډير مناسبه ده. نعوذ بالله.

الله تعالى دغه خلکو ته اخطار ورکړی چې رب العالمين به درته سخت عذاب درکړي، ځکه تاسې د الله د نظام خلاف کوئ، بل قانون جوړوئ، نو زما د قدرت او رانيولو ځخه نشئ خلاصيدای، چيرته به لاړ شئ، نه په ځمکه او نه په آسمان پټيدای شئ او نه د دې دواړو ځخه بهر تښتيدای شئ نو ولې د الله نظام پرضد ودريږئ.

[دې آيت کريمه کې هم د شرک آخري انجام ذکر کيږي، مشرکانو ته به الله تعالى اووايي چې د خپلو کړو بدله وڅکئ]

ذَلِكُمْ فَذُوقُوهُ وَأَنَّ لِلْكَافِرِينَ عَذَابَ النَّارِ (14)

ژباړه: دا عذاب ستاسې (دی) نو وڅکئ دا او يقينا کافرانو لره عذاب د اور دی.

تفسير:

ذلکم مبتدا ده، خبر يې مخکې آيت کې ذکر شو چې العقاب و، نو عبارت به داسې شي [ذلکم العذاب فذوقوه] ژباړه: دا هغه عذاب دی نو تاسې يې وڅکئ.

دا خطاب کفارو ته دی، چې د دنيا عذاب مو وڅکئ او پدې پوهه شئ چې آخرت کې هم د کافرانو لپاره د جهنم اوور دی. د [أَنَّ] ځخه وروسته [وَاعْلَمُوا] لفظ مقدر دی.

او دا ذوق لفظ يې تهکمًا او استهزاءًا راوړی، ځکه ذوق اکثره د خه شيانو څکلو په اړه استعماليږي، نو دوی ته يې هم دغه لفظ راوړو چې دا جهنم عذاب وڅکئ.

[پدې دوه آيتونو کې د مجاهدينو لپاره اول جنګي قانون ذکر کوي، چې دې ته قانون د ثبات ويل کيږي، حاصل يې دا دی چې د جنګ په ډګر کې د الله دښمنانو سره مخامخ شوئ نو بيا به استقامت کوئ او په هيڅ صورت به ميدان نه پريږدئ ځکه د جنګ ميدان ځخه تيښته ګناه کبيره ده]

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا لَقِيتُمُ الَّذِينَ كَفَرُوا زَحْفًا فَلَا تُوَلُّوهُمُ الْأَدْبَارَ

(15)

ژباړه: ای مومنانو کله چې مخامخ شئ تاسې د کافرانو سره په وخت د جنګ کې نو مه راړوئ هغوی ته شاګانې.

تفسیر:
[يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا لَقِيتُمُ الَّذِينَ كَفَرُوا زَحْفًا]:

[الزَّحْفُ: الدُّنُوُّ قَلِيلًا قَلِيلًا] ژباړه: زحف لږ لږ نږدې کیدو ته وایي. قرار قرار نږدې کیدو ته وایي. یا [زحف الصبي] دې ته ویل کیږي چې ماشوم خاپوړې کوي. نو معنا شوه [تَقَارَبْتُمْ مِنْهُمْ وَدَنَوْتُمْ إِلَيْهِمْ] تاسې کفارو ته نږدې شوئ.

لښکر لپاره هم د زحف لفظ ځکه استعمالیږي چې د کثرت د افرادو او اسبابو د وجې ډیر په قرار حرکت کوي.

د زَحْفًا نصب علت دا دی چې د فعل محذوف مصدر دی. [تَزْحَفُونَ زَحْفًا] یا دا د مومنانو څخه حال واقع شوی. [حَالَ كَوْنِكُمْ زَاحِفِينَ إِلَى الْكُفَّارِ] کفارو ته نږدې کیدو پرمهال. یا دا د کفارو څخه حال دی، یا هم د دواړو ډلو څخه حال دی. [مُتَزَاحِفَيْنِ] یو بل سره نږدې کیدونکي.

[فَلَا تُوَلُّوهُمُ الْأَدْبَارَ]:

حافظ ابن کثیر وایي: معنا دا ده: [فَلا تُوَلُّوهُمُ الْأَدْبَارَ أَيْ تَفِرُّوا وَتَتْرُكُوا أَصْحَابَكُمْ]. ژباړه: شاګانې مه راړوئ، چې وتښتئ او خپل ملګري پریږدئ.

دې آیت کریمه کې عموم دی، دا د ټول امت مسلمه لپاره قانون دی، کومو علماؤ چې دا آیت د بدر غزا پورې خاص کړی، د هغوی قول کمزوری دی.

[الأدبار] ابْنُ عَطِيَّةَ وایي: [الْأَدْبَارُ] د [دُبُر] جمع ده. دا لفظ الله عزوجل ځکه راوړو چې ددې کار قباحت بیان کړي، او تښتیدونکي بدي بیانه کړي، یو نوعه پیغور دي، چې څنګه د الله دښمن ته دبر اړوې؟ مجاهدین د الله په لاره کې ددښمن سره په دوه حالاتو کې مخ کیږي.

اول حالت: چې دښمن د مجاهدینو دوچنده وي او یا د دوه چنده څخه کم وي، نو په دې حالت کې په مجاهدینو ثبات او کلک پاتې کیدل لازم دي او تیښته کول حرام دي مګر که د جنګ لپاره چل او هنر جوړوونکي وي چې دښمن ته شا کړي او بیرته پرې ناڅاپه راوګرځي او حمله پرې وکړي او یا د خپلې ډلې نه یواځې پاتې شوي وي نو خپل ځان هغې یا بلې ډلې ته رسوي د امداد حاصلولو لپاره نو دا دوه حالات ترینه مستثنی دي او دا د عامو فقهاؤ قول دی [شرح السیر الکبیر 1/89 ـ والأم 4/169]

دلیل یې همدا آیت شو. او په حدیث د ابوهریره رضي الله عنه کې راځي چې نبي علیه السلام فرمایلي: [اجتَنِبوا السَّبْعَ المُوبِقاتِ ... والتوَلِّي يومَ الزَّحفِ]. متفق علیه. ژباړه : د اوو هلاکونکو ګناهونو څخه ځان وساتئ... چې یو د هغې څخه د میدان جنګ نه تښتیدل دي.

دویم حالت : چې دښمن د مجاهدینو د دوچندوالي نه هم زیات وي: نو که د مجاهدینو غالب ګمان دا وو که ثابت قدم پاتې شي نو کامیابي به ورته حاصل شي نو کلک پاتې کیدل پرې لازم دي ولو که دښمن هر څومره زیات وي د هغه دلائلو له امله چې ثابت قدمي واجبوي. ځکه ثابت قدمۍ کې د أمت لپاره مصلحت دی نو کلک پاتې کیدل پکار دي.

او که چیرته د مجاهدینو غالب ګمان دا و چې که ثابت قدم پاتې شي نو ټول هلاکیږي نو په دې حالت کې ورله تیښته جائز ده. دلیل پرې آیت د تخفیف دی. خو که چیرته مجاهدین په عزیمت عمل وکړي او په همدې حالت کې هم ثابت قدم پاتې شي ددې لپاره چې شهادت ورته حاصل شي نو دا هم جائز ده او ډیر کرت الله ورته غلبه هم ورکوي ځکه الله تعالی فرمایي:

[كَمْ مِنْ فِئَةٍ قَلِيلَةٍ غَلَبَتْ فِئَةً كَثِيرَةً بِإِذْنِ اللَّهِ وَاللَّهُ مَعَ الصَّابِرِينَ [سورة البقرة: 249]

ژباړه: ډیر کرت یو وړوکی ټولګی د مجاهدینو، د کافرانو په غټه ډله غالب شوی دی د الله په حکم سره او الله د صبر کوونکو سره دی.

تنبیه: دا دوه حالته چې مخکې ذکر شو نو دا په جهاد الطلب او اقدامي جهاد کې مراد دي او هر چې دفاعي جهاد دی نو په هغی کې تیښته کول په یو صورت کې هم جائز نه ده.

ابن القیم رحمه الله فرمایي: فقتال الدّفع أوسع من قتال الطّلب وأعم وجوبا وَلِهَذَا يتَعَيَّن على كل أحد ويجاهد فِيهِ العَبْد بِإِذن سَيّده وَبِدُون إِذْنه وَالْولد بِدُونِ إِذن أَبَوَيْهِ والغريم بِغَيْر إِذن غَرِيمه وَهَذَا كجهاد الْمُسلمين يَوْم أحد وَالْخَنْدَق وَلَا يشْترَط فِي هَذَا النَّوْع من الْجِهَاد أَن يكون الْعَدو ضعْفي الْمُسلمين فَمَا دون فَإِنَّهُم كَانُوا يَوْم أحد وَالْخَنْدَق أَضْعَاف الْمُسلمين فَكَانَ الْجِهَاد وَاجِبا عَلَيْهِم لِأَنَّهُ حِينَئِذٍ جِهَاد ضَرُورَة وَدفع لَا جِهَاد اخْتِيَار وَلِهَذَا تُبَاح فِيهِ صَلَاة الْخَوْف بِحَسب الْحَال فِي هَذَا النَّوْع. [الفروسية: 1/188]

ژباړه: دفاعي جهاد ډیر پراخه دی د اقدامي جهاد نه او ډیر عام دی په اعتبار د وجوب سره له دې وجې نه په هر چا فرض عین دی او غلام به د خپل مالک په اجازه او پرته له اجازې جهاد کوي، او بچې به د مور او پلار اجازې پرته جهاد کوي او قرضداری به د قرض خاوند اجازې پرته جهاد کوي او دا جهاد داسې فرض دی لکه په مسلمانانو چې د أحد او خندق جهاد فرض و او په دې ډول جهاد [فرض عین جهاد] کې د دښمن دوچند والی او یا ددې نه کم والی شرط نه دی ځکه چې دښمنان په جنګ أحد او خندق کې د مسلمانانو نه په ډیرو چندونو زیات وو خو جهاد په هغوی واجب وو ځکه چې په دغه وخت کې دفاعي جهاد و او اختیاري جهاد نه و ددې وجې نه په دې قسم جهاد کې صلاة الخوف [د ویرې لمونځ] جائز دی چې د خپل حال مطابق به یې ادا کوي.

بل صورت دا دی چې یو کس یا یوه ډله بیخي جهاد پریږدي او په کور کیني نو دا هم سخته ګناه ګاره ده.

دا قانون ډیر مبارک قانون دی، ځکه که مجاهد د دښمن څخه وتښتي نو اسلامي نظام خطونه ماتیږي، شریعت او تمکین د منځه ځي، اسلامي محاکم، ادارات ختمیږي، تورسرې بې عزته کیږي ځکه الله تعالی مجاهدینو ته د ثابت قدمۍ امر کړی دی. نور خو مرګ ژوند د الله تعالی په لاس کې دي، د مرګ له ډاره تیښته خو جایز نه ده، او پدې کې انسان باندې د خپل حد او توان څخه زیات بوج نه لازمیږي ځکه مجاهد قتال په نیت سنګر ته تللی دی، او مقابل کې یې مشرک، مرتد، باغي او خارجي راغلی دی، هغه خپل باطل مسلک او منهج لپاره سر ورکوي نو هغه مومن چې الله تعالی یې کومکي او ملاتړی دی، هغه به څنګه تیښته کوي؟ خیر که ظاهرا د دې مومن اسباب کمزوري وي خو دا د ظاهري اسبابو سره سره په معنویاتو جنګ کوي. دا له مقابل لوري څخه په هر صورت کې ممتاز ده، که غازي شو خو فتحه یې په نصیب شوه او که شهید شو جنتونه یې په نصیب کیږي.

[دا آیت کریمه د ماقبل حکم تتمه ده، د هغه حکم مربوط خبره ده، چې څوک د جنګ میدان څخه وتښتید نو الله به ورته آخرت کې سخت عذاب ورکړي او د دغه وعید څخه مستثنی خلک به هم ذکر شي]

وَمَنْ يُوَلِّهِمْ يَوْمَئِذٍ دُبُرَهُ إِلَّا مُتَحَرِّفًا لِقِتَالٍ أَوْ مُتَحَيِّزًا إِلَى فِئَةٍ فَقَدْ بَاءَ بِغَضَبٍ مِنَ اللَّهِ وَمَأْوَاهُ جَهَنَّمُ وَبِئْسَ الْمَصِيرُ (16)

ژباړه: او چا چې واړوله دوی ته پدغه ورځ شاه خپله مګر که چل جوړونکی وي د جنګ لپاره یا یوځای کیدونکی وي د ډلې خپلې سره نو یقینا اخته شو په غضب د الله تعالی له طرفه او ځای د ورتلو د ده جهنم دی او بد ځای د ورګرځیدو دی (جهنم).

تفسیر:
[وَمَنْ يُوَلِّهِمْ يَوْمَئِذ دُبُرَهُ إِلَّا مُتَحَرِّفًا لِقِتَالٍ أَوْ مُتَحَيِّزًا إِلَى فِئَةٍ]:

دوه قسمه خلک د الله تعالی دغه عذاب څخه مستثنا شوي دي، یو هغه کس چې جنګي تکتیک له مخې وتښتي او بیرته دښمن باندې برید وکړي، دویم هغه مجاهد چې یوازې پاتې شوی وي او هغه بیرته خپلو ملګرو خواته ورځي.

سَعِيد بْن جُبَيْر او سُدِّي وایي: يَفِرُّ بَيْنَ يَدَيْ قِرْنِهِ مَكِيدَةً لِيُرِيَهُ أَنَّهُ قَدْ خَافَ مِنْهُ فَيَتْبَعُهُ ثُمَّ يَكِرُّ عَلَيْهِ فَيَقْتُلُهُ فَلَا بَأْسَ عَلَيْهِ. ژباړه: د خپل مقابل څخه د چل جوړونې لپاره وتښتي، هغه ته داسې فکر ورکړي چې دا د هغه څخه وډار شو، نو هغه ورپسې شي بیا په هغه باندې راتاو شي او ویې وژني نو دې کې څه خبره نشته. [د سعید قول ابن أبي حاتم او د سدي قول طبري په حسن سند سره راوړی دی]

[أَوْ مُتَحَيِّزاً إِلى فِئَةٍ] د یوځای نه

تښتي او د مسلمانانو بلې ډلې ته پناه وړي، چې دا د هغوی ملاتړ وکړي او هغوی د ده ملاتړ وکړي. یا د مجاهدینو امیر یو ګروپ او ډله ولیګي، چې هلته د دښمن تعقیب او برید لاندې راشي نو دوی بیرته امیر خواته راوتښتي، یا د امن ځای ته شي یا تمکین ته شي نو دا هم دې رخصت کې داخل دي.

ابن سیرین وایي کله چې ابو عبید د فارس مجوسیانو سره جګړه وکړه او هغوی ته یې زیانونه ورواړول خو د هغوی تعداد بیخي زیات و نو ابو عبید هم ووژل شو، عمر رضي الله عنه وفرمایل: لو تحیز إلي لكنت لَهُ فِئَةً. ژباړه: کچیرې ماته یې پناه راوړې وای نو زه د هغه لپاره ډله وم. [أخرجه ابن المبارك في كتاب الجهاد]

عثمان النهدي هم وایي کله چې ابو عبید ووژل شو عمر رضي الله عنه وویل: أَيُّهَا النَّاسُ أَنَا فِئَتُكُمْ. ژباړه: ای خلکو زه ستاسې ډله یم. [زما په لور پناه راوړلو کې ګناه نشته] أخرجه ابن المبارك في كتاب الجهاد وسنده صحيح.

خو کله چې دا تیښته د دغه دوه علتونو په بناء نه وي نو بیا هلاکونکې ګناه ده.

علامه شوکاني وایي: وَذَهَبَ جُمْهُورُ الْعُلَمَاءِ إِلَى أَنَّ هَذِهِ الْآيَةَ مُحْكَمَةٌ عَامَّةٌ غَيْرُ خَاصَّةٍ، وَأَنَّ الْفِرَارَ مِنَ الزَّحْفِ مُحَرَّمٌ. [فتح القدير] ژباړه: او اکثره علماؤ دې قول ته تګ کړی چې دا آیت محکم دی، عام دی، کومې خاصې پیښې مربوط نه دی. او د لښکرو مخامخ کیدو پرمهال تیښته حرامه ده.

د [مُتَحَرِّفًا] او [متحيزا] نصب علت اسْتِثْنَاء ده، عبارت به داسې شي: وَمَنْ يُوَلِّهِمْ يَوْمَئِذٍ دُبُرَهُ إِلَّا رَجُلًا مِنْهُمْ مُتَحَرِّفًا أَوْ مُتَحَيِّزًا. او حال هم واقع کیدای شي.

[فَقَدْ بَاءَ بِغَضَبٍ مِنَ اللَّهِ وَمَأْوَاهُ جَهَنَّمُ وَبِئْسَ الْمَصِيرُ]:

دا یې اوس جزا شوه.

[فَقَدْ بَاءَ] معنا حافظ ابن کثیر کوي: رَجَعَ بِغَضَبٍ مِنَ اللهِ. د الله په غضب سره راوګرځیدو. [وَمَأْوَاهُ] أي: مَصِيرُهُ وَمُنْقَلَبُهُ يَوْمَ مِيعَادِهِ جَهَنَّمُ وَبِئْسَ الْمَصِيرُ. ژباړه: د قیامت په ورځ د هغه د ورتګ ځای او د ورګرځیدو ځای جهنم دی او هغه ډیر بد ځای دی.

ظاهره کې ځومره وړه خبره ښکاري خو دغه کس که توبه ونه باسي الله تعالی یې جهنم ته اچوي، ځکه ده د اسلام سرحد او خط ساتلو کې کمزوري وکړه. دغه رنګ د هغه خلکو به څه حال وي چې بیخي جهاد نه کوي، او هغه خلک چې پیل یې د جهاد په نوم کړی و خو څه موده پس یې خپل منهج او دریځ تغیر کړ او د مادیاتو اسیران شول. د بین الملل چوکی له امله شریعت تغییروي، او د سیکولرانو په څیر نعرې وهي چې اسلام د سلامتیا، سولې او ورورولۍ دین دی، کافر او مرتد سره هم سوله، روغه او دیپلوماتیک چینلونو څخه خبره پکار ده. أعاذنا الله منها.

خو د شیطان دې وسوسې له ډاره به څوک جهاد نه پریږدي چې هسې نه سبا چیرې د دښمن د مقابلې څخه وتښتم او د الله په غضب به اخته شم! راځئ د همدې شبهې نبوي جواب به واورو. بشير بن خصاصية رضي الله عنه وایي، رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د بیعت لپاره راغلم، فَاشْتَرَطَ عَلَيَّ شَهَادَةَ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، وَأَنْ أُقِيمَ الصَّلَاةَ، وَأَنْ أُؤَدِّيَ الزَّكَاةَ، وَأَنْ أَحُجَّ حَجَّةَ الْإِسْلَامِ، وَأَنْ أَصُومَ شَهْرَ رَمَضَانَ، وَأَنْ أُجَاهِدَ فِي سَبِيلِ اللهِ. فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ، أَمَّا اثْنَتَان ، فَوَاللهِ مَا أُطِيقُهُمَا: الْجِهَادُ وَالصَّدَقَةُ، فَإِنَّهُمْ زَعَمُوا أَنَّهُ مَنْ وَلَّى الدُّبُرَ، فَقَدْ بَاءَ بِغَضَبٍ مِنَ اللهِ، فَأَخَافُ إِنْ حَضَرْتُ تِلْكَ جَشِعَتْ نَفْسِي، وَكَرِهَتِ الْمَوْتَ، وَالصَّدَقَةُ فَوَاللهِ مَا لِي إِلَّا غُنَيْمَةٌ وَعَشْرُ ذَوْدٍ، هُنَّ رَسَلُ أَهْلِي وَحَمُولَتُهُمْ. قَالَ: فَقَبَضَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدَهُ، ثُمَّ حَرَّكَ يَدَهُ، ثُمَّ قَالَ: " فَلَا جِهَادَ وَلَا صَدَقَةَ، فَبِمَ تَدْخُلُ الْجَنَّةَ إِذًا؟ " قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ، أَنَا أُبَايِعُكَ. قَالَ: فَبَايَعْتُهُ عَلَيْهِنَّ كُلِّهِنَّ. [مسند أحمد وسنده صحيح]

ژباړه: هغه راباندې دا شرط ولګاو چې د کلمې ګواهي به ورکوی، او دا خبره چې زکات به ورکوم، د اسلام حج به کوم، د رمضان میاشتې روژې به نیسم، او د الله په لار کې به جهاد کوم، ما ورته وویل: اې د الله رسوله! د دې دوه کارونو، زکات او جهاد وس نه لرم، ځکه دا خلک وایي چا چې جهاد کې شا راواړله نو د الله په غضب اخته شو، زه ډاریږم کچیرې جنګ ته حاضر شوم، او زړه مې ویریږي، مرګ بد وګڼي، او هر چې زکات دی، نو والله ما سره فقط یو څو ګډې بیزې او اوښان دي، هغه زما د کور خوراک (شیدې) او د بار وړلو وسائل دي، وایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم لاس راټول کړو، بیا یې وخځوو، او ویې فرمایل: چې جهاد او زکات پکې نه وي، نو بیا به جنت ته څنګه داخلیږې، وایي: ما ورته وویل: اې د الله رسوله بیعت درسره کوم نو په ټولو خبرو مې ورسره بیعت وکړو.

ګورئ مسلمانانو! نبي علیه السلام فرمایي چې جهاد او زکات پکې نه وي نو بیا جنت ته څنګه داخلیږې ؟ آیا اوس به هم مونږ تاسې ته د جهاد څخه وروسته پاتې کیدو کوم شرعي جواز وي ؟ آیا هغه علماء دې حدیث کې فکر نه کوي چې هغوی د ځان لپاره د بعضې مطلقو احادیثو څخه استدلالات کوي نو دلته خو صراحت راغی چې جهاد او زکات پرته جنت ته ننوتل څنګه کیږي ؟ نو معلومه شوه چې جهاد د اسلام او ایمان مهم رکن او پایه ده.

انسان ضعیف دی، کچیرې دغه شان پیښې سره مخ شو، نو الله تعالی ته دې توبه وباسي، الله یې ببښي. ان شاء الله.

زید رضي الله عنه وایي ما د رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څخه واوریدل، هغه فرمایل: " مَنْ قَالَ: أَسْتَغْفِرُ اللَّهَ الَّذِي لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الْحَيَّ الْقَيُّومَ، وَأَتُوبُ إِلَيْهِ، غُفِرَ لَهُ، وَإِنْ كَانَ قَدْ فَرَّ مِنَ الزَّحْفِ. سنن أبي داود وسنده صحيح. ژباړه: چا چې دا کلمات وویل: أَسْتَغْفِرُ اللَّهَ الَّذِي لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الْحَيَّ الْقَيُّومَ، وَأَتُوبُ إِلَيْهِ. زه د هغه ذات څخه ببښنه غواړم چې د هغه پرته بل معبود نشته، همیشه ژوندی او د کائناتو نظام چلونکی دی او هغه ته توبه وباسم، هغه ته به ببښنه وکړی شي اګر که دا د جنګ څخه تښتیدلی وي.

دا آیت کریمه ډیر د ویرې آیت دی، چې الله تعالی ځومره په کلکه د هغه خلکو بدي بیانه کړې ده چې هغوی د جنګ میدان څخه وتښتي. اول یې وفرمایل: [فَلَا تُوَلُّوهُمُ الْأَدْبَارَ] شاګانې مه راړوئ، بیا فرمایي: [وَمَنْ يُوَلِّهِمْ يَوْمَئِذٍ دُبُرَهُ] که چا شاګانې راواړولې، بیا فرمایي [فَقَدْ بَاءَ بِغَضَبٍ مِنَ اللَّهِ وَمَأْوَاهُ جَهَنَّمُ وَبِئْسَ الْمَصِيرُ] د الله په غضب هم اخته کیږي او ځای یې جهنم ګرځي. نو که مونږ تاسې سوچ وکړو چې طالبانو په څیر د جهاد معطل کونکو لپاره به ځومره کلک وعیدات وي، د کفارو ساتونکو او اسلامي نظام په پار مبارزه کونکو مجاهدینو سره د جګړې کونکو به څه حال وي؟ قیامت په ورځ به د هغوی ځای کوم یو وي؟

[دې آیت کریمه کې شپږم علت د الأنفال لله والرسول دی، ځکه چې الله تعالی فرمایي مشرکان خو تاسې ونه وژل بلکې حقیقت کې الله تعالی ووژل نو ځکه مال غنیمت کې اختیار به هم یوازې د الله او رسول علیه السلام وي]

فَلَمْ تَقْتُلُوهُمْ وَلَكِنَّ اللَّهَ قَتَلَهُمْ وَمَا رَمَيْتَ إِذْ رَمَيْتَ وَلَكِنَّ اللَّهَ رَمَى وَلِيُبْلِيَ الْمُؤْمِنِينَ مِنْهُ بَلَاءً حَسَنًا إِنَّ اللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ (17)

ژباړه: نو تاسې هغوی ونه وژل، بلکې الله هغوی ووژل، او نه دې رسولې تا کاڼې د کافرانو سترګو ته کله چې تا وویشتل د لاس څخه بلکې الله تعالی ورسول (او دا کار یې وکړو) د دې لپاره چې ورکړي مومنانو ته ډالۍ ښایسته یقینا الله تعالی هر څه اوري او په هر څه پوهه دی.

تفسیر:

[فَلَمْ تَقْتُلُوهُمْ وَلَكِنَّ اللَّهَ قَتَلَهُمْ]:

[فَلَمْ تَقْتُلُوهُمْ] دا فاء د شرط مقدر جواب لپاره راغلې ده.

الله عزوجل دا خبره بیانوي چې هغه د بندګانو د افعالو خالق دی او د هغوی د ټولو غوره کړنو نسبت هم یوازې هغه ته کیږي، دا ځکه:

اول: الله رب العالمین مومنانو ته د مشرکانو وژلو توفیق ورکړی و.

دویم: الله تعالی اکثره مشرکان د ملائکو په واسطه وژلي وو، مخکې احادیثو کې تیر شو چې صحابي به لا ګزار نه و کړی چې د مشرک سر به ووهل شو.

نو معنا دا شوه ستاسې قوت سره الله دوی ونه وهل بلکې هماغه ذات پرې برلاسي کړئ، لکه الله سورت آل عمران کې فرمایي: وَلَقَدْ نَصَرَكُمُ اللَّهُ بِبَدْرٍ وَأَنْتُمْ أَذِلَّةٌ [آلِ عمران: 123] ژباړه: او یقینا د بدر په جګړه کښې الله له تاسې سره مرسته کړې وه په داسې حال کښې چې تاسې کمزوري وئ. دا درس الله تعالی مونږ تاسې ته

راکوي چې بريا په ډېروالي نه ده، بلکې نصرت د الله تعالى لخوا دی لکه سورت البقرة کې الله تعالى فرمايي: كَمْ مِنْ فِئَةٍ قَلِيلَةٍ غَلَبَتْ فِئَةً كَثِيرَةً بِإِذْنِ اللَّهِ وَاللَّهُ مَعَ الصَّابِرِينَ [سورة الْبَقَرَةِ: 249] ژباړه: ډېر ځله داسې شويدي چې يو وړوکى ټولګى د الله په امر پريوې لويې ډلې بر لاس شوېدى الله دصبر کوونکو ملګرى دی.

[وَمَا رَمَيْتَ إِذْ رَمَيْتَ وَلَكِنَّ اللَّهَ رَمَى]:

اوس الله عزوجل دويم نعمت او د نبي عليه السلام معجزه ذکر کوي، عبد الله بن عباس رضي الله عنهما فرمايي: د بدر په ورځ رسول الله صلى الله عليه وسلم خپل لاسونه پورته کړل او ويې ويل: «يَا رَبِّ إِنْ تُهْلِكْ هَذِهِ الْعِصَابَةَ فَلَنْ تُعْبَدَ فِي الْأَرْضِ أَبَدًا» فَقَالَ لَهُ جِبْرِيلُ خُذْ قَبْضَةً مِنَ التُّرَابِ فَارْمِ بِهَا فِي وُجُوهِهِمْ فَأَخَذَ قَبْضَةً مِنَ التُّرَابِ فَرَمَى بِهَا فِي وُجُوهِهِمْ فَمَا مِنَ الْمُشْرِكِينَ أَحَدٌ إِلَّا أَصَابَ عَيْنَيْهِ وَمِنْخَرَيْهِ وَفَمَهُ تُرَابٌ مِنْ تِلْكَ الْقَبْضَةِ فَوَلَّوْا مُدْبِرِينَ. [تفسير الطبري] ژباړه: اى ربه کچيرې ته دا ټولګى هلاک کړې نو ځمکه کې به هيڅکله ستا عبادت ونه کړى شي. جبرائيل ورته وويل: يو موټې خاورې راواخله او د هغوى مخونو ته يې ګزار کړه نو هغه يو موټې خاورې راواخستلې او د هغوى د مخونو په لور يې ګزار کړې. نو هر کافر سترګو او پوزو او خوله ته د دغه موټې خاورو څخه ورسيدلې او هغوى شاګانې راواړولې او وتښتيدل.

[وَمَا رَمَيْتَ إِذْ رَمَيْتَ وَلَكِنَّ اللَّهَ رَمَى] دلته د کاڼو ويشتلو اثبات او نفي دواړه شوي دي، اثبات د ظاهري ويشتلو دی ځکه نبي عليه السلام ويشتلي وو خو نفي د هغه کار ده چې د بنده توان څخه بهر دی، چې هغه د ټولو کفارو خولو، پوزو او سترګو ته دا خاورې رسول و. [وَلَكِنَّ اللَّهَ رَمَى] معنا دا شوه چې دا هر کافر ته الله ورسول، الله تعالى هغوى ذليله کړل، الله تعالى ستا نصرت وکړ، او عربانو کې دا مشهوره ده: [رَمَى اللَّهُ لَكَ] معنا [أَعَانَكَ وَأَظْفَرَكَ وَصَنَعَ لَكَ] الله دې ستا کومک وکړي، تا دې برلاسى کړي او تا دې غوره کړي. مُحَمَّدُ بْنُ يَزِيدَ الْمُبَرِّدُ وايي: الْمَعْنَى: وَمَا رَمَيْتَ بِقُوَّتِكَ إِذْ رَمَيْتَ وَلَكِنَّكَ بِقُوَّةِ اللَّهِ رَمَيْتَ. ژباړه: تا خپل قوت سره دا ويشتل نه و کړي بلکې د الله په قوت سره دې کړي و.

زَمَخْشَرِيّ په تفسير کشاف کې وايي: فَأَثْبَتَ الرَّمْيَةَ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِأَنَّ صُورَتَهَا وُجِدَتْ مِنْهُ، وَنَفَاهَا عَنْهُ لِأَنَّ أَثَرَهَا الَّذِي لَا يُطِيقُهُ الْبَشَرُ فِعْلُ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ، فَكَأَنَّ اللَّهَ فَاعِلُ الرَّمْيَةِ عَلَى الْحَقِيقَةِ، وَكَأَنَّهَا لَمْ تُوجَدْ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَصْلًا. ژباړه: نبي عليه السلام لپاره يې ويشتل ثابت کړل ځکه د دې صورت د هغه عليه السلام څخه صادر شوى و، او له هغه څخه يې نفي کړو ځکه دغه اثر [نتيجه] چې د بشر په توان کې نه و، د الله تعالى فعل و ګويا که حقيقت کې فاعل د ويشتلو الله تعالى دی او ګويا که نبي عليه السلام بيخي دا ګزار کړي نه دي.

[وَلِيُبْلِيَ الْمُؤْمِنِينَ مِنْهُ بَلَاءً حَسَنًا]:

دلته الْبَلَاءُ معنا ده: النِّعْمَةُ. وَلِيُنْعِمَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ إِنْعَامًا جَمِيلًا. دې لپاره چې په مومنانو باندې ښايسته انعام وکړي. دا لام د محذوف پورې متعلق دی: وَلِلْإِنْعَامِ عَلَيْهِمْ بِنِعَمِهِ الْجَمِيلَةِ فَعَلَ ذَلِكَ لَا لِغَيْرِهِ. يا دا واو په مخکې علت مقدر باندې عطف دی، عبارت به داسې شي: وَلَكِنَّ اللَّهَ رَمَى لِيَمْحَقَ الْكَافِرِينَ وَلِيُبْلِيَ الْمُؤْمِنِينَ مِنْهُ بَلَاءً حَسَنًا. محمد بن اسحاق په سند سره د عُرْوَةَ بن الزُّبَيْرِ څخه نقل کوي: {وَلِيُبْلِيَ الْمُؤْمِنِينَ مِنْهُ بَلاءً حَسَنًا} أَيْ: لِيُعَرِّفَ الْمُؤْمِنِينَ مِنْ نِعْمَتِهِ عَلَيْهِمْ، مِنْ إِظْهَارِهِمْ عَلَى عَدُوِّهِمْ مَعَ كَثْرَةِ عَدُوِّهِمْ، وَقِلَّةِ عَدَدِهِمْ، لِيَعْرِفُوا بِذَلِكَ حَقَّهُ، وَيَشْكُرُوا بِذَلِكَ نِعْمَتَهُ. [أخرجه ابن أبي حاتم بسند حسن] ژباړه: دې لپاره چې مومنانو ته خپل نعمت وروښايي، د دښمن زياتوالي او د دوى د کموالي باوجود په دښمن باندې غلبه ورکولو سره، دې لپاره چې د هغه حق وپيژني او د هغه د نعمت شکر ادا کړي.

[إِنَّ اللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ]:

يقينا الله تعالى [سَمِيعُ الدُّعَاءِ] د دعاګانو اوريدونکى دی. [عَلِيمٌ بِأَحْوَالِهِمْ أم عَلِيمٌ بِمَنْ يَسْتَحِقُّ النَّصْرَ وَالْغَلَبَ] د دوى په احوالو پوهه دی يا د نصرت او غلبې مستحق پيژني.

[دا ايت کريمه هم مخکني آيت پورې مربوط دی، او مومنانو ته پکې خطاب دی چې الله عزوجل د کافرانو چل کمزورى کوي]

ذَلِكُمْ وَأَنَّ اللَّهَ مُوهِنُ كَيْدِ الْكَافِرِينَ (18)

ژباړه: دا کار خو داسې وشو او يقينا الله تعالى کمزورى کوي چل د کافرانو.

تفسير:

حافظ ابن کثير وايي: دا د الله تعالى لخوا بل زيرى دی چې اوس خو الله تعالى تاسې ته بريا درکړه خو مستقبل کې بيا هم د کفارو چل کمزورى کونکى دی، دوى به ذليله کوي او د دوى ټولې طرحې او چلونه به تباه کيږي. ولله الحمد والمنة.

فتح القدير کې ليکي: ذَلِكُمْ، اشاره ده [بَلَاءً حَسَنًا] ته، او دا په محل د رفع کې دی ځکه مبتدا محذوف لپاره خبر دی. عبارت به داسې شي: الْغَرَضُ ذلِكُمْ.

[وَأَنَّ اللَّهَ مُوهِنُ كَيْدِ الْكَافِرِينَ]:

معنا دا چې مخکنيو آيتونو کې چې کوم تفصيلي احوال د غزوه بدر تير شو نو دې کې هدف د مومنانو په انعام سره نازول او د کفارو سپکول او د دوى د پلانونو شنډول مقصود و.

او دا هم ويل شوي چې مشار اليه پدې کې قتل او رمي ده، يعني د کفارو وژل او په خاورو ويشتل د مومنانو لپاره انعام او د کفارو توهين و. دوى خو اراده درلوده چې اوس به مسلمانان تس او نس کړو، عربانو ته به وښايو چې څوک زمونږ کاروانونو ته په کږه سترګه ګوري نو مونږ ورسره داسې عمل کوو. فرعوني دعوه يې وکړه خو بل خوا رحمان ذات هم خپل تدبير په کار اچولى و چې دوى يې د نړيوالو لپاره عبرت وګرځول. لکه د سابقه کابل ادارې مشر اشرف غني مرتد هم دا دعوه کړې وه چې داعش (!) مې ختم کړ خو الله عزوجل هغه ختم کړ، چې د شپې ځاى يې هم نه درلود او خپلو بادارانو ورته د سپي په نظر هم نه کتل. نن سبا طالبان دا دعوه کوي چې داعش (!) ختم شو، خو بيرته ورته الله عزوجل زمري راپاڅوي او د دوى تر ټولو پرامن ساحو کې ورته مرګوني ګزارونه ورکړي چې د بادارانو يې هم چيغې ووځي نو بيا غرور يې خاورو سره خاورې شي. ولله الحمد. د پاکستان سفارت، روسيا سفارت او کابل کې د چينايانو هوټل باندې مبارک عمليات خو بيخي طالبان او باداران يې وارخطا کړل. او يوه ورځ به داسې هم راشي چې د اشرف غني په څير د طالبانو ټغر به هم ورټول وي او اسلامي خلافت مجاهدين به ډير قوي او پياوړي وي. ان شاء الله.

[دې آيت کريمه کې کفارو ته رټنه، تهديد او تخويف دی، رب العالمين خپل قانون ورته بيان کړ چې زه خامخا د خپلو بندګانو نصرت کوم، پام چې بيا داسې ارادې ونه کړئ او مومنانو ته پکې بشارت دی]

إِنْ تَسْتَفْتِحُوا فَقَدْ جَاءَكُمُ الْفَتْحُ وَإِنْ تَنْتَهُوا فَهُوَ خَيْرٌ لَكُمْ وَإِنْ تَعُودُوا نَعُدْ وَلَنْ تُغْنِيَ عَنْكُمْ فِئَتُكُمْ شَيْئًا وَلَوْ كَثُرَتْ وَأَنَّ اللَّهَ مَعَ الْمُؤْمِنِينَ (19)

ژباړه: که تاسې پريکړه غوښته نو يقينا راغله تاسې ته پريکړه، او که منع شوئ (د کفر څخه) نو دا تاسې لپاره غوره ده، او که راوګرځيدئ (جنګ ته) نو مونږ به هم راوګرځو (د مومنانو مرستې ته) او هيڅکله نشي لرى کولاى ستاسې څخه ستاسې ډله هيڅ تکليف اګر که ډيره وي، او يقينا الله تعالى د مومنانو سره دی.

تفسير:

[إِنْ تَسْتَفْتِحُوا فَقَدْ جَاءَكُمُ الْفَتْحُ]:

الله عزوجل کفارو ته خطاب کوي: {إِنْ تَسْتَفْتِحُوا} أَيْ: تَسْتَنْصِرُوا وَتَسْتَقْضُوا اللَّهَ وَتَسْتَحْكِمُوهُ أَنْ يَفْصِلَ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَ أَعْدَائِكُمُ الْمُؤْمِنِينَ، فَقَدْ جَاءَكُمْ مَا سَأَلْتُمْ. (تفسير ابن کثير)

کچيرې تاسې نصرت غوښتو او د الله څخه مو قضاوت غوښتو او دا مو طلب کول چې الله ستاسې او ستاسې دښمنانو مومنانو ترمنځ پريکړه وکړي نو تاسې ته هغه څه راغلل چې تاسې غوښتي و.

امام احمد خپل مسند کې د عبد الله بن ثعلبه بن صغير رضي الله عنه څخه نقل کړي دي کله چې مسلمانان او مشرکان مخامخ

شول نو ابو جهل وويل: اللَّهُمَّ، أَقْطَعُنَا لِلرَّحِمِ، وَآتَانَا بِمَا لَا نَعْرِفُ، فَأَحْنِهِ الْغَدَاةَ، فَكَانَ الْمُسْتَفْتِحَ. [سنده حسن] ژباړه: یا الله څوک چې په مونږ کې د خپلولي زيات پرې کونکی او په هغه خبرو راتګ کونکی وي چې مونږ يې نه پيژنو نو سبا سهار پرې غضب وکړه [هلاک يې کړه] نو هغه (ابو جهل) پريکړې غوښتونکی و.

او همدا شان نزول د عبد الله بن عَبَّاس، امام مُجَاهد، ضَحَّاك، قَتَادَة، يزيد بن رومان او نورو علماؤ څخه هم نقل دی.

سُدي وايي: کله چې مشرکان د مکې څخه راوتل نو د کعبې پردې يې ونيولی او د الله تعالی څخه يې کومک وغوښت او ويې ويل: اللَّهُمَّ انْصُرْ أَعْلَى الْجُنْدَيْنِ، وَأَكْرَمَ الْفِئَتَيْنِ، وَخَيْرَ الْقَبِيلَتَيْنِ. فَقَالَ اللَّهُ: {إِنْ تَسْتَفْتِحُوا فَقَدْ جَاءَكُمُ الْفَتْحُ} يَقُولُ: قَدْ نَصَرْتُ مَا قُلْتُمْ، وَهُوَ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. ژباړه: ای الله په دواړه لښکرو کې غوره لښکر او دواړو ډلو کې عزتمندې ډلې او دواړو ټولګيو کې غوره ټولګي ته بريا ورکړه. الله تعالی وفرمايل: {که تاسې پريکړه غوښته نو تاسې ته راغله} وايي: تاسې چې څه ويل هغه ته ما غلبه ورکړه او هغه محمد صلی الله عليه وسلم دی (تفسير الطبري سند يې حسن دی خو مرسل دی)

دي کفارو به هر وخت ويل چې کله به دا پريکړه راځي، که ته ريښتينی يې په مونږ باندې عذاب راوله. مونږ باندې دې د کاڼو باران وشي. الله عزوجل ورته وويل چې پريکړه راغله اوس يې قبوله کړئ.

[وَإِنْ تَنْتَهُوا فَهُوَ خَيْرٌ لَكُمْ]:

{وَإِنْ تَنْتَهُوا} أَيْ: عَمَّا أَنْتُمْ فِيهِ مِنَ الْكُفْرِ بِاللَّهِ وَالتَّكْذِيبِ لِرَسُولِهِ، {فَهُوَ خَيْرٌ لَكُمْ} أَيْ: فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ. ژباړه: کچيرې تاسې د خپل کفر او د رسول الله عليه السلام تکذيب څخه منع شوئ نو دا په دنيا او آخرت کې ستاسې لپاره غوره دي. دي کې ترغيب دی توبې ته، چې توبه وباسئ همدا ستاسې لپاره غوره ده.

[وَإِنْ تَعُودُوا نَعُدْ]:

اوس ترهيب دی، فرمايي کچيرې توبه نه وباسئ او خپل کفر، شرک او د حق پر وړاندې جګړې څخه نه ستنيږئ نو دا اخطار هم واورئ، چې مونږ به هم بيا هم د مومنانو کومک ته راوګرځو. همدا خبره په سورت بني اسرائيل کې هم شوې ده. {وَإِنْ عُدْتُمْ عُدْنَا} [الْإِسْرَاءِ: 8] ژباړه: که تاسې بيا خپل پخوانی چلن تکرار کړ، نو موږ به هم بيا خپل عذاب تکرار کړو.

سُدي وايي ددې معنا دا ده: {وَإِنْ تَعُودُوا} إِلَى الِاسْتِفْتَاحِ {نَعُدْ} إِلَى الْفَتْحِ لِمُحَمَّدٍ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَالنَّصْرِ لَهُ، وَتَظْفِيرِهِ عَلَى أَعْدَائِهِ. ژباړه: کچيرې تاسې بيا پريکړې او غلبې غوښتنې ته راستانه شوئ نو مونږ به نبي عليه السلام ته غلبه، بريا او دښمنانو باندې کاميابی ته راوګرځو.

خو حافظ ابن کثير وايي اوله توجيه غوره ده.

[وَلَنْ تُغْنِيَ عَنْكُمْ فِئَتُكُمْ شَيْئًا وَلَوْ كَثُرَتْ وَأَنَّ اللَّهَ مَعَ الْمُؤْمِنِينَ]:

{وَلَنْ تُغْنِيَ عَنْكُمْ فِئَتُكُمْ شَيْئًا وَلَوْ كَثُرَتْ} أَيْ: وَلَوْ جَمَعْتُمْ مِنَ الْجُمُوعِ مَا عَسَى أَنْ تَجْمَعُوا، فَإِنَّ مَنْ كَانَ اللَّهُ مَعَهُ فَلَا غَالِبَ لَهُ، فَإِنَّ اللَّهَ مَعَ الْمُؤْمِنِينَ، وَهُمُ الْحِزْبُ النَّبَوِيُّ، وَالْجَنَابُ الْمُصْطَفَوِيُّ. ژباړه: که تاسې څومره ډلې هم راجمع کړئ نو چا سره چې الله مل وي هغه باندې برلاسه کيدونکی څوک نشته نو يقينا الله د مومنانو ملګری دی او هم دوی نبوي لښکر او د نبي عليه السلام طرفدار دي.

دې آيت په اړه د علماؤ دوه نظرونه دي بعضې وايي چې دا خطاب کفارو ته دی او استفتاح څخه مراد نصرت غوښتل دي، نو الله تعالی کفارو ته د هغوی د سپکاوي په خاطر وايي چې تاسې بريا غوښتله درته مې درکړه، نو که منع شوئ خه ده او که منع نه شوئ نو بيا به درباندې مومنان مسلط کړم لکه څنګه مې چې بدر کې درباندې مسلط کړي وو. او دويم قول دا چې دا خطاب مومنانو ته دی، الله تعالی ورته فرمايي چې ای مومنانو تاسې بريا غوښته نو بريا مې درکړه، کچيرې تاسې مال غنيمت کې اختلاف څخه منع شوئ نو دا ستاسې لپاره غوره ده او کچيرې دغه اختلاف ته بيا راوګرځيدئ نو مونږ به بيا تاسې ورټو، خو دا خبره کمزورې ده ځکه چې وروسته الله تعالی فرمايي تاسې ته ستاسې لښکر هيڅ ګټه نشي درکولای او الله تعالی د مومنانو ملګری دی، دغه جملو څخه معلوميږي چې دا خطاب کفارو ته دی او دلته د استفتاح څخه پريکړه غوښتل مراد دي.

عزتمندو ورونو! تاسې وګورئ د مکې مشرکانو هم الله عزوجل خالق او مالک منلو، د هغه ذات معرفت يې درلود، د هغه څخه يې انکار نه کاوه بلکې هغه څخه يې دعاګانې غوښتلې، خپل ګمان مطابق به يې د هغه عبادتونه هم کول، يوبل ته به يې د الله د نوم واسطې ورکولې، د الله لپاره يې صدقې نذر او نياز هم کاوه خو نور باباګان به يې هم پکې شريکول، د الله د خوشحالولو لپاره به يې حاجيانو ته اوبه ورکولې، د الوهيت اقرار يې کاوه، خو ستونزه يې دا وه چې شرعي نظام حاکم نه و، خپل وضعي او جاهلي قوانين يې نافذ کړي وو. چې دغه صفت کې د مکې مشرکانو سره نن سبا ډير تش په نامه مسلمانان هم شريک دي چې دوی دا ګمان لري چې مونږ خو د نبي عليه السلام دين باندې روان يو لکه مکې مشرکانو چې دغه ګمان کاوه چې مونږ د ابراهيم عليه السلام دين باندې روان يو. د هغوی ابو جهل او د وخت فرعون يې الله تعالی ته زارۍ کوي چې يا الله کومه ډله ناحقه وي هغه هلاکه کړې، دومره عقيده يې درلوده چې دې کې د بل چا اختيار نه چليږي. او هر چې دوی د بتانو عبادت کاوه نو هغوی يې د الله تعالی په څير په الوهيت سره نه وو نيولي، ځکه قرآن کريم د دوی عقيده بيانه کړې ده. {وَالَّذِينَ اتَّخَذُوا مِنْ دُونِهِ أَوْلِيَاءَ مَا نَعْبُدُهُمْ إِلَّا لِيُقَرِّبُونَا إِلَى اللَّهِ زُلْفَى إِنَّ اللَّهَ يَحْكُمُ بَيْنَهُمْ فِي مَا هُمْ فِيهِ يَخْتَلِفُونَ} [الزمر: 3] ژباړه: هغه کسان چې هغوی له هغه پرته نور معبودان نيولي دي (دوی وايي) مونږ خو د هغو عبادت صرف په دې خاطر کوو چې هغوی مونږ الله ته ورسوي، الله به په يقيني ډول دهغو په منځ کښې دټولو هغو خبرو پريکړه وکړي چې هغوی په کښې اختلاف کوي.

څومره واضحه خبره ده، دوی وايي چې دا باباګان خو مونږ الله تعالی ته رسوي. او ورپسې الله تعالی د حاکميت مسئله خپله ذکر کړې، [إِنَّ اللَّهَ يَحْكُمُ بَيْنَهُمْ] ځکه اصل موضوع د الله تعالی حاکميت څخه اعراض و.

لهذا هر زمان او مکان کې چې څوک شرک کوي دا به مشرک وي ولو که دا په ظاهره د دين بعضې احکام او شعائر هم ترسره کوي، مونځ کوي، کلمه وايي خو چې حاکميت شرک پکې موجود وي دوی به د مکې مشرکينو په څير مشرکان وي، ځکه مونږ وويل د مکې مشرکينو به هم الله تعالی نه سوالونه کول، سخته کې به يې هغه ته آوازونه کول، حجونه به يې کول خو نظام يې د جاهليت و. لهذا نني جاهليت او نني بتان چې کفري او سيکولري قوانين دي، د ملګرو ملتونو په نوم يې هبل، لات او منات جوړ کړي دي، د دې پر خلاف همداسې مبارزه پکار ده لکه نبي عليه السلام چې هغه وخت د دغه بتانو پرضد کړې وه. ترڅو زمونږ ټولنه هم د دغه ناوړه شرکياتو او خرافاتو څخه پاکه شي.

هغه خلک چې الله تعالی په پريکړه، نظام او قانون کې وحده لا شريک نه مني، د کفارو او مرتدينو محاکمو ته ورځي، د طواغيتو څخه براءت نه کوي نو ځان ته دې پدې دوکه نه ورکوي چې دوی مسلمانان دي، ځکه اسلام او ايمان د عقيدې او د عمل نوم دی، د جاهلي ټولنې او وضعي قوانينو څخه د براءت نوم دی، چې دا مطالب مفقود شي نو تش الفاظ د کلمې خو کومه ګټه نه لري، دا الفاظ خو شاته يوه عقيده او مدلول لري، که انسان کلمه وايي خو غير الله ته سجده کوي، غير الله څخه کومک غواړي، غير الله څخه اولاد غواړي آيا څوک به دا مسلمان وګڼي ؟ نو دغه رنګ چې څوک کلمه وايي خو د هغې تقاضا مطابق واک، نظام، قانون، تشريع، دستور او پريکړې حق د الله لپاره نه خالص کوي پدې کې قوم، جرګه، رواج، طاغوتي نظام محاکم او باباګان شريکانوي نو دا کس يقيني کافر دی. والله المستعان.

نثر اللؤلؤ والمرجان

في سلسلة معرفة الرحيم الرحمان

پنځلسم درس

أحمد الله وأسبّحه بعلوّه وكماله الذي خلق السموات والأرض على مِنواله ونُوِّرَت بنوره وزُيِّنتْ بجماله ثم استوى على العرش لائقا بذاته وجلاله ولا يخفى عليه شيئ من أمور العالم وأفعاله وعليم بجميع أحواله وأعلن الفوز لمن امتثل بإنزاله وإرساله وأصلي وأسلّم على رسوله ونبيه محمد وعلى أهل بيته وأصحابه وآله، أمابعد:

محترمو لوستوونكو!

مونږ د الله عزوجل د معرفت سلسله شروع كړې وه، تېر درس كې مونږ دالله تبارک وتعالی دید په اثبات کې د معترضینو د شبهاتو او اعتراضاتو څخه تفصيلي بحث وکړ، اوس دې درس کې هغه قرائن ذکر کوو، چې د الله تبارک وتعالی په حق کې په کتاب او سنت ذکر شوي، د ذکر شوي ید نه مراد حقيقي ید دیو چې کیفیت یې د الله متعال نه بغیر بل هیڅ چاته نه دی معلوم.

التخجيل بإثبات قرائن الصفة وترديد التعطيل

په کتاب او سنت کې هغه مرجحه قرائن چې د معطله وو ترديد كوي او دا ثابتوي چې الله تبارک وتعالی لاسونه لري او د دغه لاس نه بلاكيف والتشبيه حقيقي لاس مراد دی، هغه په لاندې ډول دي:

(۱) د ید په سیاق او صفت کې په قران او احادیث دواړو، کې الله تبارک وتعالی ته د یمین ذکر شوی، چې دا قرينه شوه، چې د ید نه مراد حقيقي يد دی، چې لاس ته وايي.

(۲) د ید په سیاق او صفت کې په حدیثو کې الله تبارک وتعالی ته کف (ورغوی) ذکر شوی، نو دا قرينه شوه، چې ید نه مراد حقيقي يد دی چې لاس ته وايي.

(۳) د ید په سیاق او صفت کې په قران او احادیثو کې د قبض (نیولو) ذکر شوی، نو دا قرينه شوه، چې ید نه مراد حقيقي يد دی، چې لاس ته وايي.

(۴) د ید په سیاق او صفت کې احادیثو کې الله تبارک وتعالی ته انامل (ګوتې) ذکر شوي، نو دا قرينه شوه، چې ید نه مراد حقيقي يد دی چې لاس ته وايي.

(۵)د ید په سیاق او صفت کې الله تبارک وتعالی ته أصبع اصبعین او اصابع ذکر شوي.

نو دا قرينه شوه، چې ید نه مراد حقيقي يد دی، چې لاس ته وايي.

(٦) د ید په سیاق او صفت کی تثنیه ذکر شوې نو دا قرينه شوه چې ید نه مراد حقيقيقي يد دی، چې لاس ته وايي.

(۷) د ید صفت کې مبسوطیت کولاو والی ذکر شوی. نو دا قرينه شوه، چې ید نه مراد حقيقي يد دی چې لاس ته وایی. چې دا ټول هغه قوي دلايل اوقرائن دي، چې د معطله وو اساس له بیخه نړوي او د اهل السنه والجماعه د عقیدې کلک تائيد او دفاع کوي، چې الله تبارک وتعالی دوه لاسونه لري.

إنهاء الملف لمنكري الصفات بأقوال السلف

دغه ډول لاسونه او د الله تبارک وتعالی د نورو صفاتو متعلق دې باره کې اهل السنه څه موقف لري، د هغې خلاصه دا څو خبرې دي:

لومړی: ټول اهل السنة په دې اتفاق لري، چې الله تبارک وتعالی ځان ته او د هغه ليږلي پيغمبر هغه ته لاسونه ثابت کړي او دغه لاسونه يقيني او حقيقي لاسونه دي، دا او دغه ډول هر صفت د الله هغه ذاتي وي او که فعلي د دې واړه صفاتو تشبيه ورکول د مخلوق سره دا کفر دی، د دې وجهې نه نعيم بن حماد "رحمه الله" دامام بخاري "رحمه الله" استاذ فرمايلي: ("من شبه الله بشيء من خلقه فقد كفر") ژباړه: چا چې الله په څه څيز کې د مخلوق سره مشابه کړو، نو دا يقيني کافر شو.

او بيا فرمايي: "ومن أنكر ما وصف الله به نفسه فقد كفر"

ژباړه: او چا چې انکار وکه له هغه صفت څخه، چې الله پرې ځان موصوف کړی، نو دې يقيني کفر وکړو.

او بيا فرمايي: "وليس فيما وصف الله به نفسه ولا رسوله تشبيه"

ژباړه: او د اثبات د هاغه صفاتو نه تشبيه نه لازميږي کوم، چې الله ځان ته او يا د هغه رسول"صلى الله عليه وسلم" هغه ته ثابت کړي دي.

او دغه ډول إسحاق بن راهويه "رحمه الله" هم فرمايلي: "من وصف الله فشبه صفاته بصفات أحد من خلق الله فهو كافر بالله العظيم"، ژباړه: چا چې الله په يو صفت موصوف کړ او بيا يې دا صفت په مخلوق کې د يو کس سره مشابه کړو، نو دا کس په الله عظيم ذات کافر دی.

او بيا فرمايي : "علامة جهم وأصحابه، دعواهم على أهل السنة والجماعة ما أولعوا به من الكذب: أنهم مشبهة، بل هم المعطلة"

ژباړه: د جهم او د هغه د ملګروو علامه دا ده چې دوی د دروغو په وجه په اهل السنة دا دعوې کوي، چې دوی مشبهه دی بلکې دوی په خپله معطله (دصفاتو منکر) دي. [شرح الطحاوية ص ۸۵]

نو غرض له دې تفصيل نه هغه همدا دی، چې الله تبارک وتعالی ته به د هغه ټول صفات ثابتيدلی شي خو بلا تكييف، ولاتمثيل، ولاتشبيه، ولا تعطيل او د داسې صفاتو د اثبات نه تشبيه او تجسيم نه لازميږي.

دوهم: خبره دا دهو چې د أهل السنة والجماعة د امامانو څخه يو امام نه هم څوک دا نه شي ثابتولی، چې هغوی د الله تبارک وتعالی د يد نه نعمت يا قدرت مراد کړی وي.

مثلاً:

لومړی: امام ابو حنيفه "رحمه الله" دی. دا فرمايي: " وله يد ووجه ونفس كما ذكره الله تعالى في القرآن فما ذكره الله تعالى في القرآن من ذكر الوجه واليد والنفس فهو له صفات بلا كيف ولا يقال إن يده قدرته او نعمته لأن فيه إبطال الصفة وهو قول أهل القدر والاعتزال ولكن يده صفته بلا كيف وغضبه ورضاه صفتان من صفات الله تعالى بلا كيف"

ژباړه: او دې الله لره لاس ثابت دی، نفس ثابت مخ ثابت دی.

لکه څنګه چې الله تعالى په قران کې ذکر کړي، نو هغه چې الله په قران کې ذکر کړيو د مخ لاس او نفس څخه نو پس دغه واړه د هغه

صفات دي، بغیر له کیفیت نه او نه به شي ویلی، چې لاس نه مراد د هغه قدرت او یا نعمت دی، ځکه چې دې کې د صفت ورکوالی منځ ته راځي او دا د قدریه او معتزله وو مسلک دی، لکن صحیح دا ده، چې ید دا د الله صفت دی، بغیر د کیفیت نه او دغه ډول غضب او رضاء صفتونه دي، د صفاتو د الله تعالی څخه بغیر له کیفیت نه. [الفقه الأکبرص٢٧]

دوهم: وقال الحافظ أبو بكر الخطيب البغدادي: "أما الكلام في الصفات، فإن ما روي منها في السنن الصحاح، مذهب السلف إثباتها وإجراؤها على ظواهرها، ونفي الكيفية والتشبيه عنها، وقد نفاها قوم فأبطلوا ما أثبته الله، وحققها قوم من المثبتين، فخرجوا في ذلك إلى ضرب من التشبيه والتكييف، والقصد إنما هو سلوك الطريقة المتوسطة بين الأمرين، ودين الله تعالى بين الغالي فيه والمقصر عنه، والأصل في هذا أن الكلام في الصفات فرع الكلام في الذات، ويحتذى في ذلك حذوه ومثاله، فإذا كان معلوما أن إثبات رب العالمين إنما هو إثبات وجود لا إثبات كيفية، فكذلك إثبات صفاته إنما هو إثبات وجود لا إثبات تحديد وتكييف، فإذا قلنا: لله يد وسمع وبصر، فإنما هي صفات أثبتها الله لنفسه، ولا نقول: إن معنى اليد القدرة، ولا إن معنى السمع والبصر العلم، ولا نقول: إنها جوارح، ولا نشبهها بالأيدي والأسماع والأبصار التي هي جوارح وأدوات للفعل، ونقول: إنما وجب إثباتها؛ لأن التوقيف ورد بها، ووجب نفي التشبيه عنها لقوله: {ليس كمثله شيء}

{ولم يكن له كفوا أحد} ژباړه: په رحال کوم، چې کلام کول دي، د صفاتو متعلق نو هغه څه چې روایت شوي له هغې څخه په سنن او صحاحو کې نو مذهب د سلفو هغه ثابتول د هغې او جاري کول د هغط دي، په خپل ظاهر باندې اونفی کول دي د کیفة او تشبیه ورکولو د هغې (د مخلوق د صفاتو سره) خو یو قوم داسې دی، چې دا یې نفې کړی، نو باطل یې گرځولی هغه څه چې الله ثابت کړي او ثابت کړي (سره د کیفیت او تشبیه نه) دغه صفات بل یو قوم د ثابتوونکو څخه نو پس وتلي دوی یو قسم د کیفیت او تشبیه ورکولو (د دې صفاتو د مخلوق سره) خو مقصود هغه دا دی چې په د دې دواړه کارونو کی په درمیانه لاره تلل وشي او دین د الله دا د إفراط کوونکي او تفریط کوونکي تر منځه دی او اصل قانون د صفاتو متعلق دا دی، چې قول کول په صفاتو کې دا فرع ده، د قول کولو په ذات کې ځکه چې په صفاتو کې به هم د ذات په شان تلل کولی شي.

مثال یې دا دی، چې کله دا معلومه ده، چې د ذات د الله تبارک وتعالی اثبات هغه اثبات د وجود دی، نه د کیفیت نو همدا عقیده په صفاتو کې هم لرل پکار دي، چې هغه ثابتول د وجود دي، نه د تحدید او تکییف نو چې کله مونږ دا وایو، چې الله لره لاس شته اوریدل شته او لیدل شته، نو دا هغه صفات دي چې الله تعالی ځان ته ثابت کړي، نو دا نه وایو مونږ چې د لاس نه یې مراد قدرت دی او نه یې د سمع او بصر نه علم مراد کوو او نه دا وایو، چې دا اعضاء جارحه دي او نه یې مشابهت ورکوو په لاسونو اوریدلو او لیدلو د مخلوق سره هغه چې هغه جوارح دي او د کار الیې (اسباب) دي، خو مونږ وایو، چې واجب دي د دې ثابتول، ځکه چې نص پرې راغلی دی او واجب دي، نفې کول د تشبیه د دې صفاتو څخه د وجه د دې وینا د هغه (الله تعالی) چې فرمایي:

ژباړه: نشته د دې په مثل هیڅ شی او نه شته دې لره هیڅ هم صفته هیڅوک. [سیر أعلام النبلاء ١٨/٢٨٤]

دریم: (وقال ابن قتيبة: "وعدل القول في هذه الأخبار أن نؤمن بما صح منها بنقل الثقات لها، فنؤمن بالرؤية والتجلي، وأنه يعجب وينزل إلى السماء الدنيا، وأنه على العرش استوى وبالنفس واليدين من غير أن نقول في ذلك بكيفية أو بحد أو أن نقيس على ما جاء ما لم يأت، فنرجو أن نكون في ذلك القول والعقد على سبيل النجاة غدا - إن شاء الله تعالى)

ژباړه: او امام قتیبه رحمه الله فرمایلي: "د انصاف خبره د دې احادیثو باره کې دا ده، چې په دې کې په هغې جمله احادیثو مونږ ایمان ولرو چې هغه د ثقه راویانو په واسطه نقل شوې وي، دا چې مونږ به ایمان لرو په رؤیت (دالله اوپه) تجلی (د هغه) او دا چې بې شکه هغه راکوزیږي، اسمان د دنیا ته او دا چې هغه په عرش استواء کړې او په نفس د هغه او په لاسونو د هغه بغیر له دې نه، چې مونږ په دې کې په کیفیت او یاپه مثال د هغې څهووایو او یا دا چې مونږ هغه څه چې راغلي قیاس کړو، په هغه څه چې نه وي راغلي نو امید لرو چې مونږ به په دې دغه قول او اعتقاد صباح دنجاة په لاره یو. ان شاء الله تعالی!

[الاختلاف في اللفظ والرد على الجهمية والمشبهة ص ٥]

څلورم:(وقال الإمام الحافظ أبو بكر محمد بن خزيمة في كتابه السنة مذهبنا مذهب أهل الآثار، ومتبعي السنن، ولا نلتفت إلى جهل من يسميهم مشبهة، إذ الجهمية المعطلة جاهلون بالتشبيه، فنحن نقول: لله جل وعلا يدان كما أعلمنا الخالق الباري في محكم تنزيله، وعلى لسان نبيه المصطفى - صلى الله عليه وسلم -، ونقول كلتا يدي ربنا عز وجل يمين على ما أخبر النبي - صلى الله عليه وسلم -، ونقول إن الله عز وجل يقبض الأرض جميعا بإحدى يديه ويطوي السماء بيده الأخرى وكلتا يديه يمينان لا شمال فيهما.ثم

قال: كيف يكون مشبها من يثبت لله تعالى أصابع على ما بينه النبي - صلى الله عليه وسلم -للخالق الباري؟ ونقول إن الله جلا وعلا، يضع السماء على أصبع، والأرضين على أصبع - إلى تمام الحديث، ثم قال: فكيف يكون مشبها من يثبت لربه عز وجل يدين على ما أثبته الله لنفسه، وأثبته له نبيه - صلى الله عليه وسلم - فكيف يكون مشبها يدي ربه بيدي بني آدم؟ نقول لله يدان مبسوطتانينفق كيف يشاء بهما، خلق آدم - عليه السلام - وكتب التوراة بيده، ويداه قديمتان لم تزالا باقيتين، وأيدي المخلوقين مخلوقة، محدثة غير قديمة، فانية غير باقية، بالية تصير ميتة ثم رميما ثم ينشئه الله خلقا آخر، تبارك الله أحسن الخالقين.

ثم قال: أي تشبيه يلزم أصحابنا أيها العقلاء إذا أثبتوا للخالق ما يثبته لنفسه، وما يثبته له نبيه المصطفى - صلى الله عليه وسلم)

ژباړه: امام بن خزیمه "رحمه الله" فرمایي: زمونږ او د ټولو اهل حدیثو او د سنت د متبعینو دا مذهب دی او مونږ په دې کې د هغه چا جهل ته التفات نه کوو، چې هغه دغه مذهب والا په مشبهه وو نوموي، ځکه چې جهمیه معطله د تشبیه په مسأله نه پوهیږي (جاهلان) دي، نو مونږ وایو، چې الله جل وعلا لاسونه لري، لکه څنگه چې خالق باري تعالی مونږ ته په خپل محکم نازل شوی کتاب کې خبر راکړی او په ژبه د زمونږ نبي مصطفی "صلی الله علیه وسلم" باندې او مونږ وایو، چی دواړه لاسونه زمونږ د رب متعال ښي لاسونه دي، په هغه وجه چې څنگه نبي "صلی الله علیه وسلم" د هغې خبر راکړی او مونږ دا هم وایو، چې الله عزوجل په ټوله ځمکه په یو لاس کې قبضه کړې او اسمانونه په په بل لاس کې راغونډ کړي او د الله دواړه لاسونه ښي لاسونه دي، چپ (گس لاس) په کې نشته. بیا فرمایي:

څنگه هغه کس مشبه وگڼل شي، چې هغه الله تعالی ته گوتې ثابتوي، په هغه طریقه چې نبي "صلی الله علیه وسلم" بیان کړی دی، د خالق باری تعالی دپاره او مونږ دا هم وایو، چې الله تعالی به اسمان په یوه گوته کیږدي او ځمکه به په بله گوته کیږدي، دې باره کې چی کوم راغلي هغه حدیث یې ټول ذکر کړ.

بیا یې وفرمایل:

څنگه به مشبهه وي، هغه کس چې هغه خپل رب ته لاسونه ثابتوي داسې چې څنگه هغه ځانته ثابت کړي او څنگه چې هغه ته د هغه رسول "صلی الله علیه وسلم" ثابت کړي، څنگه به دا کس مشابهت کوونکی کیږي، د خپل رب د لاسونو د بنی ادم دلاسونو سره مونږ وایو، چې زمونږ د الله لاسونه کولاو دي، خرچ کوي، څنگه یې چې خوښه وشي. ادم علیه السلام یې پیدا کړی او تورات یې لیکلی په خپل لاس باندې او لاسونه یې قدیم دي او همیشه به باقي وي او لاسونه د مخلوق هغه پیدا کړي دي، حادث دي، قدیم نه دي، فاني (ختمیدونکي) دي، باقي (همیش پاتې کیدونکي) نه دي، زړیدونکي دي، مړه کیدونکي دي بیا إیره کیدونکي دي، بیا به یې الله تبارک وتعالی دوباره پیدا کړي، برکت اچوونکي دي، الله پاک او ښایسته پیدا کوونکي دي.

بیا یې وفرمایل:

ای هوښیارو ملگرو کومه تشبیه لازمیږي، په دې کار سره چې یو کس الله ته هغه څه ثابت کړي کوم چې الله ځان ته او د هغه نبی "صلی الله علیه وسلم" هغه ته ثابت کړې وي.

انتهی وتم الباب بتوفيق الله تعالى والحمد لله رب العالمين!

باب جلب الخیرودفع الضرر باثبات سمع الله والبصر

مخکې بحث کې مونږ د لوی الله په فضل د الله متعال د عالي او د کمال نه د ډکو صفاتو متعلق د هغه تعالی د یدینو اثبات د کتاب سنت او اجماع د امت څخه وکړوو اوس دلته د لوی رب متعال په توفیق الله تبارك وتعالی ته د سمع (اوریدنې) او بصر (لیدنې) په اثبات کې د

کتاب او سنت او د صحابؤ کرامو نه دلایل ذکر کړو.

اول راځو د الله کتاب ته نو د دې متعلق به دا ووایم، چې په قران کې الله تبارک وتعالی د السمیعُ او سمیعٌ او سمیعاً په صیغو سره تقریبا په "۴۷" مقامه او یا له دې نه هم په زیاتو مقاماتو کې او دغه رنګه په مختلفو مقاماتو کې د سَمِعَ أَسمَعُ او یَسمعُ او د(إنا معکم مستمعون) په صیغو سره هم د دې صفت اثبات ځان ته کړی دی او دبصر (لیدلو) صفت یې د البصیرُ او بصیرٌ او د بصیراً په صیغو سره تقریبا په "۴۳" مقاماتو کې او د دې نه بغطر یې د (أریٰ) او د(یراك) او د (فسیری الله) په صیغو سره دغه صفت ځان ته ثابت کړی دی.

نو عزتمندو لوستوونکو!

خپله سوچ وکړئ، یو صفت چې الله تبارک وتعالی یې ځان ته په دومره مقاماتو کې اثباتوي، نو له دې انکار کول د قران د څومره لوی برخې څخه انکار دی؟

فکر خپله وکړئ، بلکې اوریدل او لیدل د رب العالمین په حق کې هغه صفات دي، چې الله تبارک وتعالی د مشرکانو په معبودانو چې ردّ کړی یوه وجه یې دا ده، چې د هغوی د لاسونو او قدمونو سره سره یې د هغوی د سمع او بصر عدمیت (نشت) والی ذکر کړی دی او همدا یې د هغوی د مذمت سبب او علة ګرځولی.

په سُورَةُ الأعراف "۱۹۵" نمبر ایت کریمه کې الله تعالی فرمایي: (أَلَهُمْ أَرْجُلٌ يَمْشُونَ بِهَا أَمْ لَهُمْ أَيْدٍ يَبْطِشُونَ بِهَا أَمْ لَهُمْ أَعْيُنٌ يُبْصِرُونَ بِهَا أَمْ لَهُمْ آذَانٌ يَسْمَعُونَ بِهَا قُلِ ادْعُوا شُرَكَاءَكُمْ ثُمَّ كِيدُونِ فَلَا تُنظِرُونِ) ژباړه: آیا دوی پښې لري، چې ورباندې لاړ شي؟

- آیا دوی لاسونه لري، چې په هغو سره نیول وکړي؟
- آیا دوی سترګې لریو چې په هغو سره ووینې؟

آیا دوی غوږونه لریو چې په هغو سره واوري؟

اې پیغمبره!

دوی ته ووایه، خپل انګیرلي شریکان راوبلئ، بیا تاسې ټول لاس یو کړئ، زما پر خلاف دسیسې جوړې کړئ او ما ته هیڅکله مهلت مه راکوئ.

نو فائده د آیت همدا شوه چې کله د مشرکانو معبودان دا صفات نه لري په دې د ردّ قابل ګرځي، نو معلومیږي، چې زمونږ رب دا په کامله توګه لري، چې اثبات یې د کتاب او سنت او د دې د تابعدارو او إنکار یې د جهمیه او د معتزله وو طریقه ده.

امام ابو حسن الاشعري "رحمه الله" فرمایي:

(وأثبتوا السمع والبصر ولم ينفوا ذلك عن الله كما نفته المعتزلة)

ژباړه: او اهل سنتو د اوریدني او لیدني اثبات (الله ته) کړی او دا یې ترینه نه دی نفي کړي، لکه څنګه چې معتزله وو نفي کړی. (العلو لذهبي ص۲۱۷)

نو که دا صفات الله تبارک وتعالی هم نه لرلی نو آیا دا ردّ به مناسب وی؟!

بل دلیل دا هم وګورئ:

ابراهیم "علیه السلام" خپل پلار اذر ته د هغه د باطل معبود باره کې فرمایي: {يا أبت لم تعبد ما لا يسمع ولا يبصر}

اې پلاره! ولی ته د داسې څه عبادت کوې، چې نه اوریدل کوي او نه لیدل.

دغه رنګ امام یحی بن أبی الخیر العمراني په الانتصار ۱/ ۱۳۵ کې فرمایي: (والدلیل علی إثبات السمع والبصر ما أخبر الله عن إبراهيم أنه قال: {يا أبت لم تعبد ما لا يسمع ولا يبصر} ولو كان إله إبراهيم لا يسمع ولا يبصر لكان دليله منقلبا عليه) ژباړه: او دلیل په اثبات د اوریدني او لیدني هغه دی، چې خبر ورکړی الله تبارک وتعالی په هغې سره د ابراهیم "علیه السلام" نه چې بې شکه هغه وفرمایل:

" اې پلاره! ولی عبادت کوې د هغه څه چې نه اوریدل کولی شي او نه لیدل. نو که چیرته د ابراهیم إله اوریدل او لیدل نه شو کولی، نو دا دلیل به بیرته ردّ کوونکی راګرځېده په هغه باندې.

نو وګورئ مسلمانانو معلومه شوه، چې سمع او بصر هم د نورو صفاتو غوندې هغه صفات دي، چې منل یې د الله تبارک وتعالی په حق کې اکمل کمال ګڼل دي او نفي کول یې د الله تبارک وتعالی په باره کې د نقص نه بغیر بل هیڅ نه دي.

دغه رنګ شیخ الاسلام ابن تیمة "رحمه الله" فرمایي:

(فإن الحياة والعلم والقدرة. والسمع والبصر والكلام: صفات كمال ممكنة بالضرورة ولا نقص فيها فإن من اتصف بهذه الصفات فهو أكمل ممن لا يتصف بها؛ والنقص في انتفائها لا في ثبوتها)

ژباړه: بې شکه ژوند، علم، قدرت، اوریدل او لیدل او خبري کول دا د ضروري ممکناتو څخه د کمال صفات دي او هیڅ نقص نشته د دې صفاتو په موصوف والي کې، ځکه څوک چې په دی صفاتو موصوف شي نو هغه ډیر پوره وي له هغه چا څخه چې په دې صفاتو موصوف نه وي، نو نقص (کمی) د دې په نفي کولو کې دی، نه د دې په ثابتولو کې. [مجموع الفتاوی ٦ /٨٨]

علامه ابن القیم "رحمه الله" هم فرمایي: "وأن من فر من إثبات السمع والبصر والكلام والحياة له- لئلا يشبهه- فقد شبهه بالأحجار التى لا تسمع ولا تبصر ولا تتكلم"

ژباړه: بې شکه هغه څوک چې هغه وتښتېده د ثابتولو د سمع بصر کلام اوحیات نه د هغه (تعالی) د دې لپاره چې د دې په ګمان تشبیه یې ور نه کړي (د کوم مخلوق سره) خو (د ده دې فرار) د هغه مشابهت د کاڼو سره وکړ هغه کاڼي چې نه اوریدل کوي، نه لیدل کوي او نه خبرې. [طریق الهجرتین ۱/۱٦۲]

إثبات السمع والبصر
في أحاديث خيرالبرية والبشر

دا شو د قران عظیم الشان څخه اثبات د سمع اوبصر دالله تبارک وتعالی.

اوس راځو او دې فصل کې د لوی الله په توفیق سره د دې مسألې په اثبات کې یو څو احادیث هم ذکر کوو.

اول حدیث: د ابو هریرة "رضي الله عنه" څخه روایت دی فرمایي:

«أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قرأ هذه الآية {إن الله يأمركم أن تؤدوا الأمانات إلى أهلها} إلى قوله: {إن الله كان سميعا بصيرا} ويضع إبهاميه على أذنيه والتي تليها على عينيه)

ژباړه: بې شکه رسول الله "صلی الله علیه وسلم" دا آیت ولوسته، چې ترجمه یې دا ده:

بې شکه الله امر کوي تاسو ته د دې، چې تاسو امانتونه خپلو خاوندانو ته وسپارئ. تر دې ځایه یې ولوسته، چې بې شکه الله دی، اوریدونکی او لیدونکی...

بیا ابوهریرة "رضي الله عنه" فرمایي: او کیښودې نبي "صلی الله علیه وسلم" ابهامې ګوتې په غوږونو او هغې ته چې نږدې دي، هغه یې په سترګو کیښودې.

دا حدیث امام ابو داود په خپل سنن کې په کتاب السنة په رقم ۴۷۲۸ باندې راوړی دی.

امام ابو داود "رحمه الله" د دې حدیث نه بعد فرمایي:

(قَالَ ابْنُ يُونُسَ: قَالَ الْمُقْرِئُ: يَعْنِي: إِنَّ اللَّهَ سَمِيعٌ بَصِيرٌ، يَعْنِي أَنَّ لِلَّهِ سَمْعًا وَبَصَرًا)

ژباړه: ابن یونس فرمایلي، چې مقري فرمایلي: دا چې بې شکه الله اوریدونکی او لیدونکی دی، یعنې دا چې بې شکه د الله سمع او بصر شته.

بیا أبُو داود "رحمه الله" فرمایي: (وَهَذَا رَدٌّ عَلَى الْجَهْمِيَّةِ)

او داحدیث صفا ردّ دی، په جهمیه وو باندې د دې نه بغیر دا حدیث امام ابن خزیمة په التوحید کې په نمبر ۴٦ ابن حبان په خپل صحیح کې په نمبر ۲٦۵ او امام بیهقي په الأسماء والصفات ص ۱۷۹ راوړی.

امام حاکم هم ورته صحیح ویلی او امام ذهبي "رحمه الله" ورسره په دې تصحیح کې موافقت کړی دی.

دوهم حدیث: د ابو موسی الأشعري "رضي الله عنه "څخه روایت دی فرمایي: (كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفَرٍ، فَكُنَّا إِذَا عَلَوْنَا كَبَّرْنَا، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَيُّهَا النَّاسُ ارْبَعُوا عَلَى أَنْفُسِكُمْ، فَإِنَّكُمْ لَا تَدْعُونَ أَصم وَلَا غَائِبًا، وَلَكِنْ تَدْعُونَ سَمِيعًا بَصِيرًا)

ژباړه: مونږ د رسول الله "صلی الله علیه وسلم" سره په یو سفر کې وو، مونږ وو کلهو چې به پورته ختو نو، تکبیر به مو ویلو، نبی "صلی الله علیه وسلم" وفرمایل:

اې خلکو! نرمې کوئ په خپلو نفسونو باندې، بې شکه تاسو کوڼ او غائب ته اواز نه کوئ، بلکې تاسو اوریدونکی او لیدونکی ذات رابلئ.

صحیح البخاري رقم الحدیث ٦۳۸۴، دغه رنګ دا حدیث د صحیح مسلم جامع الترمذي سنن ابی داود مسند احمد مؤطا امام مالک په شمول ګڼو کتابونو د احادیثو راوړی دی.

د دې حدیث په ذکر کولو سره امام ابوسعید دارمي په مریسي جهمي ردّاً فرمایي: (أفلا ترى أيها المريسي أن رسول الله صلى الله عليه وسلم ذكر الأصم والسميع وهما متضادان فأخبر أن الله سميع بخلاف الأصم)

ژباړه: آیا ته نه ګورې اې مریسي چې یقینا رسول الله "صلی الله علیه وسلم" کوڼ او اوریدونکی دواړه

ذکر کړه او دا دواړه متضاد ديو نو بيا يې بيان وکړ، چې بې شکه الله اوريدونکی دی په خلاف دکوڼ. [نقض الامام أبی سعيد ١/٣٢١]

دريم حديث

عبد الله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دی:

(ذُكِرَ الدَّجَّالُ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: «إِنَّ اللَّهَ لَا يَخْفَى عَلَيْكُمْ، إِنَّ اللَّهَ ليس بأعور - وَأَشَارَ بِيَدِهِ إِلَى عَيْنِهِ - وَإِنَّ المَسِيحَ الدَّجَّالَ أَعْوَرُ العَيْنِ اليُمْنَى، كَأَنَّ عَيْنَهُ عِنَبَةٌ طَافِيَةٌ)

ژباړه: چې دجال د نبي "صلی الله عليه وسلم" په حضور کې ذکر کړی شو، نو نبي "صلی الله عليه وسلم" وفرمايل:

بې شکه الله په تاسو پټ نه دی، بی شکه الله ړوند نه دی او دې سره اشاره وکړه نبي "صلی الله عليه وسلم" خپلې سترګې ته " او بی شکه مسيح دجال چې ړنده ده ښي سترګه د هغه ګويا چې سترګه د هغه راوتلې انګور غوندې ده.(تنبيه) ياد دې وي چې دغه حديث د ګڼو صحابؤ کرامو نه نقل دی. لکه: (ابوهريره أنس بن.مالك ابو أمامة الباهلي عبادة بن الصامت إبن عباس جابر أسماء بنت يزيد عائشة أم سلمة رضي الله عنهم اجمعين)

امام دارمي "رحمه الله" د دې قسم احاديثو متعلق په نقص الامام ١/٣٢٧ کې فرمايي:

(ففي تأويل رسول الله صلى الله عليه وسلم: "إن الله ليس بأعور" بيان أنه بصير ذو عينين خلاف الأعور)

ژباړه: په قول د رسول الله "صلی الله عليه وسلم" کې چې بې شکه الله ړوند نه دی، دا بيان دی، چې بی شکه الله ليدونکی او د دوه سترګو خاوند دی، په خلاف د ړوند.

څلورم حديث: دغه ډول په معجم الکبير دامام طبرانی کی په نمبر ٦٣٨۴ کې ابوجرئ جابر "رضي الله عنه" څخه طويل روايت نقل ديو چې يو برخه يې دا ده:

رسول الله "صلی الله عليه وسلم" وفرمايل:

(إِنَّ رَجُلًا مِمَّنْ كَانَ قَبْلَكُمْ لَبِسَ بُرْدَةً فَتَبَخْتَرَ فِيهَا، فنظر اللهُ عَزَّ وَجَلَّ إِلَيْهِ مِنْ فَوْقِ عَرْشِهِ، فَمَقَتَهُ، فَأَمَرَ الْأَرْضَ فَأَخَذَتْهُ , فَهُوَ يَتَجَلْجَلُ بَيْنَ الْأَرْضِ، فَاحْذَرُوا مَقْتَ اللهِ عَزَّ وَجَل)

ژباړه: بې شکه يو سړی وو له هغې جملې څخه، چې له تاسو نه مخکې أمت کې وو، هغه يوه جوړه واغوسته نو تکبر يې په هغې کی شروع کړ، نو الله عزّ وجلّ ورته د خپل عرش د پاسه څخه وکتل، نو غوصه شو هغه ته، نو امر يې وکړ ځمکې ته راونيوه هغې ځمکې هغه لره، هغه راښکل کيږي د ځمکې تر منځه، نو ويريږئ د الله د غضب څخه!

پنځم حديث: د ابوسعِيد الْخدري"رضي الله عنه" نه روايت دي، چې رسول اللَّه "صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ" وفرمايل:

(إِنَّ الدُّنْيَا حُلْوَةٌ خَضِرَةٌ وَإِنَّ اللَّهَ مُسْتَخْلِفُكُمْ فِيهَا، فناظر كيف تَعْمَلُونَ فَاتَّقُوا الدُّنْيَا وَفِتْنَةَ النِّسَاءِ)

ژباړه: بې شکه دنيا خوږه او شنه ده او بې شکه الله تاسو په هغې کې مکلف ګرځولي يئ، ګورئ تاسو ته چې څنګه عمل کوئ په هغې کې، ځانونه وساتئ له دنيا او د ښځو له فتنې څخه. [رواه البيهقی فی الأسماء والصفات ٢/٢٢۴]

دا شو عزتمندو تر دې ځايه د الله سبحانه وتعالی د سمع اوبصر (اورېدنې او ليدنې) اثبات چې په صحيحو احاديثو کې شوی، کوم چې تاسو وليده، د دې نه بغېر هم نور بې شماره روايات شته چې دغه صفات د الله تبارک وتعالی په کې په بې شماره اندازې سره ذکر دی، چې يو د هغې جملې څخه هغه سلګونه احاديث دي، چې د لمونځ د طريقې باره کې نقل دي، چې په هغې کې د(سمع الله لمن حمده) جمله ده، کومه چې د دنيا هر مکلف مسلمان د ورځې په سلهاوو ځله په داخل د لمونځ کې وايي چې معنا يې داده:

(واورېده الله تعالی د هغه چاچې د هغه حمد يی بيان کړ)

نو ګورئ د سمع دا اثبات په څومره دلايلو ثابتيږي، چې بيخي د احاطې نه بهر دی، نو له دې نه انکار کول د قرآن او احاديثو د لويې برخې نه انکار کول دي.

فانا لله وانا اليه راجعون

ألفلاح والرشاد في مسائل الجهاد

پنځلسم درس : صحيح البخاري كتاب الجهاد

الحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام على رسوله الأمين وعلى أزواجه وأصحابه ومن تبعهم في إحسان إلى يوم الدين أما بعد:

محترمو مسلمانانو ورونو او خوېندو! مونږ مخکې درس کې د لوی الله به توفيق سره د الفلاح والرشاد د سلسله واره لړی درسونو څخه په تېر شوي درس کې د ځلویښتم حديث شرحه او وضاحت ذکر کړی وو، اوس په دې درس کې راځو او د لوی الله په خاص فضل او توفيق سره د يو ځلویښتم حديث وضاحت او شرحه شروع کوو.

٢٨ - باب الْكَافِرِ يَقْتُلُ الْمُسْلِمَ، ثُمَّ يُسْلِمُ فَيُسَدِّدُ بَعْدُ وَيُقْتَلَ

باب ثابت به بيان د حکم د هغه کافر چې مسلمان قتل کړي، بيا له هغې بعد برابر شي په دين باندې او بيا له هغې بعد دا هم دالله په لار کې قتل کړی شي.

حصول الأجر والثواب بتشريح الكلمات مافى ترجمة الباب

(بابٌ) نکره خبر دی، دلته هم د باب نه مخکې عبارت مقدر مراد دی، چې هغه (هذا) اسم اشاره مبتدا ده، د (بابٌ) نه بعد به دا عبارت مقدر وي (فى حکم الکافرالذى(يقتل) دا د معلوم صيغه ده، ضمير راجع کافر ته دی، (المسلم) منصوب دی بنا پر مفعوليت، (ثم يُسلم) دا د إفعال له باب څخه دی مراد ترېنه اسلام راوړل دي، (هذا القاتل) دا جمله غږ فاعل د (يسلم) دی، يعنې دغه قاتل اسلام راوړی (فيسدد) د دال په تشديد سره معنا دا چې اسلام يې يقيني شي (بعدُ) يعنې بعد قتله المسلم) د مسلم لفظ مفعول به دی، (ويقتل) دا مجهول دی، مراد ترېنه همدا کافر دی، چې اوس مسلمان شوی، نو ټول عبارت به داسې لوستلی شو: (هذا باب في حکم الکافر الذي يقتل المسلم ثم يسلم هذا القاتل بعد قتله فيسدّد بعد قتله المسلم ويقتل)

مطرالرحمة والسحاب بذكرمناسبة ترجمة الباب مع الكتاب

دا باب دکتاب الجهاد د ابوابو د عدد او شمېر په اعتبار سره اته ويشتم (٢٨) نمبر باب دی.

امام بخاري "رحمه الله" په دې کې دوه مختلف حديثونه د ابو هريرة "رضي الله عنه" څخه ذکر کوي او مناسبة د ترجمة الباب د کتاب الجهاد سره په باب الکافر يقتل المسلم جمله کې دی، چې د دې نه مراد جهاد کې شهادت دی.

والله اعلم!

(حديث ٤١) (رقم الحديث ٢٧٢٢)

(عَنْ أَبِي هرَيْرَة رضي الله عنه أَنرَسُول اللَّه -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: «يَضْحَكُ اللَّهُ إِلَى رَجُلَيْنِ يَقتُل أَحَدُهُمَا الآخَرَ يَدْخُلَانِ الْجَنَّةَ، يُقَاتِلُ هَذَا فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَيُقْتَلُ، ثُم يَتُوبُ اللَّهُ عَلَى الْقَاتِلِ فَيُسْتَشْهَدُ)

ژباړه: له ابو هريرة "رضي الله عنه" څخه روايت دی، چې بې شکه رسول الله "صلى الله عليه وسلم" وفرمايل:

الله هغه دوه کسانو ته خاندي، چې يو بل لره قتل کړي او دواړه بيا جنت ته داخل شي، دا يو جنګيږي په لاره د الله کې پس قتل (شهيد) کړی شي، بيا الله قاتل ته توفيق د توبې ورکړي او بيا دا هم شهيد کړی شي.

التفكر والمراقبة بذكرالتطبيق والمناسبة

په دې حديث کې د مصنف امام "رحمه الله" شيخ او استاذ هغه عبد الله بن يوسف التنيسي "رحمه الله" دی، چې د تعديل او توثيق به اوصافو کې د(ثقةٌ متقنٌ) او (أثبت الناس) په صفاتو موصوف دی، چې له دې نه دا حديث په سند سره له ابو هريرة "رضي الله عنه" څخه ذکر کوي، بيا مناسبة د حديث د ترجمة الباب سره په ټولو الفاظو کې برابر موافق دی.

إغاثة المغيث بذكر شرح الحديث

(يضحك الله) ضحك دا هغې خندا ته وايي، چې د خوشحالۍ نه شونډې کولاوې شي او غاښونه ښکاره شي، دلته دې حديث کې رسول الله "صلى الله عليه وسلم" الله تبارك وتعالى ته ضحك يعنې خندا ثابته کړي، نو په اجماع د سلفو دا د الله تعالى صفت دی، چې د هر قسم تأويل، تعطيل، تحريف، تمثيل او تکييف نه بغېر پرې ايمان لرل واجب دي او مراد ترېنه حقيقي ضحك ده، څنګه چې د الله تبارك وتعالى د ذات او شان سره مناسب وي.

(إلى رجلين) يعنې مسلمان او كافر ته.

(يقتل أحدهما الآخر) چې دا يو بل لره قتل کړي (يدخلان الجنة) او جنت ته دواړه لاړ شي.

د صحيح مسلم په روايت رقم (١٨٩٠) باندې حديث کې دي، چې رسول الله "صلى الله عليه وسلم" کله دا وفرمايل نو صحابؤ کرامو عرض وکړ، چې (كيف يا رسول الله؟) څکه لږ تفصيل ته محتاجه حادثه وه، نو څکه يې ترېنه پوښتنه وکړه، چې د دې څه وضاحت دی؟

نو (قال) هغه ورته تفصيل کې وفرمايل: (يقاتل هذا) يعني دغه مسلمان جنګيږي (في سبيل الله) د الله عز وجل په لاره کې (فيُقتل) نو دا قتل کړی

شي، يعنې کافر يې قتل کړي . (ثم يتوب الله على القاتل) نو له دې نه بعد ورته الله توفيق د توبې ورکړي.

او د مسلم روايت کې دي:

(فيهديه إلى الإسلام ثم يجاهد في سبيل الله) پس له دې الله دې کافر ته د اسلام طرف ته هدايت وکړي، نو اسلام راوړي بيا د الله په لار کې جهاد شروع کړي (فيستشهد). نوبيا دا هم شهيد کړی شي.

فوائد الحديث

[١] حديث دليل دی په فضيلت د مجاهد او جهاد فی سبيل الله باندې.

[٢] دليل چې هر شهيد في سبيل الله جنت ته داخليږي.

[٣] دليل دی، چې الله تبارك وتعالی ډېر رحم کونکی ذات دی.

[۴] الله توبه قبلوونکی دی.

[۵] هدايت کوونکی الله تبارك وتعالی دی.

[٦] الله سبحانه وتعالی د خندا فعلي صفت هم لري.

[٧] اسلام مخکني ټول ګناهونه محوه کوي، اګر که دحقوق العباد سره تعلق هم ولري.

[٨] صحابؤ کرامو د الله تعالی په هيڅ نوع صفاتو کې تأويل نه کولو.

[٩] که يو انسان د چا په مقصد پوه نه شي، نو د مزيد تفصيل مطالبه ترېنه کولی شي.

[١٠] چانه چې پوښتنه کيږي، هغه به وضاحت او جواب ورکولو کې ناراضګي او خفګان نه کوي.

(حديث ۴٢) (رقم الحديث٢٨٢٣)

(عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رضي الله عنه- قَالَ: "أَتَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- وَهْوَ بِخَيْبَرَ بَعْدَ مَا افْتَتَحُوهَا فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ أَسْهِمْ لِي , فَقَالَ بَعْضُ بَنِي سَعِيدِ بْنِ الْعَاصِ: لَا تُسْهِمْ لَهُ يَا رَسُولَ اللَّهِ، فَقَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ: هَذَا قَاتِلُ ابْنِ قَوْقَلٍ. فَقَالَ ابْنُ سَعِيدِ بْنِ الْعَاصِ: وَاعَجَبًا لِوَبْرٍ تَدَلَّى عَلَيْنَا مِنْ قَدُومِ ضَأْنٍ يَنْعَى عَلَيَّ قَتْلَ رَجُلٍ مُسْلِمٍ أَكْرَمَهُ اللَّهُ عَلَى يَدَيَّ وَلَمْ يُهِنِّي عَلَى يَدَيْهِ. قَالَ: فَلَا أَدْرِي أَسْهَمَ لَهُ أَمْ لَمْ يُسْهِمْ لَهُ".

قَالَ سُفْيَانُ: وَحَدَّثَنِيهِ السَّعِيدِيُّ عَنْ جَدِّهِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ.

قَالَ أَبُو عَبْدِ اللَّهِ: السَّعِيدِيُّ عَمْرُو بْنُ يَحْيَى بْنِ سَعِيدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ سَعِيدِ بْنِ الْعَاصِ)

ژباړه: له ابو هريرة "رضي الله عنه" څخه روايت دی، فرمايي:

زه رسول الله "صلی الله عليه وسلم" ته راغلم او هغه په خيبر کې وو، وروسته له هغې چې دوی فتحه کړی و، نو ما ورته وفرمايل:

ای د الله رسوله!

ماته هم په دې (غنيمت) کې برخه وکړه، نو د سعيد بن العاص له بچو څخه بعضو وويل، دې ته برخه مه ورکوه، ای د الله رسوله!

نو ابو هريرة "رض" فرمايي:

دا د ابن قوقل قاتل دی، نو د سعيد بن العاص ځوی راته وويل تعجب دی ماته په دې نولي باندې، چې دا مونږ ته له قدوم ضأن غر څخه راکوز شوی او ماته زما عيب راپه ګوته کوي، د قتلولو د داسې يو مسلمان، چې الله هغه ته زما په لاس عزت ورکړی او زه يې د هغه په لاسونو نه يم سپک کړی (يعنې زه يې دکفر په حالت کې د هغه په لاس نه يم وژلی) نو راوي فرمايي:

بيا ماته علم ونه شو، چې ابو هريرة ته يې برخه ورکړه او که ور يې نه کړه او سفيان فرمايلي:

ماته سعيدی د خپل نيکه نه او هغه له ابوهريرة نه دا حديث بيان کړی.

ابو عبدالله امام بخاري فرمايي:

سعيدی دا عمرو بن يحی بن سعيد بن عمرو بن سعيد بن العاص دی.

التفكر والمراقبة بذكر التطبيق والمناسبة

دې حديث کې د مصنف "رحمه الله" استاد او شيخ هغه عبدالله بن زبير بن عيسی دی، چې مشهور لقب يې حميدي دی، چې د توثيق او تعديل په باب کې د"ثقةٌ "حافظٌ په صفاتو موصوف دی. د ابن عيينه په ملګرو کې د لوی مقام مرتبې او حيثيت والا انسان دی، چې له دې نه امام بخاري "رحمه الله" دغه حديث په سند سره د ابوهريرة "رض" نه نقل کوي، مناسبت يې له ترجمة الباب سره لفظي په دې جمله کې دی:

" اکرمه الله علی يدی ولم يهنّی علی يد يه "

او په باب کې د مخکې ذکر شوي حديث سره يې هم په همدې کې مناسبت دی، چې د هغې حديث او د دې ـ دواړو په متن کې يوموقف ذکر شوی دی. والله اعلم !

إغاثة المغيث بذكر شرح الحديث

(قال: أتيت رسول الله -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- وهو بخيبر) دا جمله حاليه ده او دغه راتلل د ابودهريرة "رضي الله عنه" دا په دې کال باندې شوی وه او دا واقعه دهجرت په ووم کال باندې پېښه شوي وه.

(بعدما افتتحوها) دليل دی، چې خيبر په جنګ باندې فتح شوی دی.

(أسهم لي من غنائم خيبر) دا د افعال له باب څخه امر دی.

(فقال بعض بني سعيد بن العاص)او دا أبان بن سعيد "رضي الله عنه" وو نو دې رسول الله "صلی الله عليه وسلم" ته وفرمايل:

(لا تسهم له يا رسول الله) دې ته سهم مه ورکوه، غالباً ابو هريرة "رضي الله عنه" دغه وقت کې راغلی وو، چې غنيمت تقسيمېدو او د جنګ په وخت کې نه وو، نو ځکه ورته ابان بن سعيد وويل:

چې دې ته حصه په غنيمت کې مه ورکوه.

او ابن حجر "رحمه الله" دطحاوي په حوالې سره فرمايلي:

چې ابوهريرة "رضي الله عنه" رسول الله "صلی الله عليه وسلم" د نجد ته طرف لېږلی وو، نو چونکې د خيبر د تياري او حملې په وخت کې نه وو موجود، نو ځکه يې ورته غنيمت کې برخه ورنه کړه.

[فتح البارى ٦/۴١]

خو اصل خبره دا ده، کومه چې ابن بطال "رحمه الله" کړې، چې د خيبر غنيمت دا خاص ووو د حُديبې والا پورې لکه څنګه چې الله د هغوی سره وعده کړې وه: (وأخرى لم تقدروا عليها) نو که هرڅوک دې ته حاضر شوی هم وی، نو حصه به يې صرف د هغه چا ويو چې حديبيه کې حاضر وو او دې ته تخصيص ويلی شيي. [شرح ابن بطال ۴٠/۵]

نو أبو هريرة "رضي الله عنه" ته غوصه ورغله او ويې فرمايل: (هذاقاتل ابن قوقل) دا د ابن قوقل "رضي الله عنه" قاتل دا خبره کوي، ځکه دې د کفر په حال کې دغه صحابي "رضي الله عنه" شهيد کړی وو، چی نوم يې نعمان بن مالك بن ثعلبة بن أصرم الأوسي الأنصاري وو او قوقل يی لقب وو او بغوی نقل کړی، چې نعمان بن قوقل د أُحُد په ورځ وفرمايل:

(أقسمت عليك يا رب أن لا تغيب الشمس حتى أطأ بعرجتي في الجنة فاستشهد ذالك اليوم)

زه په تا قسم کوم، ای زما ربه! دا چې لمر به لا غروب شوی نه وی، چې زه به په خپله دې ګوډه پښه جنت کې چکر ووهم، نو بيا په همدې ورځ شهيد کړی شوو نو بيا نبی "صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ" وفرمايل: "لقد رأيته في الجنة وما به عرج"

ما يقيني په جنت کې وليده، خو په هغه باندې هيڅ ګوډ والی نه وو.

(فقال) نو أبان وفرمايل (واعجبًا) دا په تنوين سره اسم فعل ديو په معنی د أعجب سره او (وا) داپه شان د (واهًا) دی او (عجبًا) دا د پاره دتاکيد دی، خو چې کله په دې تنوين نه وي، نو بيا د دې اصل (وأعجبي) وی يعنی، وای زما تعجبه! لکه څنګه چې داسې وی چې: يا أسفی ويا حسرتی. علامه قسطلاني فرمايي: چې دا دليل دی، په دې چې (وا) حرف نداء استعمال په منادی غير مندوب کې هم جايز دی، لکه څنګه چې دغه رائه د مبرد ده او ابن مالك نحوی غوره کړې ده. [هدی الساری۵۸/۵]

او (عجبًا) ته نصب(وا) حرف ندا ورکړی دی.

(لوبر) په دې کې لام جاره دی (واو) او (با) دواړه مفتوح لوستل کيږي، دا يو حيوان دی، چې د خرګوش په اندازې او بعضې ترېنه غټ او بعې واړه هم دی، وړه لکۍ او واړه غوږونه لري، لکه د نورو حيواناتو غونډط واښه او ګياګانې خوري او اکثر په غرونو او ګاڼ جنه منطقو کې اوسيږي، خوراك يې هم جايز دی او خلك ورته د بني اسرائيلو ګډ وايي او دا ګمان کوي چې دا مسخ شوی (تدلی) يعنې راکوز شوي او دغه تدلی د هغه چا په صفت کې راځي، چې دبرا نه ښکته ته راکوز شوی وي.

(من قدوم ضأن) ضأن دا د دووس قوم په ځمکه کې د يو غر نوم دی او دغه قوم د ابو هريرة !رضي الله عنه" قوم دی.

(ينعى) يعنې عيب وايي، (عليّ) په ما با ند ې.

(قتل رجل مسلم أكرمه الله على يدي) په وجه د هغه مسلمان سړي د قتل چې هغه ته الله زما په لاسونو عزت ورکړ او هغه يې د شهادت په اعلی مقام فائز کړ.

(ولم يهنِّي على يديه) او زه يې د هغه په لاسونو ذليل نه کړم، په دې ډول چی زما مرګ يې د هغه په لاسونو د کفر په حال کې مقدر ونه ګرځاوه، ګنې زه به اوس په اور کې ذليل او رسوا اوسېدم، ځکه ابان ته الله دومره عمر ورکړ، چې توبه يې وويستله او د حديبې نه بعد او د خيبر نه مخکې يې اسلام راوړ.

(قالفلا أدري أسهم لـه أم لم يسهم له) ابن تين فرمايي: يا خو دغه قول د راوي بن عيينه او يا د بخاري د شيخ دی. کما [في العيني ١٢۵/١۴]

(قال سفيان وحدّثنيه السعيدي عن جده عن

أبي هريرة) -رضي الله عنه- چې دې سره امام بخاري" رحمه الله" د دې حديث دويم سند ته اشاره کوي، چې دا حديث په بل سند هم نقل دی او دې کې ايشاره ده مزيد تقويې د دې حديث ته. والله اعلم !
(قال أبو عبد الله): يعنى البخاري (السعيدي هو عمرو بن يحيى ابن سعيد بن عمرو بن سعيد بن العاص) يعنې د سعيدی نه مراد دلته دغه عمرو مراد دی.

فوائد الحديث

[۱] رسول الله "صلی الله علیه وسلم" به په خپله په جهادونو کې برخه اخيسته.
[۲] که يو انسان د ځان لپاره د امير او قائد يا مسؤل نه څه مال وغيره غواړي، دا به جايز وي.
[۳] شهادت د الله په نزد د عزت اوکرامت سبب دی.
[۴] اسلام مخکنې ګناهونه محوه کوي، اګر که حقوق العباد سره هم تعلق لرونکي وي
[۵] د کافر مرګ هغه عندالله ذلت رسوايي او سپک والی دی.
۲۹ - (باب من اختار الغزو على الصوم) باب دی په بيان د هغه چا کې چې هغه غزا ته په روژې باندې غوره والی ورکړي.

حصول الاجروالثواب بتشريح الكلمات مافي الباب

دلته هم دباب نه مخکې (هذا) مقدر ده، يعنې (هذا باب فيمن يعنى فى بيان من اختار الغزو على الصوم) او دا د دې لپاره چې روژه چونکې د انسان بدن کمزوری کوي، نو په دې اعتبار سره روژه وخوري، چې د جهاد لپاره يې بدن قوي پاتې شي.

مطر الرحمة والسحاب بذكرمناسبة ترجمة الباب مع الكتاب

دا باب د کتاب الجهاد د ابوابو د عدد او شمېرې په اعتبار سره (۲۹) نهه ويشتم نمبر باب دی.
امام بخاري "رحمه الله" په دې باب کې يو حديث د انس بن مالک "رضي الله عنه" ذکر کوي او مناسبت د ترجمة الباب د کتاب الجهاد سره په دې اعتبار سره دی، چې کتاب الجهاد کې د جهاد د فضيلت او احکامو متعلق د احاديثو دراوړلو التزام شوی او دلته ترجمة الباب کې د جهاد د اهميت په وجه جهاد ته په روژه نيولو باندې ترجيح ورکړل شوې، چې دليل دی، په اهميت او فضيلت دجهاد فی سبيل الله.
والله اعلم!
(حديث ۴۳) رقم الحديث ۲۸۲۴) -حدثنا ثابت البناني قال: سمعت أنس بن مالك -رضي الله عنه- قال:كان أبو طلحة لا يصوم على عهد النبي -صلى الله عليه وسلم- من أجل الغزو، فلما قبض النبي -صلى الله عليه وسلم- لم أره مفطرا إلا يوم فطر أو أضحى)
ژباړه: ثابت البناني "رحمه الله" فرمايي: ما د انس بن مالک "رضي الله عنه" واورېده، چې هغه فرمايل: چې ابو طلحه به د رسول الله "صلی الله عليه وسلم" په زمانه کې د غزاګانو (جهاد) له وجهې نه روژې نه نيولې، بيا چې کله نبي "صلی الله عليه وسلم" وفات شو، نو بيا مې په افطار (بوزه) باندې نه ليده، مګر يا د عيدالفطر او يا دعيد الأضحی (قرباني اختر) په ورځ.

التفكر والمراقبة فى ذكرالتطبى والمناسبة

په دې حديث کې د مصنف "رحمه الله" شيخ او استاذ هغه ادم بن أبی اياس "رحمه الله" دی، چې دت وثيق او تعديل په ميدان کې د ثقةٌ په وصف موصوف ديو د دې نه بخاري "رحمه الله" دغه حديث په سند سره د انس بن مالک "رضي الله عنه" څخه نقل کوي، بيا مناسبت د حديث د ترجمة الباب سره لفظا په دې جمله کې موافقت لري:
(لا يصوم على عهد النبي -صلى الله عليه وسلم- من أجل الغزو) والله اعلم
إغاثة المغيث بذكر شرح الحديث
(كان ابو طلحه) دا د انس بن مالک "رضي الله عنه" پلندر وو.
(لايصوم على عهد النبى صلى الله عليه وسلم) دا دابوطلحه خپل عمل وو، خو چونکې دغه کار يې د رسول "الله صلى الله عليه وسلم" په زمانه کې کولو نو د دې وجهې نه دا حديث حکما مرفوع شمارل کيږي.
(من أجل الغزو) همدا هغه مناسبت دی، د ترجمة الباب سره چې نفلی روژې به يې نه نيولې، د دې وجهې نه چې بدن يې کمزورې پاتې نه شي، ځکه جهاد کې مشقت او د بدن کړاو او استعمال زيات وي او روژه بدن ضعيفوي، نو په دې اعتبار سره به هغه جهاد ته به روژو باندې ترجيح ورکوله، (فلما قبض النبي -صلى الله عليه وسلم) دا بل دليل دی، چې دغه کار يې د نبي "صلی الله عليه وسلم" په ژوند باندې کولو، خو چې کله نبي "صلی الله عليه وسلم" وفات شو، نو بيا يې روژې ډېرې نيولې تر دې چې انس "رضي الله عنه" فرمايي: (لم أره مفطرا الا يوم فطر اوأضحى)
بيا به مې صرف په دې دوه ورځو کې بې روژې ليده، نور به يې هر وخت روژه نيوله او د أضحی نه مراد ټولې د تشريق ورځې دي. علامه قسطلاني فرمايي: (والمراد بيوم الأضحى ما تشرع فيه الأضحية فتدخل فيه أيام التشريق)
مراد د يوم الأضحی څخه هغه دی، چې قرباني کول په کې جائز وي، نو په دې کې ټولې ورځې د تشريق داخلې دي. [هدى السارى ۵/۵۹]
نو چې کله په دې ټولو ورځو کې قرباني جائز شوه، نو په دې ورځو کې روژه نيول ممنوع وګرځېده ،ځکه صحيح مسلم کې په رقم (۱۹۳۳) باندې حديث موجود دی، چې رسول الله "صلی الله عليه وسلم" فرمايي: (أَيَّامُ التَّشْرِيقِ أَيَّامُ أَكْلٍ وَشُرْبٍ)
د تشريق ورځې د خوراک او څښاک ورځې دي او راجحه ده، چې دا څلور ورځې دي او دعمر او ابو سعيد خدري "رضي الله عنهما" صريح روايت کې نقل دی، چې رسول الله "صلی الله عليه وسلم" د دې دوه ورځو د روژې نيولو نه منع فرمايلې ده، چې يوه د فطر او بله د نحر ورځ ده.
[صحيح البخارى رقم الحديث ۱۸۶۳ ــــ۱۸۶۴]
شفاء الأمراض بدفع الشبهة والاعتراض
دلته نه خو دا معلومه شوه، چې ابو طلحه "رضي الله عنه" د رسول الله "صلى الله عليه وسلم" په ژوند جهاد کولو او چې کله هغه وفات شو نو بيا يې جهاد ترک کړ؟
الجواب بعون الله الوهاب: زما ذهن ته د الله به خاص فضل او مشيئت سره دوه جوابه راځي: اول خو دا چې له دې شبهې او اعتراض نه دا هر اړخ نه معلوميږي، چې ابو طلحه "رضي الله عنه" جهاد پرېښی دی او دا مقصد ځکه نه دی، چې دا د ترجمة الباب د مقصود نه مخالف دی، ځکه ترجمة الباب کې د دې اثبات کوو، چې هغه جهاد ته په نفلي روژو ترجيح اوغ وره والی ورکړی وو او مذکور اعتراض د دې مفهوم مخالفت کوي، ځکه که داسې وي نو بيا خو يې روژې ته په جهاد ترجيح ورکړې، کوم چې د اعتراض په بناء د هغه اخري عمل دی، چې هغه ترک الجهاد او شروع فی الصوم دی.
دويم جواب: چې هغه ډېر اظهر دی او هغه دا چې هغه وخت، چې جهاد کوونکي کم وو او جهاد ته ضرورت ډېر وو او خاص کر په زمانه د حيات د نبي کريم "صلى الله عليه وسلم" کې نو دغه زمانه د روژو په ځای هغه جهاد ته کار ويلی وو او دا کار چونکې دې په زمانه د رسول الله "صلى الله عليه وسلم" کې کولو او د هغه به زمانه کې يو صالح عمل بغير د هغه "صلى الله اليه وسلم" د نکير نه ثابت شي، نو هغه حکم مرفوع ګڼلی شي، نو په دې بنار هغه دليل کې هم پيش کيدلی شی او همدې عمل ته اعتبار وی نه هغه عمل، چې هغه موقوف د صحابي وي او غالباً همدا د امام بخاري "رحمه الله" نظر هم دی، ځکه يې ورته ترجمة الباب هم تړلی ديو خو کله چې رسول الله "صلى الله عليه وسلم" وفات شو او دغه زمانه کې چونکې اسلام خپور شوی وو، د اسلام دفاع کوونکي ډېر شوي وو، نو بيا طلحه "رضي الله عنه" روژو ته شروع وکړه او دغه عبادت يې هم په کثرت سره کولو او دغه جواب د دې شبهې نه محدثينو هم کړی.
علامه قسطلاني "رحمه الله" د دې متعلق فرمايي:
(وكثر الإسلامواشتدت وطأة أهله على عدوهم ورأى أن يأخذ بحظه من الصوم) اسلام خپور شو او ددهغې دفاع کوونکي او د هغې په دوښمن حمله کوونکي زيات شو، نو دې مناسب وګڼله، چې اوس له روژو څخه هم خپله برخه حاصله کړي. [هدى السارى ۵/۵۸]
او دلته دا امکان هم شته، چې هغه نور زوړ شوی وو او دمستضعفينو په صف کې راغلی وو، نو جهاد د کولو نه معذور شوی وو او بيا يې روژې شروع کړې وې. والله اعلم!

فوائد الحديث

[۱] حديث دليل دی، په فضيلت د جهاد او مجاهد.
[۲] جهاد ته به په روژه ترجيح ورکولی شي، د عامة الفوائد له وجهی نه.
[۳]د رسول الله "صلى عليه وسلم" په زمانه کې که د يو صحابي عمل ثابت شي او نبي "صلى الله عليه وسلم" پرې نکير نه وي کړی، هغه هم د مرفوع حکم اخلي.
[۴] د قرباني اختر په ورځ کی روژه

نيول ممنوع ده.

[٥] دقرباني ورځې د تشريق ټولې ورځې دي.

[٦] د عيد الفطر په ورځ هم روژه نيول منع ده.

٣٠ - باب الشهادة سبع سوى القتل يعني دا باب دى، چې ذكر كيږي په كې دا چې شهادت په اوه (٧)قِسمه دى، سوا د قتل نه:

حصول الأجروالثواب بتشريح الكلمات مافى الباب

دلته هم د باب كليمه منونه نكره ده، مخكې ترينه (هذا) اسم اشاره مقدر دهو چې هغه مبتداء ده، يعنې (هذا باب) بيا دغه (باب) موصوف دى، صفت يې مقدر دى او هغه (يذكر فيه) دى الشهادة سبع يعنې سبعة انواع چې ټول عبارت داسې لوستى شو:

(هذا باب يذكرفيه الشهادة سبعة انواع) بيا د امام بخاري "رحمه الله" مقصد له دې باب نه دا ثابتول دي، چې شهيد د دې امت صرف هغه نه دى، چې په قتل ورته مرګ راشي، بلكې له دې نه بغير نور هم شته، اګر چه د قتل شهيد غوره او بهتر دى.

والله اعلم!

مطر الرحمة والسحاب بذكرمناسبة ترجمة الباب مع الكتاب

دا باب د كتاب الجهاد د ابوابو د عدد او شمېر په اعتبارسره ديرشم(٣٠) نمبر باب دى.

مصنف "رحمه الله" په دې كې دوه حديثه يو دابو هريرة او بل د انس بن مالك "رضي الله عنهما" ښخه ذكر كوي، بيا مناسبت د ترجمة الباب د كتاب الجهاد سره واضح دى، په لفظ د (سوى القتل) له جمله كې چې دليل دى، په جهاد كولو فى سبيل الله. والله اعلم!

(حديث ۴۴) (رقم الحديث ٢٨٢٥)

عن أبي هريرة -رضي الله عنه- أن رسول الله -صلى الله عليه وسلم- قال: «الشهداء خمسة: المطعون، والمبطون، والغرق وصاحب الهدم، والشهيد في سبيل الله»

ژباړه: دابوهريرة "رضي الله عنه" ښخه روايت دى، چې بې شكه رسول الله "صلى الله عليه وسلم" وفرمايل:

شهيدان پنځه (قِسمه) دي: هغه چې په طاعون وفات شي، هغه چې د خيټې په مرض وفات شي، هغه چې اوبو كې ډوب شي، چې د يو شي نه لاندې شي او هغه چې دالله په لاره كې شهيد شي.

التفكروالمراقبة فى ذكرالتطبيق والمناسبة

په دې حديث كې د مصنف "رحمه الله" شيخ او استاذ هغه، عبد الله بن يوسفالتنيسي "رحمه الله" دى، چې د تعديل او توثيق په باب كې دثقةٌ او متقنٌ په صفاتو موصوف ياديږي. د دې نه امام بخاري "رحمه الله" دغه حديث په سند سره له ابو هريرة "رضي الله عنه" نه نقل كوي او مناسبت د حديث د باب سره په "الشهداء خمسة" كلمه كې دى.

شفاء الأمراض بدفع الشبهة والإعتراض

په ترجمة الباب كې دا معنا چا ليدلې چې شهيدان سوا د مجاهد فى سبيل الله نه اوه (٧) دي او دلته حديث كې پنځه ذكر شوي، حتى كه دې باب كې وروستي راروان حديث هم يوځاى شي، بيا هم له پنځو نه نه زياتيږي، نو د دې نه خو صفا معلومه شوه، چې مدعا د ترجمة الباب د دې حديث نه مخالفه ده، نو مناسبت ثابت نه شو؟!

الجواب بعون الله الوهاب:

دې كې شك نه شته، چيرې ترجمة الباب كې اوه (٧) او حديث كې پنځه (٥) ذكرشوي، خو دلته د امام بخاري "رحمه الله" هغه رب وركړى فقاهت هم بايد ومنل شي، چې هغه كله كله ترجمة الباب كې د نا اشنا فقاهت او د كامل عبور فى علم الحديث مظاهره كوي او هغه دا چې په دې باب كې راغلي احاديث هغه دا دي، چې كوم عدد ته دې په ترجمة الباب كى ايشاره كړې، نو چونكې د دې په شرط نه وو، نو هغه نور يې ذكر نه كړل نو هغې ته يې ترجمة الباب كې ايشاره وكړه، لكه هغه حديث چې امام مالك "رحمه الله" به مؤطا كې د جابر بن عتيك "رضي الله عنه" نه په "٥۴٨" نمبر باندې ذكر كړى، چې: (الشهداءسبعة سوى القتل في سبيل الله) چې يو په هغې كې په اور سوزېدلى او بل هغه زنانه چې په ماشوم وفات كيږي، نو د دې متعلق علامه قسطلانى "رحمه الله" فرمايي:

("وهو موافق لما ترجم به لكنه ليس على شرطه فلم يورده بل نبه عليه في الترجمة إيذانا بأن الوارد في عدها من الخمسة والسبعة ليس على معنى التحديد الذي لا يزيد ولا ينقص أشار إليه ابن المنير")

ژباړه: همدا د موطا روايت موافق دى، د هغه عدد سره چې امام بخاري ورته ترجمه وضع كړې، لكن دومره ده، چې دغه روايت د ده په شرط نه وو، نو ځكه يې نه دى راوړى، بلكې خبردارى يې وركړى، په ترجمة الباب كې په دې چې دغه د پنځو (٥)او د وو (٧)دا شميره په هغه انداز نه ده، چې په دې عدد كې به زياتى او كمى نه راځى او دط ته ابن منير اشاره كړې ده. [هدى السارى ٥٩/٥]

دغه ډول نوراقسام هم د شهداو په احاديثو كې ذكر شوي، چې له وو(٧) نه زيات دي، نومعلوميږي چې د بخاري "رحمه الله" دغه باب په عدد مذكور باندې تحديدي نه دى، كما قال القسطلانى نو په دې اعتبارسره هغه شبهه اواعتراض هم ختم شو.

والحمد لله رب العالمين

إغاثة المغيث بذكر شرح الحديث

(الشهداء خمسة) دا مبهم او مجمل دى، اوس يې تفسير او تفصيل كوي.

(المطعون) دا هغه چاته وايي چې په طاعون كې وفات شي، په دې شرط چې مسلمان وي، مشرك او مرتد نه وي، بيا دا هغه مرض دى، چې باذن الله عموم راځي اوانسانان نيسي، چې دا يو غوټه د انسان په تخرګ (ترخ) او يا هم په ستونې كې راخيژي، چې د هغط له امله انسان مري.

(والمبطون) دا د اسم مفعول صيغه ده. هغه چاته ويل كيږى، چې د خيټې د خرابېدو په مرض مبتلا شوى وي او د هغې په سبب ورته مرګ راشي، نو دا مرګ د ده د شهادت مرګ حسابيږي.

(والغرق) د(فا) په زبر او د(راء) په زير سره دا مصدر مبنى للفاعل دى، هغه چاته ويلى شي، چې اوبو كى غرق شي (وصاحب الهدم) د(ها) په زبر اود (دال) په سكون (غړوندي) سره دا هغه چاته ويلى شي، چې ديو شي نه لاندې شي او مرګ ورته راشي، نود ده مرګ هم د شهادت دى.

(والشهيد) او د دې معنا او وجه د تسميى مخكې په الفرح المزيد بحصول فهم معنى الشهيد كې تېره شوې، خو دلته يې خلاصه معنا دا چې كامل او حقيقي شهيد هغه هاغه دى، چى قتل شي (في سبيل الله) په لاره دالله عز وجل كې.

فوائد الحديث

[١] حديث دليل دى، په فضيلت د جهاد او مجاهد، ځكه چې په جهاد كې قتل شوي ته يې شهيد فى سبيل الله وويل.

[٢] كه په دنيا كې يو مسلمان څومره په سخته او مصيبت سره وفات كيږي، خو بدل كې يې الله تبارك وتعالى دغه حادثه دشهادت حسابوي.

[٣]دليل دى، چې الله تبارك وتعالى په خپل مخلوق بې حده مهربانه دى.

[۴] دليل دى، په فضيلت د دې أمت.

[٥] بې شكه چې شهدا د دې أمت ډېر دي، خو افضل او غوره قِسم په دې كې هغه دى، چې دالله د دوښمنانودپه مقابل كې قتل شي.

[٦] دفى سبيل الله د شهيد نه بغېر نور ټول ذكر شوي شهدا صرف د اخرت په اعتبار سره شهدا دي، د دنيا په اعتبار سره پرې دشهداو اطلاق نه كيږي.

مثلا غسل به وركول كيږي كفن او جنازه وغيره...

البته فى سبيل الله شهيد دا د دنيا او اخرت دواړو په اعتبارسره حكم اخلي.

(حديث ۴٥)(رقم الحديث ٢٨٢٥)

عن أنس بن مالك -رضي الله عنه- عن النبي -صلى الله عليه وسلم- قال: «الطاعون شهادة لكل مسلم»

ژباړه: د انس بن مالك "رضي الله عنه" نه روايت دى، هغه د نبي "صلى الله عليه وسلم" نه روايت كوي، چى هغه وفرمايل: طاعون د هر مسلمان دپاره (كه په دې مړ شي) شهادت دى.

التفكر والمراقبة فى ذكرالتطبيق والمناسبة

په دى حديث كې د مصنف امام "رحمه الله" شيخ او استاذ هغه بشر بن محمد السختياني المروزي "رحمه الله" دى، چې د تعديل او توثيق په باب كې د صدوق په وصف موصوف دى، د دې نه بخاري "رحمه الله" دغه حديث په سند سره دانس بن مالك "رضي الله عنه" نه ذكر كوي، بيا مناسبت د حديث د ترجمة الباب او دغه ډول د مخكې ذكر شوي حديث سره په دې جمله كې دى: (الطاعون شهادة لكل مسلم)

إغاثة المغيث بذكر شرح الحديث

الطاعون شهادة لكل مسلم دطاعون متعلق وضاحت مخكې حديث كى

ذكر شوی دغه ډول د مخكې حديث فوايد كافي دي، له دې نه چې دلته د دې فوائد ذكر شي. والحمد لله رب العالين!

٣١ - باب

قول الله عز وجل: {لا يستوي القاعدون من المؤمنين غير أولي الضرر والمجاهدون في سبيل الله بأموالهم وأنفسهم فضل الله المجاهدين بأموالهم وأنفسهم على القاعدين درجة وكلا وعد الله الحسنى وفضل الله المجاهدين على القاعدين -إلى قوله- غفورا رحيما}

باب دی، په باره د دې قول د الله عزوجلّ چې فرمايي:

ژباړه: برابر نه دي (حيثيت اومرتبې كې) ناست خلك (دجهاد نه) د مؤمنانو څخه بغير له هاغو چې د عذر خاوندان دي او هغه چې جهاد كوونكي دي په لاره د الله كې په مالونو او ځانونو خپلو سره ځكه چې غوره والی وركړی الله تبارك وتعالی مجاهدينو ته په ناستو خلكو له جهاد نه درجه او هر يو سره له دوی (دواړو قسمونو) نه الله خايسته وعده كړې ده او غوره والی وركړی الله مجاهدينو ته په ناستو بانديې ....تر دې ځايه چې فرمايي: ښښونكی رحم كونكی دی .

حصول الأجر والثواب بتشريح الكلمات مافى ترجمة الباب

(باب) يعني هذا باب في قول الله عزوجل) او په بعضو نسخو كې قول الله تعالی ذكر دی (لا يستوي القاعدون) د دې متعلق مقدر دی، يعنی عن الجهاد چې مراد د دې نه هغه مؤمنان دي، چې بغير له شرعي عذر نه د جهاد څخه ناست شوي دي، خو مؤمنان دي، نو ځكه يې وفرمايل : {من المؤمنين} دلته دا معنا د تبعيض نه بلكې د بيان لپاره دی او دا حال دی دقاعدون څخه؛

{غير أولي الضرر} دلته لفظ (غير) مرفوع دی، داصفت دی د(قاعدون) او ضرر نه مراد هر هغه شرعي عذر دی، چې انسان پرې معذور گرځي لكه، ړوند والی، گوډ والی او مرض وغيره، نو دلته چونكې دغه ناست مؤمنان دغه اعذار نه لري او بيا هم له جهاد نه ناست دي، نو ځكه يې وفرمايل:

چې د دوی او د هغه چا ترمنځ مساوات او يوشان والی نه شته، چې هغوی {والمجاهدين في سبيل الله بأموالهم وأنفسهم} دالله په لار كې په خپلو مالونو او ځانو نو سره جهادونه كوي.

علامه قسطلاني "رحمه الله" د دې ايت د فائدې متعلق فرمايي:

("وفائدته تذكير ما بينهما من التفاوت ليرغب القاعد في الجهاد رفعا لرتبته وأنفة عن انحطاط منزلته")

يعني په دې عدم مساوات سره الله تبارك وتعالی دغه تفاوت بيانوي او ترغيب وركوي، په دې سره هغه ناست كس ته له جهاد څخه، چې خپله رتبه اوچته او د پريوتې رتبې نه ځان اوساتي {فضل الله المجاهدين بأموالهم وأنفسهم على القاعدين} نو دا تفصيل دی، د هغه ابهام چې په باره د عدم مساوات كې په مابين د مجاهدينو او بې عذره قاعدينو كې ذكروو، نو گويا چې سوال وشوو څه وجه ده، چې قاعدين مجاهدينو ته نه شي رسېدلی، نو جواب وشو (فضل الله المجاهدين .... (درجة) دا منصوب بنزع الحافض دی، يعنی بدرجة (وكلاً) دا اول مفعول دی د (وعد) لپاره او (الحسنى) يې دويم مفعول دی.

مطر الرحمة والسحاب بذكرمناسبة ترجمة الباب مع الكتاب

دا باب د كتاب الجهاد د أبوابو د عدد او شمېر په اعتبار سره يو دېرشتم (٣١) نمبر باب دی.

مصنف "رحمه الله" په دې باب كې دوه احاديث ذكر كوي، يو د براء بن عازب او بل د زيد بن ثابت "رضي الله عنهما" بيا مناسبت د ترجمة الباب د كتاب الجهاد سره واضح دی، په دې ډول چې كتاب الجهاد كې د جهاد د احكامو او د فضيلت متعلق د احاديثو راوړلو التزام شوی او ترجمة الباب كې د مجاهدينو دجهاد په وجه افضليت او په نه جهادكوونكو مؤمنانو يې د درجې داو چت والي ذكر شوی.

والله اعلم!

.

(حديث ٤٦) رقم الحديث ٢٨٢٦

عن أبي إسحاق قال: سمعت البراء -رضي الله عنه- يقول: "لما نزلت {لا يستوي القاعدون من المؤمنين}

دعا رسول الله -صلى الله عليه وسلم- زيدا فجاءه بكتف فكتبها. وشكا ابن أم مكتوم ضرارته فنزلت: {لا يستوي القاعدون من المؤمنين غير أولي الضرر} ژباړه: ابو اسحاق فرمايي:

ما د براء "رضي الله عنه" څخه واوريده چې فرمايل يې: چې كله دا ايت نازل شو چې {لايستوي القاعدون من المؤمنين ....} نو رسول الله "صلى الله عليه وسلم" زيد "رضي الله عنه" لره راوغوښته، نو هغه د اُوږې د هډوكي سره راغی، پس دا ايت يې وليكه او شكايت وكه بن ام مكتوم د ړوند والي، نو بيا وروپسې (داحصه) نازله شوه، چې (غيراولی الضرر)

التفكر والمراقبة فى ذكرالتطبيق والمناسبة

په دې حديث كې د امام بخاري "رحمه الله" شيخ او استاذ هغه أبو الوليد هشام بن عبد الملك الطيالسي "رحمه الله" دی. چې د توثيق او تعديل په باب كې د"ثقةٌ ثبتٌ" په صفاتو موصوف راوي ديو د دې نه دغه حديث مصنف "رحمه الله" په سند سره دبراء "رضي الله عنه" نه نقل كوي، بيا مناسبت د حديث د ترجمة الباب سره لفظي موافق دی، هغه داسې چې ترجمة الباب كې د مجاهدينو د فضيلت او اعلی درجې چې كوم ايت كې ذكر شوی، نو دلته حديث كې د هغې آيت د نزول واقعه او سبب ذكر شوی. والله اعلم!

إغاثة المغيث بذكر شرح الحديث

دعا رسول الله -صلى الله عليه وسلم- زيدا) او دا زيد زيد ابن ثابت الأنصاري "رضي الله عنه" وو، چې دا هم د وحې د كاتبانو څخه وو (فجاء بكتف) له زبر د(كاف) او زير د(تا) سره دا هغه پلن نرى هډوكی دی، چې د حيوان په اوږه كې وي، نو هاغه زمانه كې كاغذونه او نور د ليكلو آلات پريمانه موجود نه وو، نو د دې وجهې نه دوی به دغه په هډكو د ونو په پوستكو او همدارنگې په څرمنو وغيره وو ليكل كول، (فكتبها) يعني (فيه) په دې هډوكي كې يې وليكه،

(وشكا ابن أم مكتوم) د ده خپل نوم عمرو أبو عبد الله بن زائدة العامري وو او أم مكتوم د دې مور وه، چې نوم يې عاتكة وه (ضرارته) دا د سترگو د نظر ختمېدو ته وايي، نو دې چې دغه درجه وليده نو خفه شو، چې زه خو له مجبورئ نه نه وځم، نو خفه شو شكايت يې وكړ (فنزلت) نو د دې سره فوراً دا برخه د آيت نازله شوه:

{لا يستوى القاعدون من المؤمنين غير أولي الضرر}

فوائد الحديث

[١] حديث دليل دی، په فضيلت د جهاد او مجاهد.

[٢] مؤمنان كه جهاد نه كوي بيا هم د الله په نزد غوره والی لري.

[٣] دجهاد نه بغير هيڅ مؤمن د مجاهد درجې ته نه شي رسېدلی.

[٤] الله سبحانه وتعالی په خپل مخلوق رحم كوونكی دی، د هغوی د توان او طاقت موافق ورباندې تكليف راولي.

[٥] مؤمن بايد عندالله د اوچت مقام درجې او مرتبې طلبگار وي.

[٦] كوم انسان چې د فضيلت نه محروميږي، په هغې بايد خفه شي.

[٧] د دې لپاره چې يو شی ضايع ورك او هير نه شي، د هغې ليكل په كار دي.

[٨] قران به چې نازلېده، نو رسول الله "صلى الله عليه وسلم په امر به ليكل كېده.

[٩] دعذر په وجه كه يو انسان د جهاد څخه كيني او زړه يې د دې غوښتونكی وي، چې جهاد وكړي، د دې نيت عندالله قبول دی او د مجاهد درجه ورته الله وركوي.

والله اعلم!

حديث (٤٧) [رقم الحديث ٢٨٢٧]

(عن ابن شهاب عن سهل بن سعد الساعدي أنه قال: "رأيت مروان بن الحكم جالسا في المسجد فأقبلت حتى جلست إلى جنبه , فأخبرنا أن زيد بن ثابت أخبره) أن رسول الله -صلى الله عليه وسلم- أملى عليه: {لا يستوي القاعدون من المؤمنين والمجاهدون في سبيل الله}

قال فجاءه ابن أم مكتوم وهو يملها علي فقال: يا رسول الله لو أستطيع الجهاد لجاهدت -وكان رجلا أعمى- فأنزل الله تبارك وتعالى على رسوله -صلى الله عليه وسلم- وفخذه على فخذي. فثقلت علي حتى خفت أن ترض فخذي. ثم سري عنه، فأنزل الله عز وجل: {غير أولي الضرر} ژباړه: ابن شهاب زهري رحمه الله د سهل بن سعد الساعدي نه روايت كوي چې ده وفرمايل: ما مروان بن الحكم په داسې حال كې وليده چې مسجد كې ناست وو، نوزه ورته مخامخ شوم تردې چې د هغه څنگ كې كيناستم نو مونږ ته يې خبر راكه چې (ويل يې) زيد بن ثابت ده ته خبر وركړی وه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د باندې دغه ايت املا كولو چې {لايستوي القاعدون من المؤمنين والمجاهدون فی سبيل

الله} فرمايي : نو پس ده (رسول الله صلی الله عليه وسلم ته) ابن ام مکتوم راغلو او رسول الله صلی الله عليه وسلم دغه ايت په ما باندې د ليک لپاره لوستلو چې ده ورته وفرمايل: ای د الله رسوله که ما جهاد کولی شوی نو ضرور به مې کړی وای او دا کس ړوند وو، نو الله تبارک وتعالی په خپل رسول نازلول شروع کړل او د هغه پتون زما د پتون د پاسه وه، نو دروند شو تردې چې زه ويرېدم د دې نه چې زما پتون مات نه شي بيا وحيې قطع شوه له هغه نه نو الله عزّوجلّ (دغه برخه د ايت) نازله کړه چې غيرأولي الضرر ...

التفکرو المراقبة فی ذکرالتطبيق والمناسبة

په دې حديث کې د مصنف رحمه الله شيخ او استاذ هغه عبد العزيز بن عبد الله الأويسي رحمه الله دی، چې د "ثقة" صفت لري، چې له ده نه دغه حديث په سند سره مصنف د زيد بن ثابت رضی الله عنه نه نقل کوي، بيا تطبيق د دې حديث د مخکې حديث سره ښکاره معلوم دی، چې هغه واقعه د شأن نزول ده چې د مخکې حديث نه په لږ زيات تفصيل سره دلته ذکر شوی.

اغاثة المغيث بذکر شرح الحديث

(عن ابن شهاب) دا محمد بن مسلم الزهري رحمه الله دی چې د ده په جلالت، فقاهت او اتقان باندې د امت اتفاق دی (عن سهل بن سعد الساعدي) د اصحابي دی، دا حديث يې د تابعي نه اورېدلی فرمايي (رأيت مروان بن الحکم) چې دا دغه وقت د مدينې امير و، او زمانه د معاوية رضی الله عنه وه، چې بيا وروسته خليفه شو (جالسا في المسجد) مراد ترينه مسجد نبوي دی (فأخبرنا أن زيد بن ثابت) الانصاری رضي الله عنه ترينه مراد دی (أخبره).

د دې فاعل همدا زيد رضی الله عنه دی او مخبر له مراون دی (فأنزل الله تعالى على رسوله -صلى الله عليه وسلم- وفخذه على فخذي) دا هغه وقت کېږي چې څنګ په څنګ کيني، نو دغه صحابي د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره نږدې ناست وو (فثقلت علي) دغه پتون د نبي صلی الله عليه وسلم يا دوی چې دا په ما سخت دروند شو (حتى خفت أن ترض فخذي) دا هغې ته وايي چې وتکيږي او په تکېدو سره مات مات شي او دغه دروند والی د وحيې په سبب وو، ځکه وحيې درونده او ثقيل بوج دی، (ثم سري عنه) دا د کشف او لري والي په معنا ده يعنې بيا دغه وحيې قطع شوه د هغه نه، نو الله عزوجل دا نازل کړ چې {غير أولي الضرر) د مذکور حديث متعلق قسطلاني فرمايي (وحديث الباب من أفراد) [البخاري، ومسلم.].

دا حديث د امام بخاري او مسلم د هغو احاديثو له جملې څخه دی چې بل چا نه دی روايت کړی.

[هدی الساری: ٥/٦٢]

لذّة الحَورة في توضيح مسألة هل الفخذمن العورة

دلته د دې حديث نه ثابته شوه چې فخذ عورت نه دی، البته دغه مسأله په دې فهم سره د أمت د أهل علمو په نزد اتفاقي نه دهو، بلکې أهل علم د دې او دې ته ورته احاديثو کې د "فخذ" څخه په استنباط کې تفصيل او وضاحت کوي.

(١) يو قول د جمهورو أهل علمو دی، هغوی وايي چې فخذ (پتون) مطلق عورة دی، د دوی په لاس کې دليل هغه احاديث دي چې هغې کې صراحت سره ذکر دی چې پتون عورت دی خو دا بيا بيل بحث دی چې هغه روايات قابل د دې نه دي چې احتجاج پرې ونيولی شي اگر چې بعضې اهل علم هغه احاديث د کثرة له وجې بعضې د بعضو لپاره د تقويې سبب گرځوي، والله اعلم.

(٢) قول دا دی چې دا عورت نه دی. دوی دليل هغه احاديث پېش کوي چې هغې کې نبي صلی الله عليه وسلم خپل پتون مبارک ښکاره کړی، نو که بالفرض پتون عورت وي، نو هرگز به نبي صلی الله عليه وسلم نه وي ښکاره کړی او دا قول چې پتون عورت نه دی. د عطاء بن ابي رباح امام داود, او د امام محمد بن جرير او د شوافعو څخه د امام أبو سعيد الإصطخري او يو روايت کې دا قول د امام أحمد [رحمهم الله اجمعين دی]

علامه ابن بطال رحمه الله فرمايي: من قال (إن الفخذ ليست بعورة ؛ لأنها لو كانت عورة يجب سترها ما كشفها النبى صلى الله عليه وسلم يوم خيبر ، ولا تركها مكشوفة بحضرة أبى بكر وعمر) ژباړه: او چاچې ويلي چې پتون عورت نه دی، د دې وجهې نه چې که چرته دا عورت وي نو واجب به وو پټول د هغې او لوڅ کړی به نه وو هغه لره نبي صلی الله عليه وسلم او نه به يې داسې لوڅ پرېښودلو، د ابوبکر او عمر (رضی الله عنهما) په موجود گۍ کې [شرح ابن بطال: ٢/٣٣]

نو دا چې دې باب کې روايات دوه قسمه دي، نو جمهورو چې عورت گرځولی نو دوی اعتبار هاغو رواياتو ته ورکړي چې هغې کې تصريح ده په غورت والي د پتون.

او بلې ډلې د اهل علمو چې دغه عورت نه دی گرځولی نو هغوی د جمهورو دلايل، غېر ثابت گڼي او هغه روايات قوي گڼي چې هغې نه دا معلومېږي چې پتون عورت نه دی.

خودا چې تطبيق دواړه قسمه رواياتو ترمنځه راشي نو په دې آساس امت مسلمه کې يو جماعت اهل علم داسې هم شته چې هغوی دواړه اقوال قابل د عمل او اعتقاد گڼي داسې چې هغوی وايي (فخذ) پتون عورت دی، خو مغلظ نه دی، لکه د"قبُل "او"دبر "پشان او داسې هم نه دي چې هر وقت او هر حال کې لوڅ وي نو باک نه لري نو د دې وجهې نه.

قال شيخ الإسلام رحمه الله فرمايي: (فإذا قلنا على أحد القولين وهو إحدى الروايتين عن أحمد : أن العورة السوأتان ، وأن الفخذ ليست بعورة ، فهذا في جواز نظر الرجل إليها ؛ ليس هو في الصلاة والطواف ، فلا يجوز أن يصلي الرجل مكشوف الفخذين ، سواء قيل هما عورة أو لا ، ولا يطوف عريانا) ژباړه نو پس که مونږ چرته وايو د يو هغه قول موافق چې هغه يو روايت دی، د احمد نه او هغه داچې بد (ناکاره يا کلک) عورت هغه دوه دی، (قبل او دبر) او پتون چې دی، نو هغه عورت نه دی خو دا صرف د پاره د جواز د کتلو د سړي هغې ته، نه دی دا حکم (د عدم العورة) په لمونځ او طواف کې، نو پس د دې وجې نه جايز نه دی چې يو سړی دي لوڅ پتونان لمونځ وکړي، بيا برابره خبره ده چې که دا وويل شي چې دا عورت دی، او که دا چې عورت نه دی او نه به طواف کوي لوڅ پتونان. [مجموع الفتاوی: ٢٢/١١٦]

دغه ډول ابن بطال د اوزاعي رحمه الله څخه نقل کړي فرمايي:

[قال الأوزاعىالفخذ عورة وليست بعورة فى الحمام) ، فدل أنها لا تقوى عندهم قوة العورة، وإن كانوا يأمرون بسترها) ژباړه : اوزاعي (رحمه الله) فرمايلي فخذ عورت دی خو په حمام کې عورت نه دی. (ابن بطال فرمايي) نو پس دا دليل شو په دې چې پتون د دوی (سلفو) به نزد د (غليظ) عورت په قوة کې نه دی، دغه ډول د امام مهلب قول نقل کوي فرمايي: (وقد أجمعوا أن من صلى منكشف القبل والدبر، أن عليه الإعادة واختلفوا فيمن صلى منكشف الفخذ، فدل أن حكمه مخالف لحكم القبل والدبر لاختلاف المعنى فى ذلك) ژباړه : او يقينا اجماع کړي علماوو په دې چې که چا لمونځ وکړو په داسې حال کې چې قبل او دبر يې لوڅ وو، نو په ده باندې د لمونځ اعاده لازم ده. خو اختلاف لري په هغه چاکې که لمونځ وکړي داسې حال کې چې پتون يې لوڅ وي، نو پس دا دليل شو په دې چې حکم د پتون د قبل او دبر د حکم نه د وجهې د اختلاف نه په دې معنی کې [شرح ابن بطال /٢/٣٣ و ٣٤]

نو د جانبينو دلائلو ته په کتو سره دا راجح ښکاري چې پتون مطلقا عورت هم نه دی لکه د مغلظ عورت په شان او د بدن د نورو اندامونو غوندې غېر عورت هم نه دی. نو چې کله فتنه جوړېږي لکه امرد هلکان وي، پتونان ښکاره کوي، يا يو ځای کې لار وي زنانه او عام خلک تېرېږي او يو کس پتونان لوڅ کړي وي، نو دغه وخت کې د پتونانو ښکاره کول فتنه پيدا کوي، لهذا دغه او دې ته ورته مواضعو کې به عورت گڼل شي او که حمام وغېره د غسل وخت کې ښکاره شي، نو بيا غورت نه دی، خو دا حکم ټول د نارينه وو باره کې دی، زنانه د دې نه مستثنی دي، ځکه زنانه ټول عورت دی. (ما ذكرت الشريعة منها والله أعلم)

فوائد الحديث

[١] د صحابه او تابعينو مجالسو کې به د قرآن او احاديثو بيانونه او مسائل ذکر کېدل.

[٢] افضل د مفضول او اعلی له ادنی نه علم حاصلولی شي.

[٣] صحابه د رسول صلی الله عليه وسلم د تکبر غرور او انانيت نه پاک وو.

[۴] د راجح قول مطابق د نارينه پتون مطلقا عورت نه دی، خو د کتو په حق کې.

[٥] د وحې نزول به په رسول الله صلی الله عليه وسلم ډېر درونده تماميده. باقي فوائد په مخکې حديث کې ذکر شوي.

د خراسان غږ مجلې درنو لوستونکو! په دې ګڼه کې مو هم ستاسې ځينې رالېږلې پوښتنې ځواب کړې دي ،که تاسې نورې ورته پوښتنې لرئ نو زموږ په ادرسونو يې موږ ته راواستوئ

په دارالحرب کې په خطا سره مسلمان قتلول

سوال: کله چې په دارالحرب کې د مجاهد نه داسې څوک ووژل شي چې دا پرې ګمان د کافر کوي او هغه مسلمان وي او يا اصلي هدف يې کافر وي، خو په خطا سره ترينه مسلمان ووژل شي، نو دا څه حکم لري؟

جواب: کله چې د يو مجاهد څخه د کافر په ګمان يو مسلمان ووژل شي او يا اصلي هدف کافر وي، خو مسلمان ترينه ووژل شي، نو دا قتل خطا ده، ځکه د قتل خطا تعريف علماوو داسې کړی دی:

قال الامام ابن المنذر :[أجمع كل من نحفظ عنه من أهل العلم، على أن القتل الخطأ، أن يرمي الرامي شيئا، فيصيب غيره لا أعلمهم يختلفون فيه .(الاشراف على مذاهب العلماء- 4917)

ژباړه: امام ابن المنذر رحمه الله ويلي دي: ټولو علماوو اجماع کړې چې قتل خطا دې ته وايي: چې يو ويشتونکی يو شی ولي نو بل شی ترينه ولګيږي او ما ته د علماوو اختلاف په دې کې نه دی معلوم.

نو علماوو ددغه تعريف دوه توجيهات او مقصدونه ذکر کړي دي.

اول: ان يرمي الصيد أو يفعل ماله فعله فيقتل إنسانا.

ژباړه: چې ښکار ولي او يا داسې کار کوي، چې د هغې کول ورته جائز وي، نو په دې کې انسان قتل کړي.

دوهم: أن يرمي في دارالحرب من يظنه حربيا ويكون مسلما.)المغني: 9/339)

ژباړه: چې دارالحرب کې داسې څوک وولي چې ګمان پرې د کافر کوي او هغه مسلمان وي.

نو زموږ موضوع د قتل خطا ددويمې توجيه سره سمون لري، چې ددې لپاره دوه صورتونه دي:

١- صورت: مجاهد ترينه په حالت د جنګ کې د کافر په ګمان يا د اصلي هدف خطا کولو په وجه قتل شي، نو په دې صورت کې به ديت ورکوي؛ خو د امام شافعي) رحمه الله(په نيز کله يې چې قاتل معلوم وي، نو کفاره پرې هم شته دی

)انظر السنن الصغير للبيهقي :3/261)

خو ديت به يې په بيت المال وي دليل: وعن محمود بن لبيد رضى الله عنه قال لما خرج رسول الله صلى الله عليه وسلم إلى أحد فذكرالقصة - وقال وأما ابوحذيفة فالتقت عليه اسياف ُ المسلمينَ ولم يعرفوه فأراد رَسولُ اللهِ صلَّى اللهُ عليه وسلَّم أن يَدِيَه، فتصَدَّقَ حُذَيفةُ بدِيَتِه على المسلِمينَ) أخرجه ابن اسحاق كما في سيرة ابن هشام 3/127 - واخرجه

احمد والحاکم والبیهقي بسند حسن)

ژباړه: د محمود بن لبید رضی الله عنه نه نقل دي هغه وایي: هر کله چې رسول الله) صلی الله علیه وسلم(أحد غزا ته ووته نو دغه قیصه یې ذکر کړې ده؛ او وایي: او هر چې د حذیفه رضي الله عنه پلار و، نو ده باندې د مسلمانانو توري راجمع شوې او هغه یې ونه پیژندلو، نو رسول الله) صلی الله علیه وسلم(د هغه ددیت ورکولو اراده کړې وه، نو حذیفه رضی الله عنه د هغه دیت مسلمانانو ته معاف کړ .

2- صورت: چې مسلمان په دارالکفر کې اوسیږي او هجرت یې نه وي کړی او د کافر په گمان او یا د اصلي هدف خطا کولو په وجه ترېنه دغه مسلمان قتل شي، نو دیت یې نشته .

دلیل: الله تعالی فرمایي: [فَإِنْ كَانَ مِنْ قَوْمٍ عَدُوٍّ لَكُمْ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُؤْمِنَةٍ...)سورة النساء: 92(

ژباړه: که چېرته وي دغه وژلی شوی شخص د هغه قوم نه چې ستاسو دښمن دی او دغه وژل شوی مؤمن وي، نو ازادول د مؤمن غلام دي.

ابن عباس) رضی الله عنهما (د ذکر شوي ایت په باره کې فرمایي: [کان الرجل یسلم ثم یأتي قومه فیقیم فیهم وهم مشرکون فیمر بهم الجیش لرسول الله صلی الله علیه وسلم فیقتل فیمن یقتل فیعتق قاتله رقبة ولا دیة له.) صحیح اخرجه ابن المنذر في الاوسط 9392 - وابن ابي حاتم. 5797 - والبیهقي في الصغری 3182(

ژباړه: یو سړی به اسلام قبول کړ، بیا به خپل قوم ته لاړ او په هغوی کې به وسېدو په داسې حال کې چې هغوی به مشرکان و، نو په دوی به د نبي) علیه السلام(لښکر ورتېرېدو نو دا مسلمان به هم په دغه مشرکینو کې ووژل شو، نو بیا به دده قاتل یو غلام ازاد کړ او دیت به یې نه و. دا قول چې دیت یې نشته د سعید بن جبیر، ابراهیم النخعي، عطاء، مجاهد، عکرمه، قتادة، سدي، اوزاعي، ثوري، ابو ثور، ابو حنیفه، شافعي، طبري او یو روایت د امام احمد) رحمه الله(دی او خرقي او ابن قدامه) رحمهم الله(غوره کړی دی امام احمد رحمه الله وایي:[إذا أصاب مسلما في دار الحرب وهو لا یعرفه کان علیه الرقبة ولا دیة علیه وذکر الآیة " فَإِنْ كَانَ مِنْ قَوْمٍ عَدُوٍّ لَكُمْ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُؤْمِنَةٍ ﴾...)نقله عنه المروزي و أبو طالب کما في المسائل الفقهیة من کتاب الروایتین والوجهین لأبي یعلی القاضي 2/297 (

ژباړه: کله چې په دارالحرب کې یو مسلمان ووژني چې نه یې پیژني، نو په ده باندې غلام آزادول دي او دیت پرې نشته، چې بیا یې ایت ذکر کړی دی.

امام ابن حزم په المحلی)10/136 (کې وایي:[وکذلك السریة التي أسرعت بالقتل في خثعم وهم معتصمون بالسجود وإذا هم متأولون فهم قاتلوا خطأ بلا شك فسقط القود ثم نظرنا فیهم فوجدنا کلهم في دارالحرب في قوم عدو لنا فسقطت الدیة بنص القران ولم یبق إلا الکفارة ...]

ژباړه: همدا رنگه هغه سریه) گروپ (چې د خثعم قبیلې د قتل باره کې یې تلوار کړی و، په داسې حال کې چې هغوی ځانونه په سجده بچ کول، نو کله چې دغه مجاهدین ددوی په قتلولو کې تاویل کوونکي و، نو دوی نه قتل خطا وشو بغیر د شک نه، نو قصاص ختم شو، بیا چې کله مونږ ددوی په حال کې نظر وکړ نو دوی ټول په دارالحرب کې اوسېدل، په هغه قوم کې چې زمونږ دښمنان و، نو دیت یې په نص قرآني سره ختم شو، نو صرف کفاره ورکول پرې پاتې شو. ددوی نه د دیت د ساقطېدو)ختمېدو (وجې دادي : چې وارثان یې کافران و او یا یې د هجرت نه کولو په وجه حرمت کم شوی دی. دغه علت یې امام شوکاني)رحمه الله(په)فتح القدیر: 1/498 (کې بیان کړی دی؛ هغه وایي: [واختلفوا في وجه سقوط الدیة فقیل وجهه أن أولیاء القتیل کفار لا حق لهم في الدیة ، وقیل وجهه أن هذا الذي آمن حرمته قلیلة لقول الله تعالی ﴿ وَالَّذِينَ آمَنُوا وَلَمْ يُهَاجِرُوا مَا لَكُمْ مِنْ وَلَايَتِهِمْ مِنْ شَيْءٍ حَتَّى يُهَاجِرُوا وَإِنِ اسْتَنْصَرُوكُمْ فِي الدِّينِ فَعَلَيْكُمُ النَّصْرُ إِلَّا عَلَى قَوْمٍ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ مِيثَاقٌ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴾ سُورَةُ الأَنفَال : 72)

ژباړه: علماوو اختلاف کړی دی په سقوط د دیت کې نو چا ویلي دي چې وجه داده چې د وژل شوي مسلمان وارثان کافران و، نو په دیت کې یې حق نشته او چا ویلي دي چې ددغه مؤمن حرمت کم دی. ځکه الله فرمایي: او هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی او هجرت یې نه دی کړی) دارالإسلام ته (نشته تاسو لره ددوستانې د هغوی نه هیڅ حق، تر دې چې هغوی هجرت وکړي او که مدد وغواړي تاسو نه ددین په باره کې، نو لازم دي په تاسو باندې مدد کول د هغوی سره، مگر په مقابله د هغه قوم کې چې په منځ ستاسو او په منځ د هغوی کې وعده وي) دامن(اوالله په هغه عملونو چې تاسو یې کوئ لیدونکی دی. او په کوم حدیث کې چې دي چې د خثعم قبیلې وژلی شوو کسانو وارثانو ته نبي) علیه السلام(نیم دیت ورکړی و، نو امام شافعي) رحمه الله(د هغې باره کې داسې وایي:[إن کان هذا یثبت فأحسب النبي صلی الله علیه وسلم-والله اعلم- أعطی من أعطی منهم متطوعاً وأعلمهم أنه بريء من کل مسلم مع مشرك -والله أعلم- في دار شرك لیعلمهم أن لا دیات علیهم ولا قود ...[السنن الصغیر للبیهقي : 3/261]

ژباړه: که چېرې دا ثابت وي نو زه گمان کوم چې نبي(علیه السلام) دا دیت دوی ته نفلي ورکړی دی او په دې یې خبر کړي دي چې نبي(علیه السلام) د هغه چا نه بیزاره دی، چې د مشرکانو سره په دار الحرب کې اوسیږي، ددې لپاره چې خبر یې کړي په دې خبره چې ددوی نه دیتونه شته او نه یې قصاص شته .

تنبیه: کومه مسئله چې ذکر شوه نو دا په دغه ذکر شوو صورتونو پورې خاص ده، هر چې د تترس احکام دي، نو هغه پخپل ځای کې ذکر شوي دي چې دلته مراد نه دي.

والله اعلم بالصواب

خلافت پیژندنه

دوهم قسط

الله تعالی فرمايي

﴿ وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنْكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ
لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ
وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُمْ مِنْ بَعْدِ
خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَنْ كَفَرَ بَعْدَ
ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ ﴾ [سورة النور؛ 55]

خلافت پېژندنه

٢

بسم الله الرحمن الرحيم

إنَّ الْحَمْدَ لِلَّهِ نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ وَنَسْتَغْفِرُهُ، وَنَعُوذُ بِاللَّهِ مِنْ شُرُورِ أَنْفُسِنَا، وَمِنْ سَيِّئَاتِ أَعْمَالِنَا، مَنْ يَهْدِهِ اللَّهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَعَلَى آلِهِ وَصَحْبِهِ وَمَنْ تَبِعَهُمْ بِإِحْسَانٍ إلى يومِ الدِّينِ أَمَّا بَعْدُ ؛

قال الله تعالى! وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنْكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُمْ مِنْ بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَنْ كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ. سورة النور؛ ٥٥

مسلمانانو ورونو! مخکې درس کې د خلافت په اړه بعضې مسائل ذکر شو چې د خلافت لغوي او اصطلاحي معنا وه، د اسلامي خلافت أهميت، د خلافت اسلامي حکم هم ذکر شو چې په ټولو مسلمانانو واجب دي چې د اسلامي خلافت قائمولو لپاره سم کوښښ وکړي او دا خبره په قرآن حديث او اجماع سره ذکر شوه نو وس رازو دی ته چې د خلافت اسلامي مختصر مقاصد ذکر کړو. چې د کومو اهدافو په پار خلافت رامنځته کيږي.

د اسلامي خلافت مقاصد:

اول مقصد " د اسلامي خلافت په غټو مقصدونو کې يو دا دی چې د زمکی مشري د مسلمانانو لاس ته راشي او په زمکه باندې مشري مسلمانان وکړي رسول الله صلی الله عليه وسلم په يو حديث کې فرمايي " كَانَتْ بَنُو إِسْرَائِيلَ تَسُوسُهُمُ الْأَنْبِيَاءُ، كُلَّمَا هَلَكَ نَبِيٌّ خَلَفَهُ نَبِيٌّ، وَإِنَّهُ لَا نَبِيَّ بَعْدِي، وَسَيَكُونُ خُلَفَاءُ. متفق عليه

ژباړه " د بني اسرائيلو مشري به أنبياؤ کوله، کله به چې يو نبي وفات شو نو بل نبي به راتلو، او يقينا ځما څخه روسته بل نبي نشته او زر دی چې خليفګان به راځي.

نو دی حديث څخه دا معلومه شوه چې مخکې به په دنيا کې د خلکو مشري أنبياؤ کوله خو د نبي عليه السلام څخه روسته به ددنيا او په دنيا کې د خلکو مشري شرعي خليفه کوي او هر څوک دغه مشري نشي کولای او نه ورته اجازت شته مطلب په دنيا کې به د ټولو مسلمانانو يو أمير وي يو به يې بيرغ وي يو به يې اواز وي او يو الله أکبر به وي او نور کفري او د جهالت بيرغونه او اوازونه به نوي دا به ختمولائ شي.

او کله چې په دنيا کې خلافت اسلامي قائم شي او ددنيا مشري د مسلمانانو په لاس کې شي نو الله تعالی به کافران مرتدين مشرکين او منافقين ذليله کړي او مسلمانانو ته به عزت په برخه شي د ظلمونو څخه به وساتل شي په ټوله دنيا کې به ورته د خپلې عقيدې ازادي په برخه شي او داسې نور.

دويم مقصد " خلافت اسلامي سره په ټوله دنيا کې د مسلمانانو اتفاق راتلل او د خليفه احکام جاري کول. الله تعالی فرمايي " واذ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَائِكَةِ إِنِّي جَاعِلٌ فِي الْأَرْضِ خَلِيفَةً الخ البقرة " ٣٠

ژباړه " او کله چې وويل رب ستا ملائکو ته چې يقينا زه پيدا کوم په زمکه کې يو خليفه.

مفسر قرطبي رحمه الله وايي " هذه الآية أصل في نصب إمام وخليفة يسمع له ويطاع لتجتمع به الكلمة وتنفذ به أحكام الخليفة. الجامع ١/٢٦٤ ژباړه؛ دا ايت دليل دی په مقرره ولو د خليفه کې چې حکم به يې اوريدلې شي او اطاعت به يې کيږي دی لپاره چې د مومنانو خبره پرې راجمع وي او احکام د خليفه ورسره نافذ شي.

او زموږ د اسلامي خلافت مشرانو د خلافت رسمي موقف داسې بيان کړي لکه شيخ ابو محمد العدناني تقبله الله چې د اسلامي خلافت وياند ؤ هغه داسې ويلي " فا الخلافة تجمع جميع المسلمين تجمع الشامي والعراقي واليمني والمصري تجمع الأوروبي والأمريكي والأفريقي تجمع العربي والعجمي تجمع الحنفي والشافي والمالكي والحنبلي فهلموا إلى خلافتكم.

ژباړه " خلافت په وجه ټول مسلمانان سره جمع کيږي شامي عراقي يمني او مصري راغونډوي أوروپايي أمريکايي او أفريقايي راغونډوي عربي او عجمي راغونډوي حنفي شافعي مالکي او حنبلي يو ځائ کوي نو تاسو خپل خلافت رامنډه کړئ او راشئ.

او دغه د اسلامي رورولي موږ په خلافت اسلامي کې پخپلو سترګو باندې وليده. ولله الحمد على ذلك

دريم مقصد " د زمکي پر مخ باندې صرف د الله تعالی عبادت کول او شرک ختمول.

الله تعالی فرمائی : وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنْكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَى لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُمْ مِنْ بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَنْ كَفَرَ بَعْدَ ذَلِكَ فَأُولَئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ . سورة النور

ژباړه " الله تعالی په تاسو کې د هغه کسانو سره وعده کړې چې مؤمنان دي او نيک اعمال کوي چې الله تعالی به هغوی ته په زمکه کې داسې خلافت ورکوي لکه څنګه يې چې پخوانيو ته خلافت ورکړی ؤ او دوی ته به ددوی هغه دين په زمکه حاکم (نافذ) کړي کوم چې الله تعالی ورته غوره کړی دی او ددوی ويره به په امن بدله کړي دوی به زما بندګي کوي او زما سره به هيڅ قسمه شرک نه کوی او که چا د هغې څخه روسته کفر(ناشکري) وکړه نو يقينا هم هغوی فاسقان دي .

په ذکر شوي ايت کې الله تعالی ددی امت سره د خلافت وعده ذکر کړې خو دا مشروطه ده چې د هغه شرطونه خلاصه داسې ده.

لومړی شرط : دغه خلک به مؤمنان وي د مشرک سره دغه وعده نشته.

دويم شرط : نيک اعمال به کوي صرف په نوم به مؤمن نه وي بلکې نيک اعمال به هم کوي .

دريم شرط : داالله تعالی بندګي به کوي او د هغه سره به هيڅ قسمه مخلوق نه شريک کوي .

څلورم شرط : د کفر او ناشکری څخه به ځان ساتي ځکه چې کله د يو نعمت قدر کيږي نو هغه نعمت ډيريږي او کله چې د نعمت ناشکري کيږي هغه بيا اخيستل کيږي لکه الله تعالی فرمائي :

وَإِذْ تَأَذَّنَ رَبُّكُمْ لَئِنْ شَكَرْتُمْ لَأَزِيدَنَّكُمْ وَلَئِنْ كَفَرْتُمْ إِنَّ عَذَابِي لَشَدِيدٌ. سورة ابراهيم . ژباړه " او کله چې ستاسو رب اعلان وکړ که چيرته تاسو شکر وکړئ نو زه به مو ډير کړم او که کفر يعني (ناشکري) مو وکړه نو يقينا زما عذاب ډير سخت دی .

نو کله چې الله تعالی مومنانو ته خلافت ورکړي بيا به څه کوي ؟

نو د ايت په دی برخه کې فرمايي " يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا.

ژباړه " زما بندګي او عبادت به کوي او ما سره به هيڅ شې نه شريکوي.

څلورم مقصد " هغه دا چې ددين عملي کولو لپاره کار کول د خلکو ددينې أمورو اصلاح کول دی لپاره چې د الله تعالی کلمه پورته کړای شي د خلکو په منځ کې عدل عام کول د ژوند په هره برخه کې د الله تعالی شريعت پلې کول همدا ډول د رعيت په دنياوي چارو کې اصلاحات راوستل او د هغوی د ژوند اسباب اداره کول.

زموږ خالق فرمايي " يَا دَاوُودُ إِنَّا جَعَلْنَاكَ خَلِيفَةً فِي الْأَرْضِ فَاحْكُمْ بَيْنَ النَّاسِ بِالْحَقِّ وَلَا تَتَّبِعِ الْهَوَىٰ فَيُضِلَّكَ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ إِنَّ الَّذِينَ يَضِلُّونَ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيدٌ بِمَا نَسُوا يَوْمَ الْحِسَابِ. سورة ص ٢٦

ژباړه " ای داوده ته موږ په زمکه کې خليفه ګرځولې يې نو د خلکو په منځ کې په حق فيصلې کوه او د خواهشاتو تابعداري مه کوه چې د الله د لارې څخه به دی ګمراه کړي يقينا هغه خلک چې د الله د لارې څخه خلک ګمراه کوي د هغوی لپاره سخت عذاب دی ځکه چې دوی حساب هير کړې.

ددی ايت لاندې حافظ ابن کثير

رحمه الله فرمايي " هذه وصية من الله - عز وجل - لولاة الأمور أن يحكموا بين الناس بالحق المنزل من عنده تبارك وتعالى ولا يعدلوا عنه فيضلوا عن سبيله وقد توعد [الله] تعالى من ضل عن سبيله ، وتناسى يوم الحساب ، بالوعيد الأكيد والعذاب الشديد .

ژباړه " دغه ايت کې د الله تعالى له طرفه ټولو حاکمانو ته کلک امر دى چې د خلکو په منځ کې په هغه حق فيصلې وکړي کوم چې د الله تعالى له طرفه نازل شوې دى د هغې څخه کاږه نشي تر څو د الله تعالى د لارې څخه ګمراه نشي بيا الله تعالى هغه خلک يرولي دي چې د الله تعالى د لارې څخه ګمراه شوي او د حساب ورځ يې هيره کړې ده چې دوى ته به خامخا سخت عذاب ورکوي.

پنځم مقصد " هغه دا چې د اسلام حفاظت کول او په دى کې د پنځو شيانو حفاظت کول.

اول " اسلام حفاظت.

دويم " د عقل حفاظت.

دريم " د نسل حفاظت.

څلورم " د نفس حفاظت.

پنځم " د مال حفاظت.

نو اسلامي خلافت به هر هغه شى منع کوي او د هغې مخنيوى به کوي چې په هغې سره دغه پنځه شيان خرابيږي او فاسيديږي او هغه اسباب به برابروي چې په هغې سره ددى پنځو شيانو حفاظت کيږي.

لکه په شرک کفر ارتداد او منافقت وغيره سره اسلام خرابيږي.

د نشى په شيانو لکه شرابو وغيره سره عقل خرابيږي.

په زنا او لواطت وغيره سره نسل خرابيږي.

په ناحقه او بى ځايه وينه تويولو وغيره سره نفسونه خرابيږي.

په اسراف خيانت او دوکې وغيره سره مال خرابيږي.

نو ددى ټولو شيانو مخنيوى کول دى لپاره چې ددى پنځو شيانو حفاظت وشى.

شپږم مقصد " ددين حفاظت کول.

اسلامي خلافت پر دى مکلف دى چې د الله تعالى ددين ساتنه وکړي چې په دغه کار کې اسلامي خلافة دا مسؤليتونه لري.

اول " د مسلمانانو له منځ څخه غير شرعي او غير اسلامي رواجونه او رسمونه ختمول.

دويم " له کفارو څخه نقل شوي دودونه له منځه وړل.

دريم " خلکو ته ددين دلايل روښانه کول.

څلورم " ديني علوم خپرول.

پنځم " د شرعي علومو او ديني علماؤ احترام او درناوئ کول ددوى حيثيت ساتل او حقوق يې خوندي کول.

شپږم " د عامو پوهانو ديني علماؤ او باتجربه مشرانو څخه مشورې أخستل ځکه چې الله تعالى خپل رسول ته فرمايلي " وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ... آل عمران ١٥٩

ژباړه " د خپلو ملګرو سره په ټولو چارو کې مشوره کوه.

حال دا چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ته د الله تعالى له طرفه وحى راتله او هغه د خلکو مشورې ته هيڅ اړتيا نه وه خو الله تعالى ورته همدى لپاره أمر وکړ چې د أمت لپاره د شورا يو أصل قائم شي.

اووم مقصد " هغه دا چې د احکامو نافذول او د اسلامي شعائرو ساتنه کول او هغه راژوندي کول.

د الله تعالى هر حکم په هر وخت کې په هر چا باندې نافذول چې دا کار بغير د خلافة څخه نه کيږي او د خلافة د ساحو څخه بهر نن چې څومره ددعوت په نوم باندې کوششونه کيږي نو دا بى روحه ثابتيږي او فايده يې ډيره زياته کمه ده ځکه چې هلته خلافة نشته.

الله تعالى فرمايي " الَّذِينَ إِنْ مَكَّنَّاهُمْ فِي الْأَرْضِ أَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ وَأَمَرُوا بِالْمَعْرُوفِ وَنَهَوْا عَنِ الْمُنْكَرِ ۗ وَلِلَّهِ عَاقِبَةُ الْأُمُورِ. سورة الحج ايت ٤١

ژباړه " داسې خلک دي که چيرته موږ دوى ته طاقت او تمکين ورکړو په زمکه باندې پابندي د مونز کوي او زکوة ورکوي او په نيکى به بيان کوي او د بدئ څخه به منع کوي او خاص الله تعالى لره انجام د ټولو کارونو دى.

الله تعالى په دى ايت کې دا خبره ښکاره ذکر کړې چې کله مومنانو ته تمکين او طاقت په زمکه باندې ورکړای شي هغه به دا کارونه کوي.

اول " مونز پابندي به کوي.

دويم " زکوة به ورکوي.

دريم " په نيکى به أمر کوى.

څلورم " د بدئ څخه به منع کوي.

نو اسلامي دولت او اسلامي خلافة مکلف دى چې د اسلامي شعائرو او ديني أثارو ساتنه وکړي او که کوم شعائر له منځه تللي وي هغه راژوندي کول.

چې په دغه کار کې اسلامي خلافة دا مسؤليتونه لري.

اول " د مونز حکم ساتل.

دويم " د مونز د ساتلو لپاره د امامانو روزنه کول د هغوى حقونه خوندي کول أمن ورته قائمول او تر شا يې کلک ودريدل تر څو په ازاده توګه د حق بيان وکړي او د هيچا تر تاثير لاندې رانشي په دى سلسله کې د امامانو معاشونه او رواتب په نظر کې نيول.

دريم " د مسجدونو ابادول او ټول لوازم يې سر ته رسول.

څلورم " د مؤذن پالنه کول.

پنځم " په مسجدونو کې ددرسونو حلقې قائمول او د مشرانو او کشرانو لپاره د اسلامي روزنې موقع ايجادول.

شپږم " د حج أسانتياوې برابرول.

اووم " د روژې او أخترونو اعلان کول او په روژه کې د عامو مسلمانانو لپاره د صدقو دروازه پرانستل.

أتم " د پورته ذکر شويو ټولو مقصدونو ترلاسه کولو لپاره د أمر بالمعروف او نهي عن المنکر او دعوت او ارشاد جماعتونه جوړول.

أتم مقصد " هغه دا چې د قاضيانو ټا کل .

اسلامي دولت به قاضيان ټاکي او

محاکم به قائموي او د الله تعالی په شریعت به حکم کوي ځکه چې ټول شرعي أحکام د الله تعالی پولې دي الله تعالی له دی سرحدونو تیریدلو او د هغې له ماتولو خپل بندگان منع کړي نو د ځینو احکامو په مخالفت باندې شریعت دنیاوي سزاگانې مقرر کړي او داده امام پرته ممکن نه دي چې په أزادو خلکو باندې حدود جاري کړای شي ځکه چې داده خلیفه او سلطان وظیفه ده او په دی باندې د علماؤ اتفاق دی او همدا قول د جمهورو علماؤ دی چې په أزادو خلکو باندې حدود قائمول داده امام او سلطان کار دی.

نو ددی کبله دا د خلیفه او د هغه د نائب مسؤلیت دی او په غاړه باندې یې دغه مسؤلیتونه پراته دي.

اول " عادلان قاضیان ټاکل.

دویم " د فیصلو تعقیبول.

دریم " رشوتونه له منځه وړل چې په دی کې به پر قاضیانو او عسکرو باندې تحفې او د خلکو دعوتونه قبلول هم منع وي.

څلورم " په فیصلو کې قاضیان تعقیبول تر څو په ولس کې عدل ځائ ونیسي قومي مشران او عام علماء کرام د جرگو مرکو له جنجاله خلاص شي او خپل عبادت ته وزگار شي.

نهم مقصد " هغه دا چې شرعي حدود نافذول.

مخکې ذکر شوي مقصد همدې لپاره دی چې حدود نافذ شي اسلامي خلافت به د حدودو د نفاذ په لړ کې د شریف او رذیل تر منځ فرق نه کوي تر دی که په خپل کور کې یې جرم وشی او د حد قابل وي نو حد به پرې جاري کوي لکه رسول الله صلی الله علیه وسلم په یو حدیث کې فرمایي " وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ، لَوْ أَنَّ فَاطِمَةَ بِنْتَ مُحَمَّدٍ سَرَقَتْ لَقَطَعْتُ يَدَهَا. متفق علیه

ژباړه " په هغه ذات مې دی قسم وي چې د محمد صلی الله علیه وسلم ساه د هغه په لاس کې ده که چیرته فاطمه د محمد صلی الله علیه وسلم لور غلا وکړي خامخا به زه د هغې لاس پرې کړم.

لسم مقصد " هغه دا چې په مخ د زمکه باندې حاکمیت صرف د الله تعالی لپاره شي.

دا حاکمیت به نه د امام لپاره وي او نه به د رعیت لپاره وي او نه به د بل چا لپاره وي ځکه چې چا د الله څخه بغیر د بل چا لپاره حاکمیت وگرځولو نو دا خو په اجماع د مسلمانانو سره کافر دی.

زموږ اله فرمایي " إِنِ ٱلْحُكْمُ إِلَّا لِلَّـهِ . سُورَةُ الأنعَام ٥٧

ژباړه " د فیصلې ټول واك د الله دی.

بل ځائ کې فرمایي " أَلَا لَهُ ٱلْحُكْمُ. سُورَةُ الأنعَام ٦٢

ژباړه " خبردار اوسئ! اختیار د فیصلې الله تعالی لپاره دی.

بل ځائ فرمایي " إِنِ ٱلْحُكْمُ إِلَّا لِلَّـهِ سُورَةُ يُوسُف ٤٠

او داسې نور أیتونه او حدیثونه هم شته نو په مخ د زمکه باندې به حاکمیت صرف او صرف د الله تعالی وي بل څوک ددی حاکمیت حق نلري.

یو لسم مقصد " هغه دا چې پر هر کار او فیصله کې حکم او فیصله په هغه قانون او نظام باندې کول چې الله تعالی رالیږلی.

او په وضعي قوانینو باندې فیصله کول دا خو ښکاره کفر دی په دی اړه تاسو د خراسان ولایت اعلام اداري څخه صوتي بیانونه او کتابونه تر لاسه کولای شئ خو دلته به موږ بعضې ایتونه ذکر کړو او مخکې ذکر شویو ایتونو څخه هم دا خبره معلومیږي چې د الله تعالی په قانون او نظام باندې فیصله کول.

الله تعالی فرمایي {إِنَّ الَّذِينَ يُحَادُّونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ كُبِتُوا كَمَا كُبِتَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ , وَقَدْ أَنْزَلْنَا آيَاتٍ بَيِّنَاتٍ , وَلِلْكَافِرِينَ عَذَابٌ مُهِينٌ} سُورَةُ المجَادلة : ٥

ژباړه " کوم کسان چې له الله او د هغه له رسول څخه مخالفت کوي هغوی به په داسې شان ذلیل او خوار کړای شي لکه چې له دوی څخه مخکې خلك ذلیل او خوار کړای شوي دي موږ روښانه څرگند ایتونه نازل کړي او د کافرانو لپاره د ذلت عذاب دی.

رئیس المفسرین امام ابن جریر الطبري پخپل تفسیر کې وایي: يَقُولُ تَعَالَى ذِكْرُهُ: إِنَّ الَّذِينَ يُخَالِفُونَ اللَّهَ فِي حُدُودِهِ وَفَرَائِضِهِ، فَيَجْعَلُونَ حُدُودًا غَيْرَ حُدُودِهِ، وَذَلِكَ هُوَ الْمُحَادَّةُ لِلَّهِ وَلِرَسُولِهِ. ژباړه " یقینا هغه کسان چې د الله تعالی په حدودو او د هغه په فرائضو کې د الله تعالی مخالفت کوي او د الله تعالی د حدودو پر خلاف نور حدودو جوړوي نو همدا د الله تعالی او د هغه د رسول مخالفت دی.

علامه بیضاوي رحمه الله وایي " (یحادون) يَضَعُوْنَ أو يَخْتَارُوْنَ حدودا غيرَ حدودِهما. (كبتوا) أُخزُوا أو أُهْلِكُوا. وهم الكافرون ولهم عذاب مهين. "
تفسیر البیضاوي ج ٥ /ص ١٩٣

ژباړه " (یحادون): د الله تعالی او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د تعیین شوي حدود پر خلاف حدود ټاکي یا نور حدود غوره کوي.

(کبتوا) خوار او هلاک کیږي او دوی کافران دي او دوی لپاره شرمونکې عذاب دی.

دغه رنگ الله عزوجل فرمایي " {وَمَنْ يَبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِينًا فَلَنْ يُقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِي الْآخِرَةِ مِنَ الْخَاسِرِينَ}.

ژباړه " او څوک چې غواړي سیوا د اسلام نه بل دین نو هیڅ چیرې به قبول نه کړای شي د هغه نه او هغه به په آخرت کې د تاوانیانو څخه وي.

نو وضعي قانون دا د اسلام نه علاوه بل دین دی، او قرآن کې دا استعمال شوی لکه سورة یوسف کې راځي

﴿مَا كَانَ لِيَأْخُذَ أَخَاهُ فِي دِينِ الْمَلِكِ﴾
سورة یوسف: ٧٦

ژباړه " نه ؤ هغه (یعني یوسف علیه السلام) چې ایسار کړې یې وی ورور لره په قانون د باچا کې.

همدا راز په بل ځائ کې زموږ حاکم أعلی فرمایي "

{ وَمَنْ لَمْ يَحْكُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ فَأُولَئِكَ هُمُ الْكَافِرُونَ } المائدة
ژباړه " او چا چې په هغه حکم فيصله ونکړه چې الله تعالى نازل کړې، پس دغه کسان دوی کافران دي، دلته مَن عام دی، که مُلا دی، که مَلَک دی، که حکمران دی، چا هم چې وضعي قانون باندې پريکړه وکړه دا د اسلام څخه ووتلو. دې کې د نومونو، ډلو، قومونو او د طبقاتو کوم فرق نشته..

اوله خبره " مومنانو ورونو! بعضې خلک تلبيس کوي او د اسلامي نظام په پار مبارزې څخه د خلکو فکر اړولو لپاره يو حيله وړاندې کوي او وايي دا شته نظامونه چې په وضعي قانون پريکړه کوي دا کفر نه دی بلکې عبد الله بن عباس رضي الله عنهما تفسير (کُفر دون کفرٍ) راخلي او د نن سبا قانون ساز حکمرانانو باندې يې تطبيقوي ددغه قول سند ته به نه ورځو، دا به ومنو چې دا تفسير د صحابي څخه ثابت دی.

نو آيا هغه دا تفسير د هغه چا په اړه ويلی ؤ چې د الله نظام مقابله کې نور قوانين وضعه کوي ؟ ځان ته يې د تشريع او قانون جوړولو حق ثابت کړې؟ او دغه قانون له وجې کفارو سره دوستي روا ګڼي، شريعت معطل کوي؟ د الله عزوجل د حدودو مقابل کې نور حدود وضع کوي؟ د شريعت غوښتونکي وژني؟ د اسلامي شعائرو بې عزتي کوي؟ خلک په دغه کفر منلو مجبوره کوي؟ خپلې خويندې ميندې د يو څو ډالرو په عوض کې په بد ترينو کفارو خرڅوي ؟ په رضا سره زنا روا ګڼي؟ د هيرا منډي پشان د بدکارۍ رسمي بين المللي اډې لري؟

نا هيڅکله هم نا، هغه خو دا قول د خوارجو رد لپاره ويلی ؤ چې هغه وخت ابو موسى اشعري او عمرو بن العاص رضي الله عنهما حَكَمين (فيصله کونکي) وټاکل شو نو خوارجو صحابه ؤ ته کافر وويل نو ځکه ابن عباس رضي الله عنهما دا قول وواېو.

او دغه صحابه ؤ پريکړه په څه شي کوله ؟ په وضعي قانون او که الهي قانون ؟

نو ګورئ مسلمانانو دغه خلک د صحابي تفسير غلط مَحْمَل بيانوي.

دويمه خبره " هغه دا ده چې کله د صحابه ؤ تفاسيرو کې اختلاف موجود وي نو بالاتفاق بيا هغه قول حجت نه وي.

شيخ الاسلام ابنُ تَيْمِيَّه رحمه الله وايي " وَلَمْ يَكُنْ قَوْلُ بَعْضِهِمْ حُجَّةً مَعَ مُخَالَفَةِ بَعْضِهِمْ لَهُ بِاتِّفَاقِ الْعُلَمَاءِ. مجموع الفتاوى ج ٢٠/ص ١٤

ژباړه " د علماؤ په اتفاق سره د يو صحابي قول د بل صحابي د مخالفت په صورت کې حجت نه ؤ.

او د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه مشهور قول دی

امام ابنُ جَرير الطبري خپل تفسير ج ٨ ص ٤٦٧ کې اثر راوړی " عَنْ عَلْقَمَةَ , وَمَسْرُوقٍ: أَنَّهُمَا سَأَلَا ابْنَ مَسْعُودٍ عَنِ الرِّشْوَةِ , فَقَالَ: مِنَ السُّحْتِ. قَالَ: فَقَالَا: أَفِي الْحُكْمِ؟ قَالَ: ذَاكَ الْكُفْرُ. ثُمَّ تَلَا هَذِهِ الْآيَةَ: {وَمَنْ لَمْ يَحْكُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ فَأُولَئِكَ هُمُ الْكَافِرُونَ} المائدة: ٤٤

ژباړه " امام علقمه او امام مسروق وايي چې دوی دواړو د عبد الله بن مسعود رضى الله عنه څخه د رشوت په اړه پوښتنه وکړه، هغه وويل: دا ګناه ده نو بيا دې دواړو وويل: نو فيصله کې رشوت اخستل څنګه دي؟ هغه وويل: دا کفر دی. بيا يې دا آيت ولوستلو {څوک چې د الله په نازل کړای شوي قانون فيصله نه کوي هغه کافر دی }

تحقيق الحديث: دا أثر عبد الله بن مسعود رضي الله عنه پورې صحيح ثابت دی ټول راويان يې ثقه دي.
[انظر تهذيب التهذيب ٢ / ٣٨٠

ددې اثر رجال ثقات دي او سند يې متصل دی.

نو مقصد د دې قول دا دی چې رشوت اخستل عامو خلکو لپاره ګناه ده خو کله چې د فيصلې په وخت قاضي او حاکم رشوت اخلي نو بيا کفر دی.

او دا قول امام ابنُ جرير د (کفر دون کفر) متعلق اقوالو څخه جدا ذکر کړې.

نو مومنانو مسلمانانو ورونو! عبد الله بن مسعود رضي الله عنه ددې آيت څخه دا فهم اخستې چې مراد ترې کفر أکبر دی.

دولسم مقصد " له مالداره خلکو څخه زکات أخستل او أهل الذمه ؤ څخه جزيه ټولول.

نو اسلامي خلافت او اسلامي دولت مکلف دی چې د مالداره خلکو څخه زکات واخلي او مسکينانو ته يې ورسوي او طريقه يې داده چې ولس به خپل د زکات مال د اسلامي دولت محکمې ته رسوي او دا به د الله تعالى عبادت ګڼي محکمه به يې بيت المال ته سپاري او ددولت مؤظف غړي به د بې وزله خلکو لست جمع کوي چې د زکات تقسيمولو پر مهال هر بې وزله او غريب ته خپله برخه ورسيږي.

نو په همدې أصل عملي کولو سره که څو کاله خلک زکات واخلي يو وخت به راسې راشي چې زکات أخستونکي به نه وي د خلکو ټولې اړتياوې به پوره شي او ددولت نور مصارف له أهل الذمه ؤ راټولې شوې جزيې، مال فئ ، غنيمت او نورو اخراجاتو له لارې پوره کيږي چې په دی کې به اسلامي دولت أهل خلک ټاکي او هغوی به يې په شرعي طريقه لګوي.

ديارلسم مقصد " هغه دا چې د اسلام د سرحدونو حفاظت کول.

نن د ټولو کفري هيوادونو سرحدونه د مسلمانانو پر مخ تړلي دي او د مسلمانانو ټولې خاورې د کافرانو پر مخ خلاصې او أزادی دي که

څوک بمبار کوي که څوک پوځيان راداخلوي که نوري شتمنۍ ترې وړي څوک نشته چې منع يې کړي ځکه چې امام او شرعي خليفه نلري.

او په کوم ځای کې چې اسلامي خلافت قائم دی نو خپل د تمکين ساحو کې يې سرحدونه ختم کړي او مسلمان يکې بی له مانع په شرعي طريقه باندې أزاد دی.

نو خليفه د ټولې اسلامي خاورې او سيمه ييزو واليان ،أميران او مشران د خپلې سيمې په ساتنه مکلف دي چې په لړ کې به دا کارونه سر ته رسوي.

اول " د يهودو ، نصاراؤ، مشرکانو، مرتدينو ، باغيانو او داسې نور د اسلامي دولت دښمنان ختمول.

دويم " پوځي روزنه کول.

دريم " په فکري لحاظ د رعيت روزنه کول او دوی ته ليبراليزم، ډيموکراسي، جمهوريت، سوسياليزم، کميونيزم ، علمانيت يعني بی ديني ،نيشنلستي، امپرياليزم او داسې نور غربي او کفري نظامونه معرفي کول او په دی يې پوهول چې دا ټول کفري او طاغوتي نظامونه دي او د مسلمانانو د کمزورۍ او له يو بل څخه د بيلولو لپاره کفارو رامنځته کړي.

څلورم " مسلمانان په دی پوهول چې ټوله زمکه په أصل کې د الله تعالی ده او بيا د نيک عمله مسلمانانو ده نو بايد د زمکه هره برخه او هر کونج د اسلامي دولت تر سيوري لاندې راشي خو اوس چې کومې خاورې د کفري، طاغوتي، ديموکرات، جمهوري، کميو نيستي يا نورو نظامونو تر سيوري لاندې دي هغه دارالحرب او کومې چې اسلامي دولت تر سيوري لاندې دي هغه دارالاسلام بلل کيږي.

پنځم " د دارالاسلام ساتنه او دار الحرب د طاغوتي نظامونو څخه د اسلامي نظام لپاره أزادول د مسلمانانو پر غاړه دي نو پر ټولو مسلمانانو دا لازم دي چې د کفارو او مرتدينو څخه زمکه أزاده کړي دی لپاره چې مسلمان په ټوله زمکه د اسلامي نظام تر سيوري لاندې د خپلواک ژوند وکړي.

څوارلسم مقصد " هغه دا چې جهاد کول.

ځکه چې جهاد يوازې د خپلې خاورې ناموس او وينې څخه ددفاع په خاطر نه دی فرض شوې بلکی ټول کفر ته دا اعلان دی چې يا به اسلام راؤړي يا به جزيه ورکوي او د اسلامي دولت په سيوري کې به سر ټيټې ژوند کوي او که دا نه کوي نو بيا د مسلمانانو له طرفه جنګ دی نو داده امام کار دی چې لښکرې به تياروي او د کافرانو سره به جهاد کوي أګر که جهاد د امام په وجود پورې نه دی خاص بلکی بغير د امام څخه هم دا واجب حکم نه ساقطيږي.

پنځلسم مقصد " هغه دا چې اسلامي علومو ته وده ورکول او د ښوني او روزنې په برخه کې أسانتياوی راوستل.

نو په دی سلسله کې اسلامي دولت د ښه اسلامي نصاب په جوړولو مکلف دی. او دا کار هم اسلامي خلافت سر ته رسولې دی ولله الحمد علی ذلك

او ددی سره د أستازانو روزنه کول او د هغوی مرسته کول دا هم د اسلامي دولت ذمه واري ده چې په دی اړ کې اسلامي دولت دغه مکلفيتونه لري.

اول " د مدرسو او ښونځيو قائمول.

دويم " د ښوني او روزنې د ټاکل شوي نصاب په رڼا کې خلکو ته د زدکړو زمينه برابرول.

دريم " د مشرانو او کشرانو لپاره ددينې اړينو علومو لاره هوارول.

څلورم " ټولو هغه عصري علومو ته وده ورکول چې د اسلام سره ټکر نلري او موافق وی.

پنځم " تعليمي نصاب له غربي أفکارو څخه پاکول.

شپږم " تعليمي نصاب له شيعه ګانو له ميکربونو څخه پاکول.

اووم " تعليمي نصاب کې د کافرانو سره ددښمنۍ او مومنانو مسلمانانو سره د رورولۍ أصل ته ډيره پاملرنه کول.

أتم " د ټولو تخصصاتو په څنګ کې اسلامي پوهه لازمي أصل ګڼل.

نهم " د أستاذانو عقيدوي او فکري روزنه کول تر څو زدکوونکو ته سمه عقيده وښيي.

شپاړلسم مقصد " د عامو شتمنيو او د رعيت د مال ساتنه کول.

اسلامي دولت مکلف دی چې عامه شتمنۍ او د رعيت مالونه وساتي او د بيت المال څخه د خير په ځايونو او د عوامو مسلمانانو د سهوليتونو لپاره مصارف وکړي مسلمانانو ته د رزق ګټلو حلالې لارې چارې برابر کړي او دوی ته د ژوند هر ډول أسانتياوې جوړې کړي لکه

اول " لارې فراخول.

دويم " أبادۍ کول.

دريم " روغتونونه جوړول تجهيزول او اکمالول.

څلورم " مدرسې ښوونځي او پوهنتونونه جوړول او تجهيزول.

پنځم " برقي سيسټم ،ګاز، تيل، ټرانسپورت او داسې نورې شتمنۍ خوندي کول او د رعيت لپاره د شريعت په رڼا کې أسانتياوې رامنځته کول تر دی چې د شرايطو له مخې به دولت د بې وزلو خلکو لپاره مفت ترانسپورت ورکوي او د برق بيلونه به له بيت المال أداء کوي.

اوولسم مقصد " په زمکه باندې عدل او انصاف عام کول او د ظلم توري تيارې ختمول.

اسلامي دولت په دی مکلف دی چې د زمکی څخه ظلم ختم کړي او عدل عام کړي تر دی چې په عدل باندې زمکه ډکه کړي لکه د امام مهدي عليه السلام په اړه په يو حديث کې دي " يَمْلَأُ الْأَرْضَ قِسْطًا وَعَدْلًا كَمَا مُلِئَتْ جَوْرًا وَظُلْمًا، يَمْلِكُ سَبْعَ سِنِينَ. رواه ابو داود

ژباړه " رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي " چې مهدي به زما له نسل څخه وي ... بيا مخکې فر مايي چې زمکه به له عدل څخه داسې ډکه کړي لکه څنګه چې د ظلم څخه ډکه وه دا به اووه کاله بادشاهي کوي.

او داسې نور مقصدونه.

مسلمانانو ورونو! دا وو د خلافت مختصر مقاصد نو کله چې رب العالمين اسلامي خلافت ته په زمکه باندې واک او قدرت ورکړي دغه ټول مقاصد به سر ته رسوي ان شاءالله تعالی، او وس يې هم د خپل تمکين په ساحو کې ډير مقاصد سر ته ورسول او دا په داسې حال کې چې شپه او ورځ وربانډې لکه د باران بمبارونه کيږي خو د اسلامي خلافت مشران او کشران د اسلامي خلافت د مرستې څخه ستړي شوي نه دي او نه به ستړي شي ان شاءالله او هر چې طالبان دي هغوی نظام کې دا مقاصد نه ليدل کيږي بلکې دوی د بين الملل يوه پروژه ده او د خپلو اهدافو لپاره يې داسې استعمالوي لکه تېر کې چې يې د کابل مرتده اداره استعمالوله. دوی واک او قانون په دوحه کې د امريکا استازو او سفيرانو څخه ترلاسه کوي.

نو ای مسلمانانو! راشئ د اسلامي خلافت مرسته وکړئ او د اسلامي قانون او نظام تر سيوري لاندې د عزت او د خپلواک او د شرعي أزادی ژوند وکړئ.

وصلی الله علی سيدنا محمد وعلی آله وصحبه وسلم

دا د الله عزوجل طریقه ده چې په سختو ازمایښتونوخپل مومنان بنده ګان ازمایي ، ددغه ازموینو حکمتونه خورا زیات دي ، که له یوه طرفه په دغه امتحاناتو کې د مجاهدینو پالنه او روزنه کیږي ، دوی ډیر کلک او سخت روږدي کیږي ، د صبر ، ثبات او استقامت تجارب او برکات حاصلوي او په دې برخو کې عملي تربیت کیږي نو بل لور ته همدغه ازمایښتونه دي چې د مؤمنانو صف پاکیږي ، پاک سپڅلي مؤمنان صبر کوي او په دجهاد په صف کې باثباته پاتې کیږي نور منافقین ، مرجفین او ګمراهان خپلې لارې بیلوي او له دې ګندګیو د مؤمنانو صف ته الله عزوجل نجات ورکوي.

کله چې په خراسان ولایت کفار، مرتدینو ، طواغیت ، مشرکین ټولو په شریکه لښکر کشي وکړه ، امریکا د احزابو ددغه لښکر هوایي او نور لوژستیکي ملاتړ وکړ ، روس ، ایران او پاکستان دغه احزابو ته تربیتونه وسلې او نور کومکونه ورکړل ، پاکستان دا احزاب چې په کې د پاکستاني فوځ په شمول ، روافضو او نورو مرتدینو هم ګډون درلود ، د تیر مرتد جمهوریت ډول ډول فوځي قطعاتو هم د احزابو ددې لښکر یوه برخه جوړوله ، کله چې دا د کفر او شرک لښکرې په ننګرهار او کنړ کې د اسلامي دولت په تمکین د امریکا د مسلسل بمبار په پایله کې راوختلې او تمکین سقوط شو نو دوی فکر کاوه چې اوس نو که دوی په خراسان کې د کفر د ترویج او تطبیق هر ډوله پروژه عملي کوي نو مخه یې خلاصه شوه ، طالب ملېشو په دغه سقوط د خپلو کافرو بادارانو سره یو ځای د خوښۍ جشنونه نمانځل ، او په ډیره سپین سترګۍ یې د کابل په هوایي میدان کې د امریکایي درنده ګانو او د نورو مرتدینو ساتنه او حفاظت په داسې حال کې کاوه چې هغوی ددوی افغاني خویندې په غیږو کې پورته کولې ، لله الحمد په همدغه مهال د اسلامي دولت یو اتل په خپل سربښندونکي برید ددوی ټولو وینې سره ګډې وبهولې او ددوی له سرونو یې د دیموکراسۍ د تطبیق خوبونه وتروړل .

کله چې طالب د کابل په ګدۍ کیناست او امریکا یې د نقل او حرکت ریموټ د پاکستان په لاس کې ورکړ ، نو دوی لا د کابل د دفترونو د پستو سوپو، د عیاش ژوند له رنګونو دومره خوند نه و اخستې چې د افغانستان په کونج او کنار کې پرې لمبې بلې شوې او ددې اور لمبې ورځ تربلې ژبغړاندې کیږي ، هغه چې دوی خپلو کافرو بادارانو ته د امن ډاډینې ورکړې وې هغه هم هسې خیالونه پاتې شول .

هو!

دوی د کابل د ګدۍ لپاره ، د کفارو د څوکیدارۍ لپاره ،د همدې رنګین ژوند خرمستۍ او عیاشۍ لپاره ،د امریکا په ستره استخباراتي هډه قطر کې په خپلو ایمانونو او غیرتونو او د لکونو خلکو په وینو او قربانیو معامله وکړه .

اوس یې چې دا هر څه ترلاسه کړل نو د خپلو کفري کړنو د توجیه لپاره له خپلو خیټو داسې بویناکه فتواوې استفراق کوي ، د اسلامي شریعت څه چې د عقل په تله یې هم تلل ممکن نه دي .

هو!

دوی په دوحه کې د نړۍ ټولو کفارو ته په یوه وخت د سولې په نوم تسلیمي ورکړه ، اوس نو په درسته نړۍ کې پرته له موحدینو ددوی هیڅ دښمن نه شته ، د امریکا په شمول د نړۍ ټول کفار د دوی دوستان دي

دوی په خپل فکر جهاد ته د پای ټکې کیښود او د جهاد خاتمه یې اعلان کړه .

دوی د تل لپاره ټولې کفري نړۍ ته د امن ډادینې ورکړې او دا ورته سحار او ماښام تکراروي چې طالب کم کرایه ملیشې نور ددوی ساتونکي عسکر دي او نور به د کفارو ساتنه ددوی وظیفه وي

اوس نو چې د همغه تیر جمهوریت د قانون د دوام لپاره د همغه زړو مامورینو ترڅنګ په همغه زړو دفترونو کې د شریعت په نامه د دیموکراسۍ د تطبیق لپاره کار کوي.

د همغوی په څېر په عیاشیو، خرمستیو، اخلاقي مفاسدو او په نورو بې لاریو بوخت دي

د همغوی په څیر د روس، ایران، امریکا، چین، هند، جرمني، انګلستان ... او نورو کفارو د سفارتونو او دیپلوماتانو په څوکیدارۍ کې شپه او ورځ توپک په لاس برچه پک ولاړ دي.

نو ددې ټولو کفري کړنو توجیهات یې هم د همغوی په څېر دي، هغوی هم دغه ټول حربي کفار مستامنین او معاهدین ګڼل او دوی هم همغه زړې ببولالې غږوي او د نړۍ ټول کفار دوی ته معاهدین او مستأمنین ښکاري.

ددوی مجهول ملا هیبت له یوه لورې ځان امیرالمومنین ګڼي خو بیا د بین الملل له لورې د زمکې د ویش له حدودو بهر نه وځي، له افغانستانه بهر د هر مسلمان قاتل او ناموس لوټونکي یې دوستان دي، بهر هر مسلمان ورته بهرنې دښمن ښکاري، او د افغانستان داخل کې هر مشرک او مرتد یې وطني ورور دې.

دوی دومره سپین سترګې دي چې د ۴۴ میلونه یغور مسلمانانو قاتلان، اشغالګران او ناموس لوټونکي کمونسټ چینایان چې په کابل کې پرې د اسلامي دولت زمرو لمبې بلې کړې، دوی یې بې اسلحې میلمانه ګڼي او طالب حشرات خپل دا علني کفر په دې پټوي چې دا خو بې اسلحې چینایان وو.

دوی ملامته نه دي هغه ددوی چینایي میلمنو چې د اسلامي امت یوه لوېه برخه یرغمل کړې او په میلونونو بې دفاع او بې اسلحې یغور مسلمانانو هر وحشت کوي هغه دوی ته نه ښکاري فکر کوي چې یغوریانو سره اټوم بمونه دي، که ددوی له ویاندویانو وپوښتل شي چې تاسې خو خپل مشر امیرالمومنین ګڼئ، نو دلته خو بیا تاسې باید د ټول امت د مسلمانانو غم وخورئ پوښتنه یې وکړئ، تاسې د کمونسټو چینایانو له لورې ۴۴ میلونه یرغمل شویو یغوري مسلمانانو په اړه څه دریځ لرئ، نو دوی په ډیره سپین سترګۍ پرته له کومه خجالته وآیي چې هغه د هغوی کورنۍ مسئله ده موږ په کې کوم کار نه لرو.

طالب مشران په دې پوهیږي چې دوی خپل کشرخیل لکه د پسونو د رمو په څېر روزلي، بس شنه ګیا ورښایي نورې نو په حرامو او حلالو نه دي ورمنډې وهي.

دوی سره دا ډار نه شته چې له دوی به ددوی کشر وپوښتي چې ایا د ټولو کفارو سره په یوه وخت جنګ بندي او ډزبندي او ددوی په اصطلاح داسې سوله چرته د اسلام په تاریخ کې تیره شوې؟

ایا په ټوله نړۍ کې د اسلامي امت د لوېو د عصمتونو لوټونکي او د وینو زبیښونکي حربي کفار چرته معاهدین ګرځیدای شي؟

ایا کفارو ته دوستان ویل او د دوستانو په څېر ورسره مولات او راشه، درشه برخورد ددوی ساتنه او ددوی د اهدافو پالنه د اسلام په ماضي کې چرته ښکاره شوې؟

ایا کفارو سره تر نامالومې نیټې سوله جواز لري؟

او داسې په لسګونو نورې ډیرې پوښتنې شته چې طالب مشران یې ځواب نه لري خو کشران یې هغه ړانده چرګان دي چې (دانه) ویني او (دام) نه ګوري.

کله د روسانو په دفاع کې وژل شوې وي، کله یې د هندوانو او رافضي مشرکانو سره یوځای مردارې وینې په شریکه بهیږي، کله د امریکایانو په دفاع کې مرداریږي او کله یې هم بیا د کمونسټو چینایانو څخه له ځانه دفاعي دیوالونه جوړ کړي وي چې هر چرته د خپلو کفارو او مشرکینو ورونو سره یې یوځآی وینې روانې وي.

عجیبه ده د موحدینو قتل عام او د کفارو طواغیتو او مشرکینو ساتنه او حفاظت دوی کوي د خوارجو ټولې نښې او صفات په همدوی کې دي او بیا په ډیره سین سترګۍ د اسلامي خلافت مجاهدین د خوارجو په نوم نوموي.

لکه په پیل کې مو چې یادونه وکړه چې کله چې طالب مرتدینو ته واک وسپارل شو نو فکر یې کاوه چې د اسلامي خلافت مجاهدین ختم شول، نو دوی هم په ډیره خوشالۍ په اخلاقي فساد اخته ویاندویان د انجونو سره د ټلویزونونو په پردو راښکاره شول او د امریکا له لورې په خوله کې وراچول شوې همدا سندرې یې زمزمه کړې.

دوی په همدې خوشالۍ کې د موحدینو قتل عام پیل کړ او فکر یې کاوه چې نور نو د مؤمنانو د پوښتنې څوک نه شته.

خو اوس یې نو د نړۍ ټول کفري او طاغوتي باداران دوی سره په شریکه د ډار او ویرې پیریانو نیولي او د خپلو وحشتونو د حساب له یرې د خپلې راتلونکې څخه سخت په ویره کې دي.

طالب مرتدین دې په دې وپوهیږي دا تاسې چې څه شریعت ګڼئ دا شریعت نه، بلکې دا جهالت دی ستاسې نظام له اسلامه نه بلکې له اسلام اباده سرچینه اخلي.

دا تاسې چې ترې مخکې وروسته مسلح درومئ، دا تاسې چې پرې د اسلامي دولت د بریدونو مخنیوې کوئ او ددوی په دفاع کې ځانونه وژنئ دا معاهدین نه بلکې حربي کفار او د اسلامي امت د وینو څښونکي او د ناموسونو لوټونکي کفار او مشرکین دي.

هو!
همدا حربي کفار چې تاسې سره یې غوره دوستانه روانه کړې، تاسې سره هر اړخیزې مرستې او کومکونه کوي.
همدا امریکایان چې تاسې ترې د خپلو سترو دیوالونه تاو کړي وو، تاسې ورته لا تر اوسه د امن ساتنې په سندرو شخوند وهئ، دا د اسلام دښمنان او حربي کفار دي، دوی نوره نړۍ کې اسلامي امت سره په جګړه کې ښکیل دي او د بین الملل د وطنیت په دایره کې د راګیرو معیارونو په ګندګی ستاسې دا ککړ خام فکرونه هیڅکله په خپلو توجیهاتو ددې کفارو اصلیت نه شي بدلولای، تاسې به خپل دا باداران هیڅکله هم زموږ له بریدونو خوندي نه شئ کړای باذن الله.

عجیبه ده! طالب مرتدین په داسې حال کې هم د اسلامي دولت مجاهدین د امریکا پروژه بولي چې د اسلامي دولت مجاهدینو سره امریکا په ټوله نړۍ کې عملي په جګړه بوخته ده، په خراسان کې پرې اخري زور د بمونو د مور په استعمالولو وښود د زرګونو کروزونو او ډرونو او ټنونو بمونونو بارانونه خو په ځای پریږده.
اسلامي دولت بمباروي مشران او کشران یې وژني.

خو طالب مرتدین همدغه امریکایانو ته دوستان وایي، خپل دښمنان یې نه ګڼي.
له امریکایایي سرتیرو څخه یې په داسې حال کې د خپلو ملیشو دفاعي لیکې تاو کړې وې چې هغوی ددوی وطني خویندې په غیږو کې پورته او ښکته کولې خو دوی د ذلت په زنځیرونو داسې کلک تړل شوي وو چې ګوتې یې ماشو ته نه تللې.

طالبانو ته په یوه میاشت کې د ټول افغانستان واک او ځواک سپارل .او دادی اوس نو له اونیزو میلوني ډالري کڅوړو د رالیږلو وخت ورځې ته راکیوت اوس نو ورته هره ورځ د میلونونو ډالرو کڅوړې رالیږي، هغه چې پټې مرستې وي هغه خو پټې دي، استخباراتي پټې ناستې او تر منځ یې د نورو کیسو بیلګې خو یې له شماره وتلي خو ددې هر څه باوجود دوی بیا د امریکا دښمنان او د اسلامي دولت مجاهدین یې پروژه ده ایا سالم عقل به دا ومني؟.

هو!
که زموږ امریکایي ځناورو سره دښمني ده که موږ وژني موږ یې هم دغسې وژنو! نه به په خپل کور کې راځخه په امن شي او نه به یې راځخه ددوی کم کرایه عسکر طالب مرتدین وژغورلای شي.
د طالب هم لکه د بازار د ډمې یو یار نه دی، په دې کې د ټولو کفري هیوادونو غړوندي پراته دي چې له دې ډلې یې یو هم روسیه ده، چې طالبان ورسره زیاتې خوږې او صمیمي اړیکې لري او دوی ته یې تل د امن ډاډینې ورکړې، روسان د اسلامي امت د وینو پوروړي هغه درنده ګان دي چې په دوی زموږ ډیر درونډ حساب پورې دی، د نړۍ د نورو مسلمانانو په شمول د میلونونو افغانانو قاتلان، دا په عراق او شام کې د اهل سنتو د بچو او معصومو تور سرو وینه زبیښونکي لیوان، دا د چیچین، داغستان، ققفاز او نورې اسلامي خاورې اشغالګران دا د ماوراء النهر د اسلامي خاورې لاندې کونکي ددغه اسلامي عظمت، برم، هویت او عزت ورک کونکي خاینان هیڅکله تاسې زموږ له ګذارونو نه شئ ساتلې.
اې نصواري طالبه!
څه فکر کوې د دومره سترې اشغال شوې اسلامي خاورې مالک او ددومره عظیم اسلامي امت مالک ته یې؟
چې اوس به نو ته په دې خاوره او په دې امت معامله وکړې؟
نه هیڅکله داسې نه ده!
د اسلام اصلي بچیان ژوندي دي دغسې به ستاسې او ستاسې د بادارو روسانو وینې یو ځای بهوو ان شاء الله .او دوی به داسې ډاروو او ترهوو او تیښتې ته به یې اړ کوو.

U.S. Special Representative Thomas West
@US4AfghanPeace
The United States condemns the terrorist attack that took place outside the Russian Embassy in Kabul earlier today, and I extend my deepest condolences to the families of the victims who were killed or hurt. This violence serves no purpose.
4:08 AM · Sep 6, 2022 · Twitter for iPhone

د طالب ټولو طاغوتي ګاونډیانو د طالب په واک ته رسیدو کې نه سترې کیدونکي هلې ځلې د همدې لپاره کولې چې طالب به ددوی د پولو ساتنه کوي او ددوی د اهدافو پالنه به کوي که هغه ازبکستان وو، که تاجکستان وو که ایران وو. خو ددې ټولو ارمانونه د خاورو سره خاورې شول، په طالب په کړې سرمایه ګذارۍ پښیمانه دي او اوس یې ترې زړه مات دی.
پرون که د افغانستان له خاورې د دغه غازي توغندیو لمبې د ازبکستان او تاجکستان په طرف ورتللې، نو لرې نه ده چې سبا به ددوی په زړه کې به د جګړې بلې لمبې ټوله نړۍ ننداره کړي

ددغه لمبو په لیدو د ایران وضیت هم ورځ تربلې خرابیده او خپل سرحدات یې خارل، چې په زړه کې یې د شرک او کفر په یوه ستره هده کې د باقیه تندریزي ناري راغبرګې شوې او دا د فارسي امپراطورۍ دعوه داران یې داسې ویډرول چې اوس د خراسان د نوم په اوریدو یې هم پښې ریږدي.

بل د طالب مرتدینو روزنتون او ددوی د رهبرۍ او قیادت هډه پاکستان دی، طالب د ذلت او پستې داسې ژورو کندو ته همدې پاکستان په همدې تمه ورګذار کړ، چې طالب به په دې وتوانیږي چې د پاکستان په داخل کې د اسلامي دولت د زمرو

له لوري د جګړې اورونه مره کړي ، خو دا ارمان یې له خاورو سره خاورې شو .

نه یواځې دا چې دې هدف ته ونه رسیدل بلکې دادی اوس د اسلامي دولت زمري دا توانایي لري چې ددوی تر ټولو پر امنه ساحې د همدې طالب په غیږ کې په نښه کړي او ددوی تر ټولو لوړ پوړي چارواکي ددوی د امن په ځاله کې په نښه کړي او ترینه د اسلامي امت د خوینډو د عزتونو او وینو حساب واخلي .

ټولې کفري نړۍ او د طالب طاغوتي ګاونډیو بادرانو فکر کاوه چې افغانستان ددوی د لوبو میدان شو او طالب یې اوس د لاس غړګی دی چې په هر لور یې غورځوي نو واک یې خپل دی او دوی به خپلو ارمانونو ته ورسوي خو داسې ونه شول کفري نړۍ او طاغوتي ګاونډیانو ته د طالب مرتدینو د امن پرلاپسې باټو او لاپو هیڅ فایده ونه رسوله ، دا کفري ملت هر څه ویني او درد یې حس کوي ځکه نو په ویره او ډار کې یو له بله وړاندې کیږي .

هو !

همداسې ده ددوی اندیښنې په ځای دي ، ستاسې دا کم کرایه عسکر دا توانایي نه لري چې د نړیوال اسلامي خلافت د زمرو مخه ونیسي ، ستاسې دا کاغذي پړانګان مو فقط لاپو او دروغو کې پوره روزنه لري او په دې برخه کې مو ورته دوکتوراوې ورکړي نور یې نو ایمانونه موږ ته مالوم دي .

هو!

اسلامي دولت مجاهدین اوس دا وړتیا لري چې د اسلامي امت د اوښکو، وینو او عزتونو حساب ددوی د هر قاتل او هر مجرم سره وکړي .

اي د شرقي ترکستان محکومې او اسیرې خاورې !

اي د کمونستو چینایانو د جنسي تیري ښکار زما مومنونو باعصمته یغوریو خوینډو !

ای د چین په ډله ایزو زندانونو کې د خپل دین ، فکر ، هویت او عقیدې څخه په زور او وحشت لرې کیدونکو یغوري شازلمو !

اي د شرقي ترکستان پراخه تاریخي مساجدو، مدارسو جهاد او دعوت منابرو !

چې اوس درڅخه دغه کمونستو چینایانو د اسونو طبیلې جوړې کړي .

واورئ تاسې ته دا زیری درکوو ! د اسلامي امت اصلي وارثین د اسلامي خلافت بچې هیڅکله ستاسې له درده نا خبره او ستاسې له کړاونو بې پروا نه دي .

راپورته شئ او د اسلامي خلافت د کاروان سره ملګري شئ .

راځئ حملته په خپلو سیمو کې د یو تحرک او خوځښت په لټه کې شئ ، ستاسې ورونه د اسلامي دولت زمري ستاسې په دروازو ولاړ دي باذن الله زر به د یو نوي بدلون او حرکت شاهدان واوسو ، راځئ ټول په ټوله د مسلمانانو د خلیفه الشیخ المجاهد ابو الحسین الحسیني القریشي حفظه الله سره بیعتونه وکړئ .

موږ هغه نه یو چې د طالب مرتدینو په څېر ستاسې د اشغالګرو ، ناموس لوټونکو قاتلو چینایانو ساتنه کوو، نه ، بلکې موږ یې دغسې وژنه کوو، موږ یې له ښځونو داسې لمبې پورته کوو.

موږ به نه یواځې کمونسټ چینایان داسې ترهوو او ډاروو ، بلکې د ټول شرقي ترکستان ازادي او ستاسې د محکومو ملتونو خوشالي او ازادي مو ستر هدفونه دي .

دا د ټولې نړۍ د کفارو د ساتنې کم کرایه عسکر طالب مرتدین هیڅکله په دې ښکرورو دروغو او په دې تکراري باټو نور خپل کفار باداران نه ایسارولې او نه ساتلې شي .

Zabihullah (ذبیح الله م..)
@Zabehulah_M33

#عاجل:
د کابل په شهرنو سیمه کې په یوه هوټل باندې برید د ۳ بریدګرو په وژل کیدو پای ته ورسید.
د هوټل ټول میلمانه ژغورل شوي او هیڅ کوم بهرنی تبعه ندی وژل شوی.
صرف ۲ تنه بهرني میلمانه هغه مهال ټپیان شول چې له لوړ چت څخه یې ځان را وغورځاوه.

Translate Tweet

5:03 pm · 12 Dec 22 · Twitter Web App

د چینایي خنځیرانو له ځالې پورته کیدونکې لوګي او لمبې خپله ددې ویارلې په هر لحاظ د ستر تکتیکي او پیچلي برید د سترو تلفاتو شاهدي وایي .

طالبه !

ته چې د کومو کفارو او طواغیتو په ساتنه او خدمت بوخت یې ، دا ټول حربي کفار او د اسلام دښمنان دي ، د شریعت په نوم په روانو ډرامو هیڅکله خپل علني کفر له هیچا نه شئ پټولی .

هو دا ټوله کفري او طاغوتي نړۍ ستاسې دوستان او زموږ دښمنان دي ، ته یې ساتنه کوه موږ به یې وژنو .

ګورو به چې د الله په مرسته میدان څوک ګټي .

اي کفارو، طواغیتو ، مشرکینو او مرتدینو !

د طالب په نامه ستاسې جیره خواره مرتدین هیڅکله دا وړتیا نه لري چې تاسې د اسلام د بچو له خونړیو بریدونو وژغوري ، دا کاغذي پړانګان فقط دروغو او لاپو کې سیال نه لري ، نو انتظار کوئ ددې جګړې لمبې ستاسې د کورونو تر درشلونو در رسیدونکي دي باذن الله .

طالب مرتدین چې یو کال وړاندې یې د نړۍ کفارو ته د امن ډاډینې ورکولې ، لله الحمد اوس دومره ذلیله دي چې خپل کافر باداران خو یې ونه شو ساتلې بلکې له خپلو ښځونو هم د اسلامي دولت له لوري

بلې شوې لمبې نه شي مړې کولای، لله الحمد په تیر ۲۰۲۲ میلادي کال کې خراسان دټولو بهرنیو کفارو او داخلي مرتدینو لپاره ډیر خونړی او مرگونی کال وو، په تیر یوه کال کې د اسلامي دولت د خبر پاڼې اعماق د احصایي له مخې یوازې په افغانستان کې ۱۸۱ مختلف قسم بریدونه شوي چې په کې د گڼو طالب مرتدینو په شمول ددوی بهرني کافرو او مشرکو بادارانو ته هم درنه مرگ ژوبله اوښتي چې د احصایي له مخې یې شمیر ۱۱۸۸ تنو ته رسیږي.

د ټولې نړۍ په لر، بر کې د اسلامي دولت د سربښندونکو غازیانو بریدونه دوام لري، چې ددوی په منځ کې په افغانستان کې د شویو بریدونو او اوښتو تلفاتو له کبله افغانستان په دغه احصایه کې څلورم ځای لري.

دا په داسې حال کې ده چې طالب مرتدین سره د ډیرو سختو محدودیتونو او په رسنیزو کانالونو د بشپړ واک او بندیز له کبله او د خپلو بښکرورو دروا‌غو او تبلیغاتو په مټ هم اوس په دې نه توانیږي چې د اسلامي دولت بریدونه کمرنگه وښايي او یا یې تلفات پټ کړای شي، که څه هم طالب ویاندویانو په دروا‌غو او مکر کې له آی ایس آی څخه په روزنه کې په دې برخو کې دوکتوراوې اخستي خو لله الحمد داسلامي دولت زمري د هر برید داسې مستندې بیلگې وړاندې کوي چې د طالب ویاندویانو هر ځل دوراغ یې ددوی په مخ وروېشتلي، خو دوی د شرم په نوم کوم ارزښت نه پیژني چې کله هم د خجالت احساس وکړي، بلکې ددوی سپین سترگي او بې شرمي ورځ تربلې زیاتیږي او ددوی دا تورې څیرې ورځ تربلې رابربنډیږي څکه یې نو لله الحمد د ولسونو په منځ کې باور او حیثیت په بشپړ ډول له لاسه ورکړې که څه هم نه یې وایي خو که یې ووایي نو اوس یې په رښتیا هم څوک باور نه کوي.

نو موږ په ټولو مسلمانو افغانو شازلمو او د اسلامي امت په بچو غږ کوو!

راپورته شئ!

نور نو د اسلام د تیر برم او عظمت د راستنیدو دور رارسیدلی، نور نو د اسلام په لستوڼي کې دا پټ ماران رابښکاره کول او وژل غواړي، اوس نو د کفر او اسلام خیمې جلا شوي، اوس نو حق د لمر په څیر روښانه ځلیدلی، د حق په لور مو گامونه راگړندي کړئ او د اسلامي دولت سربښندونکو غازیانو د کاروان سره ملگري شئ.



د طالبانو
أمير المؤمنين
كه د چينايانو
په شمول
د ټولو كفارو
ساتونكى
مسكين

د طالبانو أمير المؤمنين که د چينايانو په شمول د ټولو کفارو ساتونکی مسکين

الحمد لله العزيز المتين الذي أنزل الكتاب على عبده الأمين وجعل له الخلفاء من بعده الراشدين المهديين والصحابة في سبيله المجاهدين لإعلاء كلمة الدين وكسر شوكة الكافرين والمشركين ومن والاهم من المجرمين والمنافقين المرتدين والصلاة والسلام على إمام المتقين و خيرخلق الله اجمعين محمد الذي أمر أمته بطاعة خلفاء المسلمين وأمراء المؤمنين أمابعد:

درنو لوستونکو ! د اسلام مقدس دين د يو پياوړي نظام په حيث د ژوند ټولو امورو ته خپل کامل او شامل قوانين او اصول لري، همدا راز د اسلام په سياسي نظام کې د هر مشر او امير حيثيت او موقف مالوم وي، د هغه مسوليتونه او مکليفيتونه په څرګندو نصوصو واضح شوې وي.

اسلام ټول اسلامي امت يو جسد ګڼي په کې د قومونو، ژبو، سمتونو او هيوادونو د ويش ترشا تعصبات وجود نه لري، د دغه ټول اسلامي امت به مشر يو وي، د يو اميرالمؤمنين له لورې به رهبري کېږي او د اسلام ټوله خاوره به يوه خاوره وي دا به په هيوادونو نه وي ويشل شوې، دا وېش دومره عادي خبره نه ده، بلکې د دې ترشا ګڼ عقيدوي مسائل هم ويشل شوي، دغه وېش د اسلام د ډېرو نواقضو سرچينه ده، اشغال شوې اسلامي خاوره او بيا پرې د کفارو له لورې حاکمان شوي طواغيت هيڅکله د اسلام او اسلامي امت استازيتوب نه شي کولای، دا بيا يو بېل (جدا) او اوږد بحث دی چې د بين الملل د اصولو په چوکاټ کې دغه وېش او د کفري ملت اصولو ته ژمنتيا او بيا په عين حال کې د اسلامي امت د قيادت دعوه او د اسلام د مبين دين د حاکميت نارې او شعارونه خالي پوچ خيالونه او د کفارو له لورې هغه شومه پديده او دسيسه ده، چې له ډېره وخته يې په مختلفو نومونو ډلې، ټپلې او تنظيمونه دې موخو ته کار کوي.

زمونږ بحث همدا دی؛ چې د طالبانو وطني ګوند چې د امريکا له لورې اوس په افغانستان د خپلو موخو لپاره حاکم کړای شوې، په داسې حال کې ځان د ټول امت استازي ګڼي چې له يوه طرفه د کفر په ملت کې شامل دي، د بين الملل په اصولو تړل شوي، د کفارو د ګټو ساتونکي او د دوی له لورې د وطني کربنو ترشا د ټولو مفاهيمو منونکي او د وطنيت د عقيدې درلودونکي دي.

بل طرف بيا خپل مشر اميرالمؤمنين ګڼي، او خلکو ته په سترګو کې خاورې وراچوي چې ګوندې دوی د ټول اسلامي امت غمخواره او د ټولې اسلامي خاورې د آزادۍ اتلان دي، حال دا چې دوی امريکا د بين الملل په ټولو هغه کفري اصولو تړلي چې له اسلامي امته يې جلا کړي او د کفر په ملت يې ورګډ کړي دي، ځکه نو دوی له افغانستانه بهر هر مسلمان بهرنې ګڼي، له افغانستانه بهر که په هر مسلمان هر ظلم او وحشت کېږي دا د هغوی خپله داخلي مسله ګڼي او په ځينو مواردو کې د خلکو د ذهنيت سازۍ په هدف فقط په يو څو نارو او شعارونو خپل مسوليت اداء شمېري، او د افغانستان په داخل کې بيا له مشرکو روافضو رانيولې د هندوانو، امريکايانو، روسانو او چينايانو ساتنه او حفاظت خپل مسؤليت ګڼي او د دوی څخه په دفاع کې خپلې مرداري وينې تويوي، بل لور ته بيا چې د دغه کفارو څخه کوم مجاهدين د ټولې اسلامي خاورې د آزادۍ او د ټول اسلامي امت د آزادۍ لپاره مبارزه کوي په دغه کفارو بريدونه کوي، نو همدا طالب ملېشې د بين الملل د اصولو له مخې مجبور دي چې همدې مجاهدينو په وړاندې د کفارو په مخکې له ځانه دفاعي ديوالونه جوړ کړي، او ورسره وجنګېږي چې تاسې يې عملاً بيلګې ګورئ، او په دې وروستيو کې مو وکتل چې طالب ملېشې په داسې حال کې چې خپل مشر د ټولو مسلمانانو امير المؤمنين ګڼي د شرقي ترکستان د څلوېښت مېليونه يرغمل شويو مسلمانانو له اشغالګرو، قاتلو او ناموس لوټونکو چينايانو په داسې حال کې دفاع او ساتنه کوي چې همدغه چينايي کمونستان په شرقي ترکستان کې د مظلومو او بيګنا يغور مسلمانانو په تعذيبولو، ربړولو، د دوی په بې عزته کولو او وژلو بوخت دي، د دوی له مساجدو او تاريخي مدارسو يې طبيلې جوړې کړې او د دوی څخه اوس خپل دين او هويت اخلي او کفر ورپېچکاري کوي، ځکه يې نو په ډله ايزو زندانونو کې د ډول، ډول تعذيبونو لاندې ساتلي، خو په ځای د دې چې د طالب ملېشو امير الؤمنين (!) د يغور د مسلمانانو پوښتنه وکړي، د هغوی دفاع او ملاتړ وکړي، د هغوی د قاتلانو او ناموس لوټونکو لپاره يې په افغانستان کې د عياشۍ هډې جوړې کړي، هغوی سره دوستي او مولات لري او د هغوی د هر ډول پاليسيو ننګه او ملاتړ کوي، او چې څو ورځې وړاندې د اسلامي دولت غازيانو د چين چيت پوزو کمونستانو ته د خپلو مسلمانو يغوري خويندو او ورونو د وحشتونو په انتقام کې د دوی په يو تفريحګا او د عياشۍ په هډه بريد وکړ نو طالب مرتدينو د چينايانو څخه په دفاع کې وجنګېدل او ډېری يې د خپلو چينايي ورونو سره يوځای جهنم ته لاړل ...

نو راځو او په همدې موضوع بحث کوو چې اميرالمومنين چاته وايي، د طالب ملېشو دا مجهول الهويته ايجنټ ملاهيبت په داسې حال کې امير المؤمنين کيدای شي چې په وطنيت ايمان لري او د بين الملل کفري اصولو ته ژمنتيا لري، د کفارو ساتنه او د مؤحدو مؤمنانو وژنه يې وظيفه او کار دی ؟

دغه ټولو پوښتنو ته به په دې لنډه مقاله کې ځوابونه وومو ئ باذن الله.

محترمو لوستونکو ! تاسې ته واضحه ده چې د أفغانستان په خاوره دغه د امريکا له لورې دغه حاکم کړای شوي موجوده مرتد طالبان په دې خبره کې سل په سله دروغجن دي چې دوی خپل مشر ته د أمير المؤمنين لقب ورکړی او هغه ددی صفت حق دار او د دې اهل ګڼي سره له دې چې د داخلي نظام ټول اُمور او سياسي اداري وغېره يې د مخکې جمهوري نظام سره په نومونو او فعاليتونو کې سل په سله موافقت او ورته

والي لري، ګویا چې ته به وایې بعینه هماغه جمهوري نظام دی، خو صرف د رئیس جمهور نوم او صورت بدل شوی، د چاخبره مَرْکَبْ هما غه دی خو کته او پالان یې بدل شوي، نو أمیر المؤمنین چاته وایي او په شریعت کې څه وظیفه او څه وجیبه او فریضه لري، رعیت په ده څه حقوق لري او دا په رعیت څه حقوق لري نو غواړو چې په لنډه توګه یې ذکر وکړو او بیا یې د مرتدو طالب ملېشو د برای نام امیر المؤمنین په حق کې ولټوو، چې ده کې له دې څخه څومره برخه موجوده ده ترڅو دغه حقیقت مسلمانانو ته ښه واضحه شي، او له دې څخه خبرشي چې طالب مرتدین د شرعي نظام او د امیر المؤمنین د نوم او لقب څخه د اسلام په ضد استفاده کوي.

درنو لوستونکو ! تاسې پوهېږئ چې طالب مرتدینو په موجوده عصر کې د اسلام او شریعت د نقشې په بدلولو کار شروع کړی دی، په دې اړه په سلګونو مثالونه شته د طالب ملېشو، کوشش دا دی چې د کفارو په خوښه او پلان له یوه لورې د اسلام حقیقي شکل بدنام کړي او خلکو ته اسلام د خرافاتو او دغسې چټیاتو یوه ټولګه معرفي شي کوم چې نن سبا یې طالب ملېشې دعوه کوي، او بل لور ته د حقیقي اسلامي نظام په بدل کې د طالب په لاس تطبیقېدونکې امریکایي اسلام په خلکو د حقیقي اسلام په حیث ومني نو له دې ډلې یو هم د الله حدود دي چې معظم شعائر د الله دي، دا دې طالب ملېشو د خپلو خېټو څخه د خپل خواهیش په فتواو دغه ټاکلي حدود هم تغېر کړل، د زاني حد دادی د رجم پرځای کوړو (دُرو) ته نقل شو او د سلو کوړو او یو کال تغریب نه یوویشت "۲۱" کوړې جوړې شوي، د غلا حد د لاس د قطعه کولو څخه د ویښتو قطعه کولو او یا غل ته د مخ تورولو، او یا هم درو وهلو ته راټیټ شو، د لواطت حد چې قتل دی فقط ۳۹ (دُرې) شرعي حکم وګڼل شو دا هغه ښکاره حدود دي، چې په أړه یې د مسلمانانو لوی او واړه معلومات لري، نو هغه احکام چې ډېر مسلمانان ترینه خبر هم نه دي، نو د هغې سره به څه څه نه کوي؟

بیا به ووایم افسوس په هاغه ملایانو چې که لس روپۍ شخصي تاوان یې وشي، نو بیا مسجد او ژرنده نه ګوري، هر ځای یې دغه فریاد له خولې څخه خېژي، خو د الله د دین سره دومره په لویه کچه ظلم کېږي، خو د دوی له خولو څخه یو اه قدر هم وانهورېدل شو!!

"انا لله وانا الیه راجعون" نو د دې حقایقو د څرګندونو په پار راځو او په شریعت کې د أمیر المؤمنین احکام ذکر کوو.:

نو دا چې په اسلام کې د امیر، امام او خلیفه أهمیت د لمر په شان ځلېدونکی حیثیت او مقام لري، کتاب او سنت او ورسره اجماع د امت د دې د تعین او تنصیب په اړه واضحه لاربښوني کړي دي. د نقل (شریعت) سره سره عقل هم دا تائدوي، چې که د یو کور خلک خپلو کې یو عادل اهل او منصف مشراو رهبر ونه لري، نو د دوی د دنیاوي ستونزو سره سره به دیني ستونزې هم ورځ تربلې زیاتېږي او دوی به د کامیابۍ کومه لار ونه مومي. د ټولې نړۍ او د ځمکې د مخ د مؤمنانو اتفاق، عزت، ایمان، دینیات او دنیاوي ژوند به څنګه محفوظ شي، چې کله هغوی یو رهبر او امیر ونه لري، همدا وجه ده چې نبي صلی الله علیه وسلم به په سفر کې هم د امیر په ټاکلو امر کولو، څکه چې سنن ابي داود کې په [نمبر ۲۲۴۵] باندې د ابو هریْرة رضی الله عنه څخه روایت موجود دی، فرمایي چې: رسُول اللَّه صَلی اللَّه عَلَیْهِ وسَلم وفرمایل " (إِذَا كَانَ ثَلَاثَةٌ فِي سَفَرٍ فَلْيُؤَمِّرُوا أَحَدَهُمْ)

ژباړه: کله چې درې کسان وي په سفر کې نو پس یو دې خپلو کې امیر وټاکي، نو سفر چې کله انسان د دې نه غافل کوي، چې د امیر د امر طاعت او نهي څخه اجتناب وکړي، نو شریعت ورباندې په سفر کې هم د امیر سپوری وکړ، تر څو په دې وختونو کې داسې وخت رانه شي، چې دا د امیر له خیر څخه محروم پاتي شي، او دا هغه واجب امر دی.

چې زما د کم علم موافق د اسلامي امت اوائلو له داسې چا څخه هېڅ خبر نه دی ورکړی چې هغه په أمت کې معتبر وي او هغه د دې په وجوب قول نه وي کړی، امام أبو الحسن علی بن محمد الماوردي رحمه الله فرمایي: (الإمامة موضوعة لخلافة النبوة في حراسة الدين وسياسة الدنيا، وعقدها لمن يقوم بها في الأمة واجب بالإجماع وإن شذ عنهم الأصم) ژباړه : امامت دا وضع شوی د نبوي خلافت لپاره د ساتنې د دین او د سیاست د دنیا، او عقد کول د خلافت د هغه چا سره چې دا قائموي، واجب دي په اجماع سره اګر چې أصم (معتزلی) د دې خلاف قول کړی دی.

[الأحكام السلطانية صـ١٥]

او بیا په دغه اجماع د اسلامي امت امامان په استدلال کې د الله متعال دا قول په لاس کې لري چې فرمایي: " {وإذ قال ربك للملائكة إني جاعل في الأرض خليفة}

ژباړه: او هغه وخت درياد کړه، چې وفرمایل رب ستا ملائکو ته چې بې شکه زه پیداکونکی یم په ځمکه کې خلیفه لره "

الكلمة الظريفة : (في تعيين تسمية آدم في الآية بالخليفة)

نو دا چې په قرآن عظیم الشان کې نور هم داسې ایاتونه شته چې مفسرینو ترینه د خلیفه او خلافت د قیام د وجوب په اړه استنباط کړی، خو چونکې دې ایت کې د خلیفه د معنا او د دې د مراد په اړه أقوال مختلف دي، نو اول دې فصل کې راځو او د لوی الله متعال په فضل توفیق او مدد سره غواړو چې د دې باره کې د اسلامي امت دیو څو مشهورو مفسرینو هغه اقوال وړاندې کړو چې هغوی په ذکر شوي ایت کریمه کې د خلیفه څخه د شرعي نظام او د خلافت خلیفه، حاکم، امام او أمیر المؤمنین مراد کړی دی، نه بل څوک.

نو راځو او په دې اړه د مشهورو مفسرینو او علماؤ اقوالو ته :

1 - علامه خازن رحمه الله فرمایي:

(والصحيح إنه إنما سمي خليفة لأنه خليفة الله في أرضه لإقامة حدوده وتنفيذ قضاياه)

ژباړه: او صحیح داده چې بې شکه

آدم علیه السلام ته یې خلیفه وویل د دې لپاره چې هغه د الله خلیفه دی په ځمکه د هغه کې لپاره د قائمولو د حدودو او نافذولو د فیصلو د هغه (تعالی) تفسیر [الخازن ۱/۳۵]

2 - علامه سمعاني فرمايي: وقيل: (إنما سمى خليفة لأنه خليفة الله في الأرض؛ لإقامة أحكامه، وتنفيذ قضاياه، وهذا هو الأصح)

ژباړه: بې شکه نوم ورکړی شوی دی (آدم علیه السلام) ته د خلیفه د دې لپاره چې هغه د الله خلیفه دی په ځمکه کې، د پاره د قائمولو د احکامو د هغه او د نافذولو د فیصلو د هغه او همدا ډېر صحیح (قول دی په اقوالو کې) تفسیر [السمعاني۱/۶۴]

3 - علامه بغوی رحمه الله فرمايي: (والصحيح أنه خليفة الله في أرضه لإقامة أحكامه تنفيذ قضاياه)

ژباړه: او صحیح خبره دا ده چې یقیناً هغه د الله خلیفه دی په ځمکه د هغه کې د پاره د قائمولو د احکامو د هغه او د نافذولو د فیصلو د هغه تفسیر [البغوی ۱/۱۰۲]

4 - علامه رازي فرمايي: الثاني: (إنما سماه الله خليفة لأنه يخلف الله في الحكم بين المكلفين من خلقه وهو المروي عن ابن مسعود وابن عباس والسدي وهذا الرأي متأكد) بقوله: {إنا جعلناك خليفة في الأرض فاحكم بين الناس بالحق }

ژباړه: او بې شکه ده (آدم علیه السلام) ته الله د خلیفه نوم ورکړ د دې لپاره چې په مخلوقاتو کې په مکلفو باندې د الله حکم نافذکړي او همدا د ابن مسعود ابن عباس رضی الله عنهم او سدی رحمه الله څخه نقل دي او همدارأیه تاکیدی رأیه ده دوجهې د دې قول د هغه الله تعالی چې دا دی بې شکه مونږ ته گرځولی یې خلیفه په ځمکه کې پس فیصله کوه د خلکو تر ترمنځه په حق (دین) سره. تفسیر [الرازی ۲/۳۸۹]

نو د دې یو څو اقوالو د مفسرینو څخه معلومه شوه چې دلته په ذکر شوي ایت کې له خلیفه څخه د مسلمانانو عام مشر او د الله د احکامو نافذونکی مراد دی، چې شریعت کې مختلف نومونه لري.

۱: خليفة المسلمين
۲: أمير المؤمنين
۳: سلطان الله
۴: إمام المسلمين
۵: حاكم الشريعة
۶: وليُّ الأمر

چې دغه ټول نومونه او لقبونه د کتاب او سنت او اقوالو د أمت څخه ثابت دي. مشهور امام او مفسر علامه ابن جریر الطبري رحمه الله د [سورة النساء ۵۹] نمبر ایت کریمه متعلق چې دادي:

{ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُواْ ٱلرَّسُولَ وَأُوْلِي ٱلۡأَمۡرِ مِنكُمۡ } الآية

ژباړه: ای مؤمنانو! د الله او د رسول او د هغو کسانو اطاعت وکړئ چې ستاسې څخه د امر خاوندان وي.

د دې په اړه د مختلفو مفسرینو د اقوالو د ذکر کولو څخه وروسته فرمایي: (وأولى الأقوال في ذلك بالصواب، قول من قال: هم الأمراء والولاة = لصحة الأخبار عن رسول الله صلى الله عليه وسلم بالأمر بطاعة الأئمة والولاة فيما كان للطاعة، وللمسلمين مصلحة)

ژباړه: او غوره قول د أولُی الأمر په تعیین کې، قول د هغه چا دی چې هغه دا وایي چې له دې څخه مراد امیران او والیان (د شرعي نظام) دي، له وجهې د صحیح احادیثو نه چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه راغلي په أمر کولو د هغه طاعت د امامانو او والیانو په هغه څه کې چې الله ته طاعت او د مسلمانانو په کې مصلحت وي، تفسیر [الطبري ۸/۵۰۲]

د ترمذي حدیث کې داسې حاکم او خلیفه ته سلطان ویل شوی الفاظ دحدیث دادي: (مَنْ أَهَانَ سُلْطَانَ اللَّـهِ فِي الْأَرْضِ أَهَانَهُ اللَّـهُ)

ژباړه: څوک چې د الله د باد شاه سپکاوی وکړي الله دي د هغه سپکاوی وکړي.

إمام نووي رحمه الله فرمايي: (يجوز أن يقال للإمام الخليفة والإمام وأمير المؤمنين)

ژباړه: جایز دي چې امام ته خلیفه امام او أمیر المؤمنین وویلی شي. [روضة الطالبين ۱۰/۴۹] ابن جماعه رحمه الله فرمايي: (ومن عقدت له البيعة جاز أن يسمى خليفة وأن يقال خليفة رسول الله لأنه خليفته في أمته)

ژباړه: او هغه څوک چې بیعت ورسره وکړای شي جائز دی چې هغه ته د خلیفه نوم ورکړای شي او دا هم جائزدي چې د رسول الله خلیفه ورته وویل شي ځکه چې دا د هغه خلیفه دی، په أمت د هغه کې.

[تحرير الأحكام صـ۵۷]

الفوائد الخاصة فی ذکر المختصروالخلاصة

الغرض تردي ځایه د دې فصل نه مختصر او خلاصه دا څو فائدې معلومې شوې

۱: په ایت کې د خلیفة د کلمې مطلب معلوم شو چې د دې څخه مراد د شرعي او اسلامي نظام نافذونکی حاکم دی، چې دې ته خليفة المسلمين ویلی شي، او نور صفتي نومونه هم لري.

۲: داسې حاکم د ځمکې د یوې حصې او پولې پورې محدود نه وي، بلکې دا به ټوله ځمکه د خپل حاکمیت لپاره خپل حق گڼي او دا په ایت کې د "فی الأرض " له کلمې څخه معلومیږي، امام رازي رحمه الله فرمايي: (الظاهر أن الأرض التي في الآية جميع الأرض من المشرق إلى المغرب)

ژباړه: ښکاره دا ده چې ځمکه هغه چې په ایت کې ذکر ده ټوله ځمکه مراد ده ، د مشرق څخه ترمغربه .. [تفسیر الرازی ۲/۳۸۸]

نو معلومه شوه چې أمیر المؤمنین به هغه څوک وي، چې په ټوله ځمکه باندې د شریعت لپاره قدم پورته کوي او د دې لپاره جهاد اعلانوي او د دې مخې ته چې هر څومره موانع او خنډونه وي، د هغې د ختمولو کوشش به کوي.

۳: ضرورت او أهمیت د انسان خلافت ته: ځکه الله متعال لا رعیت پیدا کړی نه دی، له هغې څخه مخکې ورته د حاکم او خلیفه بندوبست کوي، دلیل دی په دې چې خلافت أهم ضرورت دی په دنیا کې د انسان د ژوند تېرولو او د دین او دنیا د اصلاح لپاره، ځکه خو قرطبي رحمه الله فرمايي: (وجود السلطان عاما واحدا أقل أذاته من كون الناس فوضى لحظة واحدة، فأنشأ الله سبحانه الخليفة لهذه الفائدة، لتجري على رأيه الأمور، ويكف الله به عادية الجمهور)

ژباړه: او حاکم که فرضاً یو کال په رعیت ظلم وکړي، نو دا د تکلیف په اعتبار له دې ډېر کم دی چې مسلمانان پرته له امامه یوه لحظه هم تېره کړي، نو الله سبحانه وتعالی خلیفه د دې فائدې لپاره پیداکړ، چې په امر یې کارونه وشي او الله د ده په سبب د دښمن د لښکر شر بند کړي.

[تفسیر القرطبی / ۶/۳۲۵].

أقوال النبلآء فی وجوب تنصیب الأئمة والخلفاء.

د ائمه وو او خلفاؤو د ودرولو د وجوب په اړه د هوښیارانو اقوال: دا خبره څو مونږ بار، بار مکرر وکړه، چې د مسلمانانو ضرورت خلافت او خلیفه ته ډېرزیات دی، بلکې د اُبو او هوا څخه هم زیات دی، نو راځو او په دې د امت د علم او عقل د خاوندانو یو څو اقوال هم وړاندې کوو:

۱: مفسر قرطبي د [سورة البقرة] د ذکر شوي ایت متعلق مسائل مستنبط کوي فرمايي: (الرابعة هذه الآية أصل في نصب إمام وخليفة يسمع له ويطاع، لتجتمع به الكلمة، وتنفذ به أحكام الخليفة. ولا خلاف في وجوب ذلك بين الأمة ولا بين الأئمة إلا ما روي عن الأصم حيث كان عن الشريعة أصم، وكذلك كل من قال بقوله واتبعه على رأيه ومذهبه)

ژباړه: او څلورمه مسأله د دې ایت څخه چې ثابتیږي هغه دا ده چې دا ایت اصل بنیادي دلیل دی، په ودرولو د امام او خلیفه کې چې خبره به یې اوریدلی شي او اطاعت به یې کېدلی شي، د دې لپاره چې د دین احکام پرې راغونډ شي او د خلیفه احکام پرې تنفیذ کړای شي او هیڅ خلاف نشته په واجبوالي د دې په امت کې، او نه د امت په امامانو کې، مگر هغه چې د أصم نه نقل شوی، لکه څنګه چې هغه د شریعت نه هم کوڼ پاتې شوی دی او همدا رنگه هغه چا چې د ده په قول یې قول کړی او د ده د رأیې او مذهب تابعداري یې کړي ده [تفسیرالقرطبي/ ۱/۲۶۴]

"**تنبیه** " یاده دې وي چې أصم دا د معتزله وو د مشرانو څخه وه، نوم یې ابوبکر وه. نو لهذا معتزله وو ته په دې باب کې اعتبار نشته، ځکه صحیح دا ده چې دوی د أهل السنة والجماعه څخه نه دي.

(۲) علامه ابن کثیر رحمه الله فرمايي: (وقد استدل القرطبي وغيره بهذه الآية على وجوب نصب الخليفة ليفصل بين الناس فيما يختلفون فيه ويقطع تنازعهم، وينتصر لمظلومهم من ظالمهم، ويقيم الحدود، ويزجر عن تعاطي الفواحش، إلى غير ذلك من الأمور المهمة التي لا يمكن إقامتها إلا بالإمام، وما لا يتم الواجب إلا به فهو واجب)

ژباړه: او استدلال نیولی قرطبي او نورو بغیر له هغه څخه هم په دې ایت سره په واجب والي د قیام د خلافت، د دې لپاره چې فیصلې

وکړي خليفه په مينځ د خلکو کې په هغه څه کې چې اختلاف يې وي په هغې کې او قطعه کړي جګړې د هغوی او مرسته وکړي، په هغوی کې د مظلوم د هغوی په مقابل د ظالم د هغوی کې او حدود نافذ کړي او منعه کړي خلک فحشاو ته له راتګ څخه او داسې نور هغه امور نافذکړي چې مهم وي، هغه چې د هغې قائمول نه کېږي مګر په امام او هغه څه چې واجب پرې نه پوره کېږي مګر په هغې سره نو هغه سبب لاس ته راوړل او هغه لاره اختيارول هم واجب ده [تفسير ابن کثير : ۱/۲۲۱]

۳: قاضي ابو يعلي رحمه الله فرمايي: (نصبة الإمام واجبة)

ژباړه: د امام (خليفه) ودرول واجب دي. بيا يې د امام احمد بن حنبل رحمه الله په حوالې سره په سقيفه بنو ساعده کې د انصارو او مهاجرو د خلافت د قيام او د خليفه د تنصيب متعلق تذکره کوي او فرمايي: چې "فلولا أن الإمامة واجبة لما ساغت تلك المحاورة "

ژباړه: نو بس که چېرته خلافت واجب نه وي نو بيا دغه محاوره د انصارو او د مهاجرو ترمنځه جائز نه وه. [الأحكام السلطانية ص: ١٩]

او ولي په خلافت او د خليفه تعينول واجب نه وي، چې صحابه کرام دنبي صلی الله عليه وسلم د وفات نه بعد فوراً د بنو ساعده په سقيفه کې د دې د قيام اهتمام په غم او فکر کې راټولېږي، سره له دې چې د نبي صلی الله عليه مبارک جسد لا دفن شوی نه دی، تکفين او تجهيز يې لا شوي نه دي او د ابوبکر او عمر رضی الله عنهما غونډې جليل القدر صحابه کرام د دې اهتمام، د رسول الله صلی الله عليه وسلم د دفن له اهتمامه مصروفوي، د دې نه به بل قوي دليل وروسته د کتاب د الله او د رسول الله صلی الله عليه وسلم د سنت څخه کوم وي؟

آيا څوک داسې جرأت کولای شي، چې ووايي چې "دوی د رياست غم وړي وو، چې انصارو ته يې ويل چې مونږ قريش د دې مشرۍ حق لرو تاسې نه،" او دا هم په داسې حال کې چې د نبي کريم صلی الله عليه وسلم جسد مبارک لا دفن شوی هم نه دی.

(۴) علامه ابن حجرالهيتمي رحمه الله فرمايي: (اعلم أيضا أن الصحابة رضوان الله تعالى عليهم أجمعين أجمعوا على أن نصب الإمام بعد انقراض زمن النبوة واجب بل جعلوه أهم الواجبات حيث اشتغلوا به عن دفن رسول الله صلى الله عليه وسلم)

ژباړه: پوه شه همدا رنګه چې بې شکه صحابه کرامو رضوان الله عليهم اجمعين د خليفه په ودرولو اجماع کړي، وروسته د ختمېدو د زمانې د نبوة نه، بلکې امام تعين يې د اهمو واجباتو څخه ګرځولی دی، داسې چې هغوی يې د رسول الله صلی الله عليه وسلم د دفن څخه مشغول کړل.

[الصواعق المحرقه ص: ٢٥]

(٥) علامه ابن حزم رحمه الله فرمايي :

(اتفق جميع أهل السنة وجميع المرجئة وجميع الشيعة وجميع الخوارج على وجوب الإمامة وأن الأمة واجب عليها الانقياد لإمام عادل يقيم فيهم أحكام الله ويسوسهم بأحكام الشريعة التي أتى بها رسول الله صلى الله عليه وسلم حاشا النجدات من الخوارج).

ژباړه: اتفاق کړی ټولو اهل السنة والجماعه او ټولو مرجئه وو، او ټولو شيعه وو او ټولو خوارجو په واجب والي د امامت او په دې چې بې شکه واجب دی په امت باندې، تابعداري د داسې عادل امام چې په دوی کې د الله احکام جاري کوي او د دوی پالنه په شرعي احکامو کوي، هغه شرعي احکام چې رسول الله صلی الله عليه وسلم پرې راتلل کړي، خو بغير د نجداتو چې د بعضې خوارجو څخه دي هغوی صرف د خلافت په قيام د وجوب عقيده نه لري. [الفصل في الملل والنحل: ٤/٧٢]

(٦) شيخ الاسلام ابن تيميه رحمه الله فرمايي: (يجب أن يعرف أن ولاية أمر الناس من أعظم واجبات الدين؛ بل لا قيام للدين ولا للدنيا إلا بها. فإن بني آدم لا تتم مصلحتهم إلا بالاجتماع لحاجة بعضهم إلى بعض ولا بد لهم عند الاجتماع من رأس حتى قال النبي صلى الله عليه وسلم [إذا خرج ثلاثة في سفر فليؤمروا أحدهم)

ژباړه: واجب ده چې وپېژندل شي داچې بې شکه د خلکو مشري کول دا د لويو واجباتو د دين څخه ده، بلکې قيام د دين او د دنيا نه واقع کېږي، مګر په دې خلافت سره، پس بې شکه د انسانانو مصلحتونه نه شي پوره کېدای مګر په اجتماع اتفاق او يو والي سره، او د وجهې د هغه حاجت چې ځينې، يې ځينې نورو ته لري، نو چاره نشته دوی ته د يو والي په وخت کې د يو مشر څخه تردې چې نبي صلی الله عليه وسلم فرمايلي چې کله درې کسان په سفر وځي نو يو کس دې په ځان له دوی څخه أمير مقرر کړي. [مجموع الفتاوی: ٣٩٠/٢٨]

د خلافت د قيام د وجوب او فرضيت او ضرورت په اړه د مفسر قرطبي رحمه الله دا قول هم واورئ چې د ابوبکر صديق رضی الله عنه د هغه تعيين متعلق چې عمر رضی الله عنه يې استخلافا مقرر کړ! فرمايي: (ثم إن الصديق رضي الله عنه لما حضرته الوفاة عهد إلى عمر في الإمامة، ولم يقل له أحد هذا أمر غيرواجب علينا ولا عليك، فدل على وجوبها وأنها ركن من أركان الدين الذي به قوام المسلمين، والحمد لله رب العالمين)

ژباړه: بيا دا چې ابوبکر صديق رضی الله عنه ته کله وفات حاضر شو، نو عمر رضی الله عنه ته يې د امامت د مشرۍ عهد يې وکړ، او يو صحابي هم د ده ونه فرمايل"دا ته چې يې کوې دا داسې يو کار دی چې واجب نه دی نه په مونږ او نه په تا نو چې هېڅ چا داسې ونه ويل هغه ته او هغه يې د اهتمام دومره خيال وساته نو پس دا دليل شو په واجب والي د خلافت او په دې چې بې شکه دا خليفه او خلافت ودرول يو رکن دی د ارکانو د دين څخه هغه رکن چې په هغې سره د مسلمانانو ساتنه کېږي او ټول حمدونه الله لره دي چې رب د مخلوقاتو دی. [١/٢٦٥]

(٧) علي ابن أبي طالب رضي الله عنه فرمايي: (لا بد للناس من إمارة: برة كانت أو فاجرة. فقيل: يا أمير المؤمنين هذه البرة قد عرفناها. فما بال الفاجرة؛ فقال: يقام بها الحدود، وتأمن بها السبل، ويجاهد بها العدو، ويقسم بها الفيء.)

ژباړه: لابدي ده خلکو لره د إمارت د قائمولو څخه که صالح امارت وي او که فاجر، نو وويل شو ورته ای أمير المؤمنين کوم چې نيک امارت دی، دا خو مونږ پيژنو چې فائدې لري نو د فاجر امارت څه فائده ده، نو هغه وفرمايل د دې په وجه حدود نافذېدای شي، لارې پرې په امن کېدای شي او د دښمن سره جهادونه کېدای شي او د في المال پرې تقسمېدای شي.

[السياسة الشرعية لابن تيمية ص ٥١] مطلب د فاجر امارت څخه هغه دی چې حاکم يې متقي نه وي، خواهش پرست او د دنيا د راحت او استراحت سره شوق لرونکی وي، دا نه چې کافر او مرتد وي، ځکه حاکم چې کافر شي نو امامت يې لغوَ کېږي او پر خلاف يې خروج کول واجب ګرځي.

(٨) عثمان بن عفان رضي الله عنه به فرمايل: (ما يزع الإمام أكثر مما يزع القرآن)

ژباړه: هغه څه چې امام خليفة " أمير المؤمنين يې منعه کوي هغه ډېر دي له دې چې قرآن يې منعه کوي.

د دې معنا هم معلومه ده چې کله امام موجود وي، نو خلک بيا د حسبې تعزيراتو او حدودو له ډاره د منکراتو څخه ځان ډېر ساتي او که امام نه وي نو صرف د قرآن په وجه ډېر خلک ځانونه له ناکرديو څخه نه ساتي.

٩: عمر رضی الله عنه چې کله د ابو لؤلؤ کافر د لاسه زخمي شو، نو د مرګ په دغه حال کې يې فوراً شپږ کسيزه شوری د أهل الحَل والعقد وټاکله او يو کور کې يې ورته د خليفه د تعيين باره کې د ناستې امر وکړ او بيا يې ابو طلحه الأنصاري رضی الله عنه ته امر وکړ، ورته ويې فرمايل: (فقم على ذلك الباب بأصحابك فلا تترك أحدا يدخل عليهم ولا تتركهم يمضي اليوم الثالث حتى يؤمروا أحدهم. اللهم أنت خليفتي عليهم)

ژباړه: ودرېږه د دې کور په دروازه کې په دې ملګرو دې هېڅ څوک مه پرېږده دننه چې دوی ته ورشي او مه دوی پرېږده چې تر درې ورځو پورې تير شي، تر دې چې يوکس په دوی کې په دوی امير مقرر شي، بيا يې وفرمايل : ای الله ته زما خليفه يې په دوی باندې. [طبقات ابن سعد ٣/٢٧٨]

(١٠) ويجب نصب إمام بحراسة الدين، وسياسة أمور المسلمين، وكف أيدي المعتدين، وإنصاف المظلومين من الظالمين، ويأخذ الحقوق من مواقعها، ويضعها جمعا وصرفا في مواضعها، فإن بذلك صلاح البلاد وأمن العباد، وقطع مواد الفساد، لأن الخلق لا تصلح أحوالهم إلا بسلطان يقوم بسياستهم، ويتجرد لحراستهم؛ ولذلك قال بعض الحكماء: جور السلطان أربعين سنة خير من رعية مهملة ساعة واحدة)

ژباړه: او واجب دي، ته د ظالمانو نه د انصاف ورکولو او لپاره داخستلو د حقوقو د خپل ځای نه، او کېښودل او جمع کول او مصرف کول يې په خپلو لائقو ځايونو کې ځکه چې

بېشکه دې سره د ښارونو آبادي او د بنده ګانو امن قائمېږي او د فساد مادي قطعه کېږي، ځکه چې يقيناً د مخلوق احوال نه اصلاح کېږي مګر په داسې حاکم چې هغه د دوى په سياست باندې مصروف وي او د دوى ساتنه يې موضوع وي، نو د دې وجهې نه بعضو د حکمت خاوندانو فرمايلي "ظلم د مسلمان حاکم څلوېښت کاله دا غوره دى د هغه رعيت نه چې يو لحظه بې سرپرسته پاتې شي، [تحرير الأحكام ص /٥٩]

الغرض د صحابه کرامو دا اجماعي موقف د مفسرينو او علماؤ د [سورة البقرة ديرشم ٣٠] ايت کريمه نه دغه استنباط او نظر د بې شماره صحيح احاديثو په رڼا کې اخذ شوى چې يو له هغې څخه دا دى، ابو حَازِمٍ رحمه الله فرمايي: زه د ابو هريره رضى الله عنه سره پنځه کاله پاتې شوى يم، نو پس ما ترې ډېر ځلې اورېدلي چې حديث به يې بيانولو د نبي صلى الله عليه وسلم څخه چې هغه وفرمايل: (كَانَتْ بَنُو إِسْرَائِيلَ تَسُوسُهُمُ الْأَنْبِيَاءُ كُلَّمَا هَلَكَ نَبِيٌّ خَلَفَهُ نَبِيٌّ ، وَإِنَّهُ لَا نَبِيَّ بَعْدِي وَسَيَكُونُ خُلَفَاءُ فَيَكْثُرُونَ ، قَالُوا : فَمَا تَأْمُرُنَا ، قَالَ : فُوا بِبَيْعَةِ الْأَوَّلِ فَالْأَوَّلِ أَعْطُوهُمْ حَقَّهُمْ فَإِنَّ اللَّهَ سَائِلُهُمْ عَمَّا اسْتَرْعَاهُمْ)

ژباړه: وو بنو اسرائيل چې د هغوى مشري به انبياؤ کوله، نو چې کله به هم هغوى کې يو نبي وفات شو وروسته به بل نبي راغلو او بې شکه بل نبي نه شته زما نه بعد، او ژر دى چې خلفاء به راځي او ډېر به راځي نو صحابه وو وفرمايل: نو پس تاسې څه امر کوئ مونږ ته د دې خلفاؤ متعلق؛ نو هغه وفرمايل: "وفا پوره والى وکړئ په بيعت خپل کې مو د اول خليفه سره تاسې د هغوى حقوق ادا کړئ، پس بې شکه الله تعالى پوښتنه کونکى دى د هغوى څخه د هغه څه چې دوى يې ورته راعيان (مسؤولين) ګرځولي دي، د دې حديث لنډ څو فوائد ملا حظه کړئ.

١: اسلام کې مشري د خلفاؤ حق دى

٢: د خليفه وظيفه د نبوت په نهج او طريقې سره د دين او رعيت پالنه کول دي.

٣: خليفه د پيغمبر نائب وي، د ده عزت او احترام پکار دى.

۴: د خليفه سره بيعت کول سنت دي.

۵: خليفه سره بيعت باندې وفا واجب ده.

٦: د خليفه د مرحق د اداء کولو اهتمام به کېدلى شي.

٧: که بالفرض خليفه د رعيت حق هم نه اداء کاوه له طاعت څخه به يې معروفاتو کې خروج نه شي کېداى. دا او دې ته نور ورته ډېرى احاديث موجود دي، چې علماؤ. ترينه د خلافت د قائمولو او د خليفه او د رعيت حقوق مستنبط کړي دي.

نو معلومه شوه چې د خليفه امام او د مؤمنانو د امير ودرول او د هغه سره بيعت کول او د هغه طاعت کول دا هغه عيني واجبات دي چې انکار ترې نه شي کېدلى، ځکه چې د دې نه کونکي د شريعت له لوري د سخت وعيد سره مخ شوي دي. [صحيح مسلم کې په نمبر: ۴۳۴۷] باندې حديث موجود دى عبد الله بن عمر رضى الله عنه فرمايي: (سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، يَقُولُ : مَنْ خَلَعَ يَدًا مِنْ طَاعَةٍ لَقِيَ اللَّهَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ لَا حُجَّةَ لَهُ ، وَمَنْ مَاتَ وَلَيْسَ فِي عُنُقِهِ بَيْعَةٌ مَاتَ مِيتَةً جَاهِلِيَّةً)

ژباړه: ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اورېدلي چې فرمايل يې " چاچې لاس د خليفه د طاعت څخه وويسته الله سره به د قيامت په ورځ ملاقات وکړي، په داسې حال کې چې هيڅ دليل به ورسره د ځان د عذر او خلاصون لپاره نه وي، او څوک چې مړشو او د ده په غاړه د خليفه بيعت نه وو نو د ده مرګ د جاهليت دي".

عزتمندو مسلمانانو ! دې باب کې بې شماره احاديث موجود دي، چې همدا موقف ثابتوي چې مسلمانان دې د خپل امير طاعت او احترام کوي او د هغه په قيادت کې دې اسلام او مسلمانانو ته خدمت کوي.

وضع الميزان لإثبات الفرق بين شريعة الله وشريعة طالبان!

د الله د شريعت او د طالبانو د شريعت ترمنځ د فرق ثابتولو لپاره د تلې ايښودل.

نو تر دې ځايه دغه تفصيل په دې خاطر وشو چې دا مسلمانانو ته واضحه او ښکاره شي چې د خلافت قيام په ټول اسلامي امت باندې واجب دى، هر مسلمان ته په کار دي، بلکې دا يې فرض جوړېږي چې

په دغه وخت کې د الله د دين او شعايرو ساتنې ته بدې راووهي، دا هر څه يوازې د خلافت په قيام سره ساتل کېږي، نو ځکه د خلافت او خليفه شتون ضرور دى. نو اوس د دې په مقابل کې دوطني مرتدو طالبانو دغه بې دليله دعوې ذکر کوو چې هغوى خپل نا اهل مشر مجهول هبت الله اخندزاده أمير المؤمنين(!) ګڼي ځکه د دوى د دغې دعوې بطلان په دې څو وجوهو سره ثابتېږي.

١: د الله په شريعت)

أميرالمؤمنين کلمې لقب مطلقاً د هغه چا حق دى چې هغه د ځمکې په مخ هر مسلمان او مؤمن خپل رعيت ګڼي، د هغه په غم غمجن کېږي او په خوشحالى يې خو شحالېږي، او د هغوى د غچ اخستنې فى الحال يا فى المال قوي عزم او پخه اراده لري، هيڅ طاغوتي پوله او باډر يې په دې کې مانع نه شي واقع کېداى، اګر که دا د ځمکې په شرق کې وي او دغه مسلمان او مؤمن په غرب کې اوسي، نو ګويا چې په أميرالمؤمنين کې الف او لام دا د استغراق لپاره دي، چې مراد ترينه ټول مسلمانان او مؤمنان دي!

د طالبانو شريعت

د دې حکم برعکس دى، که تاسې د مرتدو طالبانو مرتد مشر ته د دوى د اميرالمؤمنين لقب باندې غور وکړئ، نو دا به شريعت پوري د خندا کولو نه کمه نه ده، ځکه چې د دوى أميرالمومنين!! ته که وګورى نو بهر د افغانستان څخه خو پرېږده بلکې په داخل د افغانستان کې هم له مؤمنانو او مسلمانانو څخه براءت کوي، بلکې خپله يې د دوى قتل عام شروع کړى دى، چې دا حقيقت له هيچا څخه پټ نه دى، او په هيڅ مسلمان پټ نه دى، نو اوس تاسو ووايئ دا اميرالمؤمنين دى که امير الوطنيين!؟

٢: د الله شريعت

د أميرالمؤمنين صرف أميرالمؤمنين نوم نه وي، بلکې خليفة المسلمين هم ورته ويل پکاردي، ځکه د اميرالمؤمنين اصطلاح وروستنى او د خليفة المسلمين اصطلاح مخکنى ده، کتاب اوسنت کى دا ډېره زياته استعمال شوى.

د طالبانو شريعت: لر به د مغرب نه راوخېژي خو دا د أهل السنة والجماعة دښمنان به خپل دې نا اهل رهبر ته د خليفه لقب ورنه کړاى شي او نه يې تر اوسه په دې نوم ياد کړى دى چې دا ښکاره دليل دى، په دې چې د دوى خپل مشر ته د أميرالمؤمنين په لقب ورکولو کې د شريعت پورې خندا او استهزاء عرض دى.

نو اوس تاسو ووايئ دا اميرالمؤمنين دى که امير الوطنيين؟!

٣: د الله شريعت:

د کتاب او سنت نه قطعي اويقيني ثابته ده چې أميرالمؤمنين به په ټولو ځمکه د إمارت او خلافت لپاره جهاد جاري ساتي او د هغې لپاره به دعوتي، فکري او جهادي دعوتونه او اعدادونه شروع کوي!!

د طالبانو شريعت:

خو د طالبانو دغه براى نام امير مؤمنين د دې برعکس د وطنيت جوړې شوې هغه پولې چې حربي کفارو جوړې کړي، او تر شا يې د وطنيت د کفري عقيدې په آساس د ډېرو کفري عقائدو او افکارو منل او عملي کول پراته دي، لکه د رب د حکم داسې يې منظور کړي، او د پولو اخوا يې ټولو کفارو ته د

امن او ساتنې د څوکیدارۍ برملاء اعلانونه وکړل چې که صرف په هم دې ناقض الاسلام یې بسنه وکړای شي، نو هم دا د اسلام له دائرې څخه د خارجېدو لپاره کافي ده، پاتې یې لا نور په سلګونو قسم عقیدوي او نور سیاسي انحرافات، کفر او ارتداد!! نو اوس تاسو ووایئ دا امیرالمؤمنین دی که امیر الوطنیین؟

۴: د الله شریعت:

أمیرالمؤمنین هغه چاته وایي، چې هغه د هر ځای مسلمان خپل مسلمان ورور وګڼي، د هر لحاظه رنګ، ژبه، قوم، وطن او مسافت هیڅ ډول وصف یې د دې وروری او خواخوږۍ ترمنځه حائل نه شي واقع کېدای، همدا د مسلمانانو د اول خلیفه محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم، او بیا له هغه وروسته د هغه د خلفاء راشدینو او وروستنیو ټولو خلفاوو سنت دي!!

: د طالبانو شریعت:

خو د دې نبوي سنت او د اجماعي فریضې بر عکس د دوی تش په نوم امیر مؤمنین د بل وطن مسلمان په مهاجر نه، بلکې د خارجي په وصف موصوفوي، د خپل او د ورور پرځای یې د پردي او بیګانه په نوم نوموي، حتی تر دې چې د امریکا په غوښتنه یې له خپلو لیکو هغه په کلونو کلونو دوی سره په یو صف کې پاتې شوي خلک هم په دې جرم وشړل چې هغوی د افغانستان نه وو.

نو اوس تاسو ووایئ!

آیا دا امیر المؤمنین دی، که امیر الوطنیین؟!

۵: د الله شریعت:

په شریعت کې د أمیرالمؤمنین دا فرض او واجب جوړېږي، چې یو مسلمان هم په جیل کې وي دا به ترهغې د ارام ساه نه اخلي ترڅو د هغې د آزادولو لپاره لښکر کشي ونه کړي او د هغه د آزادولو لپاره خپل هر قسم جهاد ته ادامه ور نکړي.

د طالبانو شریعت :

خو د دې برعکس د طالبانو أمیر المؤمنین د هاغو کفارو په ساتنه خپلو ماتحتو (کم کرایه) وو ته توصیه او تاکېدونه کوي چې یو نه، دوه نه، بلکې په زرګونو مؤمنان او مؤمناتې یې په جیلونو کې د قسما قسم تعذیبونو، نا کردیو او حتی د جنسي تېریو سره مخ کړي، چې یو له هغې څخه د چین د هریان چیت پوزي کافر دي، چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په أمت یې په شرقي ترکستان کې د داسې اشغال سره خپلې وزرې خورې کړي چې نر خو پرېږده، په تورسرو. ځوانان خوپرېږده په کمزورو بوډاګانو او

بالغ خوپرېږده په نابالغو غېر مکلّفو کوچنیو ماشومانو یې هم رحم نه راځي. همدغه چیت پوزو کمونستو چینایانو د یرغمل شوي شرقي ترکستان نوم په سینګیانګ بدل کړی، د دوی تاریخي مساجد یې په طوېلیو بدل کړل، ۴۴ میلونه یغوري مسلمانان یې ډېری قتل عام کړل، او ډېر یې اوس ورسره په ډله ایزو کمپونو کې د سختو تعذیبونو لاندې ژوند تېروي، په تور سرو یې جنسي تېري کېږي، دوی د خپل دین او اسلامي هویت پرېښودو ته په زور اړ کېږي ، خو د دې هر څه باوجود چې چین افغانستان سره بیخي هم سرحده دی په دې اړه طالب ویاند د یوې پوښتنې په ځواب کې وایي ” چې دا د إیغوریانو او چینایانو داخلي مسله ده ” بلکې په ځای د دې چې د إیغور د محکومو مسلمانانو دفاع او ساتنه وکړي، برعکس د هغوی د ناموس لوټونکو اشغالګرو قاتلو چینایانو سره یې داسې خوږه دوستي او راشه، درشه، میلمستیاوې، مجلسونه، تجارتونه او تړونونه شروع کړي چې سرې فکر کوي چې دا چینایان خو د طالب ملېشو سکه د عمه یا خاله زامن دي، او د ډېر افسوس خبره بیا داده چې کله مجاهدین د چینایي درنده ګانو څخه د إیغور د بې دفاع مسلمانانو غچ اخلي، نو طالب مرتدین یې دفاع کوي. څو ورځې وړاندې چې په کابل کې د چین د عیاشۍ او فحاشۍ په یوه هېده.

د اسلامي دولت دوه تنه سربښندویانو برید ترسره کړ او په دې اتلوال برید کې یې ګڼ چینایان ووژل او دا نایټ کلپ یې ورته د اور په لمبو وسوځاوه. الحمدلله.

دا دی هر مسلمان ننداره کړه چې کله د شرعي خلیفه أمیرالمؤمنین او خلیفة المسلمین ابوالحسین الحسینی القرشی حفظه الله ورعاه دوه ګلالي مجاهدین چې د ایمان او غیرت د اسلحې سره سره د اسبابو په اسلحه هم سنبال وو چې د کابل په زړه کې د همدې چیت پوزو د هغې کافرو په فحشاخانه باندې د خپلو ایغوري ورونو او خویندو د انتقام په اخستلو د جهاد فی سبیل الله په نیت حمله وکړه، نو د دې یادو کفارو د دفاع او ساتنې په موخه د طالبانو د دې امیرمؤمنین!! ټوپک مارانو خپلې نجسې او بې ارزښته

بوی ناکې وینې د چینایانو په دفاع کې وبهېدې. دا ځکه چې دې امیرمؤمنین (!) یې د کفارو د ساتنې ذمه او څوکیداري په غاړه اخستې ده، ځکه دا اوس ده ته عیب نه ښکاري، همدې کافرو زمونږ باعفته خویندې او مظلوم مسلمانان ورونه چین کې په قېد کې ساتلي، د سپو او خنزیرانو غوښې پرې په زور خوري او د عزتونو او عفتونو سره یې لوبې کوي، نو اوس شته څوک د عقل والا چې له دې نه بعد هم د طالب دې تش په نوم امیر المومنین ته د امیرالمؤمنین لقب او وصفت ورکړي؟! او که څوک یې ورکړي نو آیا دا به د الله په شریعت جاهل بلکې اجهل نه وي، دلته بیا دا هم په یام کې ونیسئ چې نه یوازې چین، بلکې صلیبي روسیه هم یو د هغو کفري ممالکو څخه ده چې زمونږ بې شمېره مسلمانان ورونه او مسلمانې خویندې یې زندانونو کې ساتلي، او څومره د سختېو او تعذیبونو سره یې مخ کړي، ځکه د الله د دین دښمنان د مسلمان لپاره د کفر او ردت نه بغېر بل په هېڅ شي هم نه راضي کېږي، خو د طالبانو دې امیر مؤمنین دلته د دوی ساتنه او څوکیداري فرض بللې. لږه موده وړاندې مو د شرعي خلیفه ابو الحسین الحسیني حفظه الله زمری مجاهد وکتلو چې د روسې د سفارت دیپلوموتان یې د وطني طالبانو د امیرمؤمنین د ټوپکمارانو او څوکیدارانو سره یو ځای د جهنم کندو ته ورسول باذن الله. همدا حال د پاکستان د مرتد رژیم د پوځ او حکومت هم دی، چې په درجنو مؤمنان او مؤمناتې یې په جیلونو کې د سخت وحشتناکه تعذیبونو او ربړونو لاندې د ستم په ژرنده دل کېږي، خو افسوس چې د طالبانو امیرمؤمنین یې تش پوښتنه څه چې بلکې د همدغه مؤمنانو د تعذیبونکو سره دوستي او خپلوي لري، او د دې هر څه سره دا مسکین په ډېره سپین سترګۍ بیا ځان امیر المومنین هم ګڼي، کاش! دوی د شرم په نامه څه پېژندلی.

همدې پاکستان د دوی مشر ملا محمد عمر په مرموز ډول قتل کړ، خو ترننه د طالبانو دې امیرمؤمنین د هغې پوښتنه هم ونه کړه.

استاذ یاسر حفظه الله ورعاه وفک اسره عاجلا غیر آجل ان کان حیا ورحمه الله وتقبله ان قتل او مات. دا دی ژوندی لادرکه دی، د طالبانو امیرمؤمنین په دومره واټن او مسافت د ځمکې واک او حکومت لري، حتی چې خپل اقتدار ته امارت اسلامي هم وایي خو د دې مظلوم مسلمان تش پوښتنه هم نه شي کولای.

عافیه صدیقه: چې د پاکستان مرتد او دلال او دیوس حکومت د دنیا د لالچ او د ژوند سره د محبت په وجه په محاربو کفارو خرڅه کړه، تر ننه دې امیرمؤمنین! د هغې نوم هم وانخستو. هغه لا پرېږده د وطني کرښو په دایره (افغانستان) دې ایمان لرونکي امیر د خپلې دې خاورې په لونو هم غیرت ونه کړ، چې کله د بولدک په پوله په ښکاره یې پاکستاني مرتدین عزتونو ته لاس اچوي، او د دوی زندانونه د افغانو مسلمانو خویندو او مظلومو بچو څخه ډک دي، خو په ځای د دې چې د دغه مظلومو بندیانو پوښتنه وکړي، ویاند یې پاکستان سره معمولي برخود هم بیا خیانت ګڼي.

(۴) د لال مسجد بې ګناه مسلمانان او باعفته مؤمني خویندې، چې هم دې مرتد پاکستان حکومت په امریکا خرڅې کړې، حتی چې تر ننه یې پلرونه، میندې، خاوندان او بچیان د راتګ انتظار کوي، چې رابه شي، خو لا تر اوسه یې نوم او نشان نه شته، خو د طالبانو دې امیر مؤمنین یې د لټون په یار هېڅ قدم پورته نه کړ.

۵: خوست کې چې د اختر په شپه بې ګناه مسلمان اولسونه د پاکستان د مرتد رژیم د طیارو هدف وګرځېدل، خو یو اه قدر د طالبانو د دې امیرمؤمنین له خولې څخه راونه وتو، ته به وایې چې ګویا هېڅ ژبه یې په خوله کې نشته او یایې د وړې خېټې له غمه کوم ګرم الو خوله کې نیولی او له خبرو یې ویستلی دی.

٦: د کنړ په سیمه چې د مرتد پاکستاني رژیم په څلونو ړانده توغندي راتوغوي او اولسونو ته د سر او مال درانه زیانونه اړوي، خو دا امیر مؤمنین هېڅ د دغه توغندیو لمبې او دردار او د اولسونو اه او فریاد نه اوري.

خو د دې هرڅه باوجود دا بیا امیرالمؤمنین هم شو او حکومت یې امارت اسلامي هم دی نه پوهېږو چې په دې خلکو څه شوي چې د حق او د باطل تر منځه فرق نه شي کولای. آیا اوس هم د دومره جلي او بدیهي فروقو تر منځ د حق او باطل معرفت او پېژندنه مشکله ده ؟ آیا هغه وخت نه دی راغلی چې دا خلک په دې وپوهېږي چې امیرالمؤمنین چاته وایي او شریعت کې څه فریضه او وجیبه لري؟ نو اوس تاسي ووایئ دا امیر المؤمنین دی که امیر الوطنيین؟

٦ : د الله شریعت:

په بې شمېره احادیثو کې ثابت ده چې امیر المؤمنین به قریشي وي، د قریشي په موجودګی کې به په اختیاري ډول د هېڅ انسان چې غېر قریشي وي، حق نه شته چې هغه عام امیر وټاکل شي!

د طالبانو شریعت:

خو طالبان بیا د شریعت د دغه حکم سرسخته مخالف دی او دوی په خپل دستور العمل کې د امیر لپاره کندهاریتوب شرط ګرځولی، د دوی امیر باید د کندهار وي او پښتون وي. نو اوس دې مسلمانان فکر وکړي، چې د دوی په دې لقب ملقب شوی ګوډاګی د دې اهلیت لري چې د مسلمانانو امیر شي. دغه ډول که د خلیفه او امام په نورو شروطو هم که نظر وا چول شي، نو یاد ګوډاګی په کې پاتې راغلی دی. امام بدرالدین ابن جماعه د امام او امیر المؤمنین شروط ذکر کوي فرمایي: أن يكون الإمام ذكرا، حرا، بالغا،

عاقلا، مسلما، عدلا، شجاعا، قرشيا، عالما، كافيا لما يتولاه من سياسة الأمة ومصالحها تحرير الأحكام ٥١)

نو د دې شرائطو نه همدا معلومېږي چې امیر المؤمنین به نر وي، ښځه به نه وي، اصیل به وي غلام به نه وي، بالغ به وي نابالغ به نه وي، هوښیار به وي بې عقل به نه وي، مسلمان به وي مشرک او کافربه نه وي، عادل به وي ظالم به نه وي، بهادر یعنې زړور به وي بزدله او بې زړه به نه وي، قریشي به وي غېر قریشي به نه وي، عالم به وي جاهل به نه وي، په شرعي سیاست به پوه لري او په تدبیر د اصلاح د امت به عبور او علم لري غبي او ناخبره به نه وي، نو که اوس یوکس راولږېږي او دغه شروط د طالبانو په امیر مؤمنین کې ولټوي نو هغه به په کې په دوربین کې هم ونه ګوري، ځکه که نر والی او بالاغییت خلقي صفت وي، نو د حریت نه داسې کنګال دی چې د پاکستان له اجازې پرته ټوخې هم نه کوي، له عقله خو مکمل خلاص دی، او مسلمان خو د سره دی نه، ځکه قبر پرستي، پیرپرستي، د تصوف ګنده افکار او د دې سره، سره په کې په لسګونو نور داسې نواقض موجود دي، چې د هغې په وجه یې اسلام دړې وړې شوی دی، د

په کنړ او خوست د پاکستان د بی رحمه بمبار د وحشت څو انځورونه

عدل په ضد ظلم یې عالمي نښه او شعار ګرځېدلی، بې ګناه مؤحدین یې د ننګرهار په شمول د افغانستان په جمله اطرافو کې هدف ګرځولي. ! بهادري خو یې معلومه ده چې د یو پاکستان د جواب نه دی، څه یې وربانديې ونه کړل؟
د عدم قریشیت او د شرعي سیاست په مصالحو د ناپوهۍ سره، سره د دین د ډېری برخې څخه هم ناخبره او په هغې جاهل دی.
نو مسلمانان دې په دې غور وکړي، چې داسې صفاتو والا هم د مسلمانانو کفالت کولای شي؟ نو اوس تاسې ووایئ دا امیر المؤمنین دی که امیر الوطنیین؟

۷: د الله شریعت:
د الله سبحانه وتعالی په شریعت کې د أمیرالمؤمنین او خلیفه دا واجب او فرض جوړېږي، چې هغه به د الله متعال یو حد هم د حدودو څخه نه معطل کوي!! ولو که ټوله دنیا وربانديې راجمعه شي!!
دطالبانو شریعت:
خو د دې برعکس د وطني طالبانو امیر مؤمنین د کفارو د خوشحالولو لپاره تر ننه یو شرعي حد هم نافذ نه کړ، نو آیا امیر المؤمنین هم دې ته وایي؟!! نو اوس تاسې ووایئ دا امیرالمؤمنین دی که امیر الوطنیین؟

۸: دالله شریعت:
د الله تبارک وتعالی په شریعت کې د امیرالمؤمنین دا واجب او فرض جوړېږي چې هغه به د شریعت د شعائرو عظمت، عزت او کرامت برقرار ساتي او د دې خلاف د کفر، شرک، ردت او الحاد شعائر به ختموي او د هغې د نابودۍ په پار به خپله مبارزه جاري ساتي!!
د طالبانو شریعت:
خو د دې برعکس د طالبانو شریعت کې دا دې هر چا ولیدل چې د شرک ټول مراکز محفوظ دي، بلکې دوی یې څوکیداري کوي، د سیکهانو شرکي معبدونه چې مجاهدین یې ړنګوي، خو دوی یې دوباره جوړوي امام باړې د دین شعائر ګڼي، د ختم خواجه ګان شرکي کتاب د دین اساس ګڼي، او د اسلام په نوم د بدعاتو د زده کړې مدارس او بدعي خانقاهونو او د خرافاتو د ترویج مراکز قائموي، چې د دې په قیام سره یې شرعي ټول شعائر په ځمکه سکته راپرزولي دي. نو اوس تاسې ووایئ دا امیر المؤمنین دی که امیر الوطنیین؟

۹: د الله شریعت :
د الله سبحانه وتعالی په شریعت کې د امیرالمؤمنین فرض او واجب دادي، چې هغه به نا واده کړي زناکار ته سل دورې او یو کال به یې له علاقې څخه شړي، او واده والا زاني به رجم (سنګساروي) غل نه به ښې لاس په مړوند (بند) کې پرې کوي، لواطت کار به قتل کوي، مرتد به قتل کوي، د زیات تفصیل لوستو لپاره (الردو د علی من عطل شریعة الله والحدود) کتاب ولولئ.

د طالبانو شریعت:
خو د الله د شریعت برعکس د طالبانو شریعت کې وګورئ، د دوی امیر المؤمنین د زناکار ترمنځه د واده کړي او ناواده کړي فرق هم لغوه کړ!.
د سل کوړو یو کال شړل او سنګسار ټولو نه قیصه یو ویشت ۲۱ شلاقونو ته راغله، د لواطت حد چې قتل دی، نهه دیرش دورې شوې، فقط د ارتداد حد هم دادی تاسې ولیده چې هغوی یې دوباره ځان سره په حکومت او وظیفو کې په لویو، لویو منصبونو ودرول. نو امیر المؤمنین به داسې وي؟
نو اوس تاسې ووایئ ! دا امیرالمؤمنین دی که امیر الوطنیین؟

۱۰ : دالله شریعت :
